

# د مونځ لفظي ترجمه

## او ضروري ابتدائي اسلامي احکام

### پښتو ابتدائي ديني تعليمي کورس

د ابتدائي مدرسو، مکتبونو او سکولونو د ماشومانو
هلکانو او جينکو د زده کړې د پاره ډېر آسان او مکمل کورس

زير نګراني
مولانا مفتي محمد اياز صاحب
رئيس جامعه تبليغ القرآن

ترتيب
شعبه تصنيف و تاليف
جامعه تبليغ القرآن يوسف آباد

.......ناشر.......
العلم پبليکيشنز
عبدالغنی پلازه
محلّه جنگی پشاور
۰۹۱-۲۵۹۰۳۱۵-۲۵۸۰۳۲۵

.......سٹاکسٹ.......
جامعۃ مرۃ للبنات دیر بالا خیبر پختونخوا
پاکستان
0348-9035958 - 0315-9598555

د چهاپ حقوق په حق د ناشر محفوظ دي


## ......د کتاب پيژندنه......

د کتاب نوم: د مونځ لفظي ترجمه
اوضروري ابتدائي اسلامي احکام

ترتيب: شعبه تصنيف وتاليف
جامعه تبليغ القرآن يوسف آباد پشاور

کمپوزنگ: دارالترجمه وکمپوزنگ سنټر
توحيد ټاؤر تيسری منزل محله جنگی پيښور

زيرنگرانی: بُرهان الدّين صدّيقي
فاضل جامعه دارالعلوم کراچی

کمپوزنگ رابطه: ۰۳۴۶-۹۱۶۹۰۲۳

اشاعت اول (پښتو ايډيشن): مارچ ۲۰۱۷ء
بمطابق ربيع الثانی ۱۴۳۸ھ

تعداد: ۱۱۰۰

..........................................

ناشر

# العلم پبليکيشنز

عبدالغنی پلازه محله جنگی پشاور

۰۹۱-۲۵۹۰۳۱۵-۲۵۸۰۳۲۵

# فهرست مضامين


| صفحه | مضمون | شمار |
|---|---|---|

## د دين اهم اصطلاحات

① فرض: ........................ ۱۵
② واجب: ........................ ۱۵
③ سنت: ........................ ۱۵
④ مستحب: ........................ ۱۵
⑤ مباح: ........................ ۱۵
⑥ مکروه: ........................ ۱۶
⑦ حرام: ........................ ۱۶
د دين فرائض ........................ ۱۶
د ايمان فرائض ........................ ۱۶
د اسلام فرائض ........................ ۱۷
د کلمې فرائض ........................ ۱۷

## دعقيدو بيان

د ايمان متعلق عقيده ........................ ۱۷
دالله په باره کښې دعقيدو بيان ........................ ۱۷
دکائناتو متعلق عقيدې ........................ ۱۸
دتقدير متعلق عقيده ........................ ۱۹
دبنده داختيار متعلق عقيده ........................ ۱۹

| شمار | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| | د شريعت د احکامو متعلق عقيده | ۱۹ |
| | د انبياء کرامو او د معجزو متعلق عقيدې | ۱۹ |
| | د انبياء کرامو په مينځ کښ د اَفضليت متعلق عقيده | ۲۰ |
| | د معراج متعلق عقيده | ۲۰ |
| | د آسماني کتابونو متعلق عقيده | ۲۰ |
| | د فرښتو او د پيريانو متعلق عقيده | ۲۱ |
| | د ولي، ولايت او د کرامت متعلق عقيده | ۲۱ |
| | د صحابه کرامو متعلق عقيده | ۲۲ |
| | د اهل بيتو متعلق عقيده | ۲۳ |
| | د قبر د حالاتو متعلق | ۲۳ |
| | د ايصال ثواب متعلق | ۲٤ |
| | د قيامت د علاماتو متعلق | ۲٤ |
| | د قيامت متعلق | ۲۵ |
| | د شفاعت متعلق | ۲۵ |
| | د جنت متعلق | ۲٦ |
| | د دوزخ متعلق | ۲٦ |
| | د ګناهونو متعلق | ۲٦ |
| | د چا د جنتي کيدو متعلق | ۲۷ |
| | د الله تعالی د ديدار متعلق | ۲۷ |
| | د خاتمې متعلق | ۲۷ |

| صفحه | مضمون | شمار |
|---|---|---|


د توبې متعلق .......................... ۲۷
د توبې شرائط: .......................... ۲۷
دشرك او كفر او د ايمان سره منافي بعضې خبرې .......... ۲۸
چا ته كافر وئيل يا پرې لعنت كولو متعلق .......... ۳۱


## د غلطو رسمونو او بدعاتو بيان


شركي بدعات .......................... ۳۱
د پيدائش او دسنت (ختنې) متعلق .......... ۳۲
دمانځه متعلق .......................... ۳۲
د قرآن متعلق .......................... ۳۲
د مرګ او د قبرونو متعلق .......... ۳۲
د واده ښادئ متعلق .......................... ۳٤
ځينې متفرق بدعات او غلط رسمونه .......... ۳۵
د شرعي لباس او پردې شرطونه .......... ۳۷
زنانه به دچا نه پرده کوي .......... ۳۷
زَنانه به دچا نه پرده نه کوي .......... ۳۸


## د تبليغ شپږ صفات


اول صفت كلمه طيبه .......................... ۳۸
اول جزء: ......(لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ) .......... ۳۹
دوئم جزء: .....(مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ) .......... ۳۹
دوئم صفت مونځ .......................... ٤٠

| شمار | مضمون | صفحه |
|---|---|---|
| | دریم صفت علم او ذکر | ٤١ |
| | ړومبی جزء: علم : | ٤١ |
| | دویم جزء : ذکر : | ٤٢ |
| | څلورم صفت اکرام مسلم | ٤٣ |
| | پنځم صفت اخلاص نیت | ٤٤ |
| | شپږم صفت: دعوت او تبلیغ | ٤٥ |

**فرائض واجبات او مستحبات وغیره**

| | | |
|---|---|---|
| | د استنجاء حکم | ٤٦ |
| | د استنجاء مکروهات | ٤٦ |
| | د اودس (چار اندام) فرائض | ٤٧ |
| | د اودس سنت | ٤٧ |
| | د اودس مستحبات | ٤٨ |
| | اودس ماتونکی څیزونه | ٤٨ |
| | د اودس مکروهات | ٤٨ |
| | د بې اودسه کس دپاره حرام کارونه | ٤٩ |
| | د غسل فرائض | ٤٩ |
| | د غسل سنت | ٤٩ |
| | د غسل مستحبات | ٤٩ |
| | غسل کله واجبیږی | ٥٠ |
| | د غسل مکروهات | ٥٠ |

| شمار | مضمون | صفحه |
|---|---|---|

د غسل مسنون طريقه ........................ ٥٠
د جُنبي کس دپاره حرام کارونه ........................ ٥١
مسائل حيض ونفاس ........................ ٥١
د تيمم شرائط ........................ ٥٤
تيمم به کله کوي؟ ........................ ٥٤
د تيمم ماتونکي ځيزونه ........................ ٥٤
د مانځه حکم ........................ ٥٤
د مانځه فرائض (ارکان او شرائط) ........................ ٥٤
د مانځه واجبات ........................ ٥٥
د مانځه سنت ........................ ٥٦
د مانځه مستحبات ........................ ٥٨
د مونځ ماتونکي ځيزونه ........................ ٥٩
د مانځه مکروهات ........................ ٦٠
د مانځه مستحب وختونه ........................ ٦٢
ممنوع وختونه ........................ ٦٣
مکروه وختونه ........................ ٦٣
مکروه مقامات ........................ ٦٣
د سُترې حکم ........................ ٦٤
د زنانه او نارينه په مونځ کښې فرق ........................ ٦٤
د روزانه مونځونو د رکعاتونو د تعداد نقشه ........................ ٦٥

| شمار | مضمون | صفحه |
| --- | --- | --- |


د سجده سهوې ضابطه .............................. ٦٥
د سجده تلاوت د واجب کیدو صورتونه .............................. ٦٦
د سجده تلاوت طريقه .............................. ٦٦
د جُمعې (جماعت) مونځ په چا فرض دې؟ .............................. ٦٧
هغه عُذرونه چه جماعت پرې پريخودلې شی .............................. ٦٧
د تراويحو مونځ .............................. ٦٨
د قضاء مونځونو اداکولو بيان .............................. ٦٨
د مريض د مونځ مسئلې .............................. ٦٩
د سفر مسئلې .............................. ٦٩
د سفر په دوران کښ د مونځ مسئلې .............................. ٦٩


## د جُمعې او اخترونو مونځونه


د جُمعې د مانځه صحيح کيدو شرائط .............................. ٧٠
د جُمعې شرائط .............................. ٧٠
د جُمعې د مونځ طريقه .............................. ٧٠
د اختر مونځ .............................. ٧٠
د عيد الفطر (وړوکی اختر) سنت .............................. ٧٠
تکبيرات تشريق .............................. ٧١
د اختر د مونځ طريقه .............................. ٧٢


## اذان او مونځ سره د ترجمې


اذان .............................. ٧٣

| شمار | مضمون | صفحه |
|---|---|---|


د اذان نه روستو دعا : ........................ ٧٤
مونځ سره د ترجمې ........................ ٧٥
تکبیر: ........................ ٧٥
ثنَاء ........................ ٧٥
تعوّذ ........................ ٧٥
تسمیَه ........................ ٧٥
سورة فاتحه ........................ ٧٥
سورة اخلاص ........................ ٧٦
د رکوع تسبیحات : ........................ ٧٦
د رکوع نه د اوچتیدلو په وخت کښ تسبیحات : ........................ ٧٦
د قومې تحمید ........................ ٧٧
د سجدې تسبیح ........................ ٧٧
تشهد ........................ ٧٧
درود شریف ........................ ٧٧
دعا : ........................ ٧٨
سلام : ........................ ٧٩
دعاء قنوت ........................ ٧٩
مړی ته د غسل ورکولو تفصیلی طریقه ........................ ٨١
سړی ته د کفن ورکولو طریقه ........................ ٨٣
ښځې ته د کفن ورکولو طریقه ........................ ٨٣

| شمار | مضمون | صفحه |
|---|---|---|

مړي په قبر کښې د ښخولو طريقه ........................ ۸۵

## د جنازې مونځ

د جنازې فرائض ................................ ۸٦
د جنازې سنت ................................ ۸٦
د جنازې د مونځ صحيح کيدو شرطونه ........................ ۸٦
د جنازې د مانځه طريقه : ................................ ۸٦
په احاديثو کښې دا دعا هم راغلې ده: ........................ ۸۷

## د روژې او زکوة بيان

د روژې فرائض ................................ ۸۹
د زکاة د فرض کيدو شرطونه ................................ ۸۹
صدقة الفطر (سَرسايه) ................................ ۹۰

## د حج متعلق مختصر احکام

د حج فرائض ................................ ۹۰
د حج واجبات ................................ ۹۰
د حج سنتونه ................................ ۹۰
د حج اقسام ................................ ۹۱
د حج طريقه ................................ ۹۲

## د عمرې بيان

د عمرې فرائض ................................ ۹۳
د عمرې واجبات ................................ ۹۳

| شمار | مضمون | صفحه |
|---|---|---|


د عمري سنت ........ ۹۳
د عمري طریقه ........ ۹۳


## د مختلفو حقوقو بیان


په بنده باندې دالله حقونه ........ ۹۵
د قرآن حقوق ........ ۹۵
د رسول الله ﷺ حقوق ........ ۹۵
د صحابه کرامو رضی الله عنهم حقوق ........ ۹۶
د علماؤ حقوق ........ ۹۶
د مسلمانانو حقوق ........ ۹۶
د جهاد مراتب ........ ۹۶


## د آخری لس سورتونو ترجمه


سورة الفیل ........ ۹۷
سورة قریش ........ ۹۸
سورة الماعون ........ ۹۸
سورة الکوثر ........ ۹۸
سورة الکافرون ........ ۹۹
سورة النصر ........ ۹۹
سورة اللهب ........ ۹۹
سورة الاخلاص ........ ۱۰۰
سورة الفلق ........ ۱۰۰

| صفحه | مضمون | شمار |
|---|---|---|

سورة الناس ........ ۱۰۰

## آسماء حسنی

د الله تعالی د اسماء حسنی بیان ........ ۱۰۱
د الله تعالی یو کم سل نومونه (۹۹) او دهغې ترجمه ........ ۱۰۲

## شپږ کلمې او دهغې ترجمه

اوله کلمه طیبه ........ ۱۰۷
دویمه کلمه شهادت ........ ۱۰۷
دریمه کلمه تمجید ........ ۱۰۷
څلورمه کلمه توحید ........ ۱۰۸
پنځمه کلمه استغفار ........ ۱۰۸
شپږمه کلمه ردّ د کفر ........ ۱۰۹

## ځلوینبت قرآنی دعاګانې

[چهل ربّنا] ........ ۱۱۰

## ځلوینبت مسنون دعاګانې

د سَحر دَا دُعا وایئ ........ ۱۱۹
چه نمر راوخیژی نو دا دعا وایئ ........ ۱۱۹
ماښام دا دعا وایئ ........ ۱۱۹
د سحر او ماښام یوه خاص دعا ........ ۱۱۹
د اوده کیدو په وخت د لوستلو څیزونه ........ ۱۲۰
یا دا دعا وایه: ........ ۱۲۰
او د اوده کیدو په وخت دا هم وایه ........ ۱۲۰

| شمار | مضمون | صفحه |
|---|---|---|

کله چه د خوب نه راپاسې نو دا دعا وايه ........................ ۱۲۱
کله چه بيت الخلاء ته ځې نو دَ داخليدو نه مخکښ دادعا اووايه ........................................................ ۱۲۱
کله چه دَ بيت الخلاء نه راوځې نو دا دعا اووايه................ ۱۲۱
چه اودس شروع کړې نو دا دعا وايه......................... ۱۲۱
کله چه اودس اوکړې نو دا دُعا وايه.......................... ۱۲۱
کله چه جمات کښ داخل شې نو دا دعا وايه .................. ۱۲۲
په مسجد کښ د کيناستو په وخت دا وايه.................. ۱۲۲
کله چه دَ جمات نه راوځې نو دا دعا وايه .................... ۱۲۲
کله چه اذان آواز واورې.................................... ۱۲۲
د اذان ختميدو نه پس درود اووايه اودا دعا اووايه ........... ۱۲۳
د فرض مونځ د سلام اړولو نه پس درې ځله استغفرالله اووايه او دا دعا اووايه ..................................... ۱۲۳
او بيا دا دعا اووايه .................................... ۱۲۳
د وتر کولو نه پس درې ځل دا وايه: ...................... ۱۲٤
د سحر او د ماښام د مونځ نه پس دعا ....................... ۱۲٤
کله چه دَ کور نه راوځې نو دا دعا وايه........................ ۱۲٤
کور ته چه داخل شې نو دا دعا وايه......................... ۱۲٤
کله چه بازار ته ځې نودا دعا وايه ......................... ۱۲۵
کله چه خوراک شروع کړې نودا دعا وايه...................... ۱۲۵

| شمار | مضمون | صفحه |
|---|---|---|


که په شروع کښې بسم الله هیره شي نو په یاد را تلو دا وایه.... ۱۲۵
کله چه خوراك اوخوري نودا وایه ........................ ۱۲۶
د پَیو څکلو نه پس دا دعاء وایه........................... ۱۲۶
چه دچا سره دعوت اوخورې نو دا وایه ...................... ۱۲۶
کله چه د میزبان د کورنه روان شې نو دا دعا وایه ............ ۱۲۶
کله چه روژه ماته کړې نودا وایه ............................ ۱۲۷
د روژه ماتي نه پس دا وایه ................................ ۱۲۷
که دچا سره روژه ماتې اوکړې نو دا دعا وایه.................. ۱۲۷
کله چه جامې واغوندې نو دا دعا وایه ...................... ۱۲۷
کله چه نوې جامې واغوندې نوداوایه........................ ۱۲۷
کله چه په شیشه کښې خپل مخ اووینې نودا وایه ............ ۱۲۸
د وادهٔ زلمی ته دَاسې مبارکی ورکوه .......................... ۱۲۸
په شب قدر کښې داسې دعا غواړه .......................... ۱۲۸
کله چه نوې میاشت اووینې نودا وایه......................... ۱۲۸
کوم مسلمان چه خوشحاله اووینې نو دا دعا وایه .............۱۲۹
کله چه د یو مریض تپوس ته لاړ شې نو هغه ته دا تسلی ورکوه ...۱۲۹
چه په سورلۍ باندې کینې نو دا وایه.........................۱۲۹
کله چه یو منزل (ریلوې استیشن یا د ګاډی په سټاپ) باندې
کوز شې نو دا دعا وایه ..................................۱۲۹
کله چه قبرستان ته لاړ شې نودا وایه ..........................۱۲۹
**چهل حدیث** ................................۱۳۰

بسم الله الرحمٰن الرحيم

## د دين اهم اصطلاحات

① **فرض:** فرض هغه کار دې کوم چه بغير د شرعي عذر نه پريښودې نشي. داسې کار ونه مثلاً مونځ بغير د څه شرعي وجې نه پريښودونکې د سخت عذاب مستحق او فاسق جوړيږي، او کچرې څوک د فرضونه انکار اوکړي نو هغه کافر دې.

② **واجب:** واجب کارونه هم بغير د عُذره پريښودونکې د عذاب مستحق دې، البته څوک چه ددې نه انکار اوکړي نو هغه فاسق دې، کافر نه دې، د واجب ټولونه آسان مثال دماسخوتن درې رکعته وتر دی.

③ **سنت:** سنت هغه کارونه دی کوم چه حضور ﷺ يا صحابه کرامو رضي الله عنهم کړي دی. ددې دوه قسمونه دی. يوسنت مؤکده د کوم دکولو چه تاکيد دې او بغير د عُذره پريښودونکې او د پريښودلو عادت جوړونکې ګناه ګار او فاسق دې. دويم قسم سنت غير مؤکده دې چه د هغې په کولو باندې ثواب ملاويږي او په پريښودلو کښې ئې ګناه نشته.

④ **مستحب:** مستحب هغه کارونه دی چه دهغې په کولو باندې ثواب ملاويږي او په نه کولوئې هيڅ قسم ګناه نيشته، دې ته نفل هم وائی.

⑤ **مباح:** هغه کار چه دهغې په کولو يا نه کولو کښې بنده ته اختيار وی او په کولو او نه کولو کښې ئې هيڅ ثواب او عذاب نه وی.

**٦ مکروه:** د مکروه معنی ده ناخوښه. د مکروه کارونو هم دوه قسمونه دی یو مکروه تنزیهی چه دهغې په نه کولو کښې ثواب وی او په کولو کښې ئې ګناه نه وی. دویم قسم مکروه تحریمی دې چه دهغې بغیر عذره کونکې ګناه ګار او فاسق دې.

**٧ حرام:** حرام هغه کارونه دی چه دهغې کونکې فاسق او د سخت عذاب مستحق دې لکه شراب څکل وغیره. حرام کارونه حرام نه ګڼړونکې کافر دې.

## د دین فرائض

د دین فرائضو نه مراد د دین اسلام نچوړ، خلاصه، فلسفه او مکمل نظامِ حیات دې. څرنګه چه د دین احکام مونځ، روژه، حج وغیره کښې فرائض وی همداغه شان پوره دین کښې هم دا لاندینی شپږ فرائض دی: ١ عقائد ٢ عبادات ٣ اخلاق ۴ معاملات ۵ معاشرت ٦ سیاست او ریاست (اسلامی حکومت)

## د ایمان فرائض

د ایمان لفظی معنی یقین او تصدیق دې او د شریعت په اصطلاح کښې د لاندینو څیزونو په ژبې سره اقرار کول او په زړه سره په هغې باندې یقین لرلو ته ایمان وائی. د ایمان فرائضو نه مراد دا لاندینی شپږ څیزونه دی:

١ په الله ایمان ٢ په فرشتو ایمان ٣ په آسمانی کتابونو ایمان ۴ په رسولانو ایمان ۵ په آخرت ایمان ٦ په تقدیر ایمان.

## د اسلام فرائض

د اسلام فرائض یعنی ارکانِ اسلام پنځه دی او د بعضو عالمانو په نزد شپږ دی: ❶ کلمه طیبه ❷ مونځ ❸ روژه ❹ حج ❺ زکوة ❻ بعضو عالمانو شپږم جهاد ښودلی دی.

## د کلمې فرائض

د کلمې اووه (۷) فرض دی: ❶ کلمه وئیل ❷ الفاظ ئې صحیح کول ❸ د کلمې معنی (ترجمه) زده کول ❹ د کلمې تشریح او وضاحت باندې پوهیدل ❺ په کلمې عقیده لرل ❻ په دې باندې عمل کول ❼ بیا ددې دعوت کول.

## دعقیدو بیان

## د ایمان متعلق عقیده

ایمان هله صحیح اومعتبردې چه کله انسان الله تعالی اودهغه رسول په ټولو خبرو کښې ریښتنې اوګڼړی او وې منی دالله اودرسول په یو خبره کښې شک کول، هغه دروغ ګڼړل، په هغې کښې عیب راویستل یاهغې پورې ټوقې کول دې ټولوخبروسره ایمان ختمیږی.

## دالله په باره کښې دعقیدو بیان

❶ — الله یو دې دچامحتاج نه دې ټول دهغه محتاج دی نه دهغه نه څوک پیدادی اونه هغه دچانه پیدا دې نه دهغه ښځه شته اونه دهغه څوک برابر.

❷ — هم هغه الله دهرڅیزپیدا کونکې دې هغه همیشه ژوندې دې دهمیشه نه دې اوهمیشه به وی۔

۳ – هرڅيز باندې دهغه قدرت دې هيڅ يوڅيزدهغه دعلم نه بهرنه دې .هغه هرڅه ويني.هرڅه اوري کلام کوي ليکن دهغه کلام زمونږ دکلام په شان نه دې دهغه دپاره د کمال او خدايئ ټول صفتونه ثابت دی اوهغه دهرعيب نه پاک دې.

۴ – – هيڅ يوڅيزدهغه مثل نيشته دې نه په ذات کښې اونه په صفاتو کښې هغه دټولونه تنها دې.

دهغه صفات دهميشه نه دی اوهميشه به وی دهغه يوصفت هم ختميدونکې نه دې قرآن اوحديث کښې چه چرته دالله دپاره دمخلوق په شان صفوته ذکرشوې دی لکه دالله تعالی لاس وغيره نودهغې حقيقت هم الله ته معلوم دې بنديګانو ته دداسې څيزونو حقيقت معلومولونه بغيرپه هغې باندې د ايمان راوړلو حکم دې دغه شان صفتونه دالله تعالی دپاره دهغه دشان مطابق ثابت دی دهغې کيفيت اونوعيت چاته معلوم نه دې.

۵ – هيڅ يوڅيزپه الله باندې لازم اوضروري نه دې هغه چې څه هم کوي دا دهغه مهرباني اوفضل دې.

## د کائناتو متعلق عقيدې

د کائناتونه مخکښې بالکل هيڅ يوڅيزهم نه وو بيا د الله تعالی په پيدا کولو سره وجود ته راغې هم هغه دا ټول کائنات سنبهال کړې دې په دې کائناتو کښې چې څه هم کيږي هم دهغه په حکم کيږي دهغه د حکم نه بغيريوه ذره هم نه شی خوزيدې.

## دتقدیرمتعلق عقیده

په دنیاکښ چه څه ښه اوبدکیږی داټول الله تعالی ددې دکیدونه مخکښ پیژنی اودخپل علم مطابق ئې پیداکوی هم دیته تقدیر وائی دبدوڅیزونوپه پیداکولوکښ ډیرحکمتونه دی چه هرڅوک ئې نه پیژنی.

## دبنده داختیارمتعلق عقیده

بندګانوته الله تعالی پوهه اواراده (اختیار) ورکړې دې چه په هغې سره دګناه او دثواب کارپه خپل اخیتارکوی دګناه په کارالله تعالی خفا کیږی اودثواب په کارخوشحالیږی.

## دشریعت داحکامومتعلق عقیده

الله تعالی خپلوبندګانوته دیو داسې کارحکم نه کوی چه دهغوی د وس نه بهروی اوهغوې ئې نه شی کولې

## دانبیاءکرامو اودمعجزو متعلق عقیدې

الله تعالی ډیرانبیاء کرام بندګانو ته سمه لارښودلو دپاره رالیږلې دی هغه ټول انسانان وو دنبوت نه مخکښې او روستو دټولو (وړو اوغټو) ګناهونو نه پاک وو، دهغوی د رښتنوالی دښکاره کولو دپاره الله تعالی دهغوی په لاس څه ناشنااو نوې نوې داسې خبرې ښکاره کړې چه هغه عام خلق نشی کولې داسې خبروته معجزه وائی انبیاء کرامو کښ اولنې نبی آدم عَلَیهِ السَّلَام او دټولو نه آخری نبی سیدنا محمد صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّم دې او نور انبیاء کرام عَلَیهِمُ السَّلَام ددوی په مینځ مینځ کښ راغلې دی دانبیاء کرامو صحیح تعداد الله تعالی چاته نه دې ښودلې بس

هم دا عقیده ساتل ضروري دي چه څومره انبیاء کرام الله تعالی رالیږلي دي په هغوی زمونږ ایمان دې چه کوم مونږ ته معلوم دي په هغوی باندې هم او چه کوم مونږ ته نه دي معلوم په هغوی باندې هم.

## دانبیاء کرامو په مینځ کښ د افضلیت متعلق عقیده

په انبیاء کرامو کښ دځنو درجه په ځنو باندې اوچته ده د ټولو نه لویه مرتبه زمونږ د پیغمبر محمد ﷺ ده دهغوی نه پس بل پیغمبر دنیا ته نشي راتلې، څوک چه دهغوی نه پس دنبوت دعوی کوی هغه دروغژن دې لکه مرزا غلام احمد قادیانی خبیث، محمد ﷺ دقیامت پورې راتلونکې د ټولو انسانانو او پیریانو پیغمبر دې.

## د معراج متعلق عقیده

زمونږ پیغمبر محمد ﷺ الله تعالی د بیدارئ په حالت کښ د جسم او بدن سره د مکې مکرمې نه دبیت المقدس پورې او بیا د هلته نه د اوو آسمانونو او چرته پورې چه دالله تعالی خوښه وه هلته ئې بوتلو او بیائې د شپې شپې واپس مکې ته راورسولو دیته معراج او اسراء وائی.

## دآسمانی کتابونو متعلق عقیده

الله تعالی ډیر کتابونه دجبرئیل په ذریعه مختلفو پیغمبرانو باندې رالیږلي دي چه دهغې په ذریعه هغوی خپلو امتونو ته ددین خبرې او احکام ښودل. په هغې کښ څلور ډیر مشهور دي تورات په موسی علیه السلام باندې نازل شوې وو انجیل په عیسی علیه السلام باندې نازل شو زبور په داؤد علیه السلام باندې نازل شوې وو قرآن مجید زمونږ په پیغمبر

محمد ﷺ باندې نازل شوې دې. قرآن د الله تعالی آخري کتاب دې چه ددې نه پس به بل کتاب دآسمان نه نۀ راځي . قيامته پورې به دقرآن حکم چليږي په نورو کتابونو کښ ګمراهه خلقو ډيرې تبديلۍ کړيدي ليکن دقرآن دحفاظت وعده الله تعالی پخپله کړې ده په دې کښ هيڅ څوک هيڅ قسم تبديلي نه شي کولې.

## د فرښتو او د پيريانو متعلق عقيده

الله تعالی يو مخلوق د نورنه پيدا کړې دې او زمونږ د نظرونو نه ئې پټ ساتلې دې هغې ته فرښتې وائي فرښتې دالله تعالی دطرف نه د کائناتو د تدبير متعلق په ډيرو کارونو باندې مامور اومکلف دي هغوی کله هم دالله تعالی ديوحکم مخالفت نه کوي الله تعالی چه ورته کوم کارحواله کړې دې په هغې کښ مشغوله دي څلورېکښ ډير مشهوردي جبرائيل، اسرافيل، عزرائيل(ملک الموت) اوميکائيل عليهم السلام .

دغه رنګ الله تعالی يوبل مخلوق داورنه پيداکړې دې چه هغه هم مونږ ته نه ښکاري هغې ته پيريان وائي په پيريانوکښ نيکان بدان هرقسم پيريان شته دهغوی اولاد هم کيږي. په دوی کښ مشهور او ډيرشرارتي ابليس يعني شيطان دې.

## د ولي ، ولايت او د کرامت متعلق عقيده

يو مسلمان چه کله ښۀ ډيرعبادت کوي اود ګناهونونه ځان بچ کوي د دنيا سره محبت نه ساتي اود نبي ﷺ تابعداري کوي نوهغه دالله تعالی دوست اومحبوب جوړيږي داسې کس ته ولي وئيلې شي .کله کله الله تعالی دداسې کس په لاس باندې څه ناآشناخبرې ښکاره کوي

چه هغه عام خلق نه شي کولې او په هغې کښې ددې ولې هم هیڅ قسم اختیار نه وي دغې خبرو ته کرامت وائي.

ولي که هرڅومره لوې درجې ته اورسیږي نو د پیغمبر یا د صحابي برابر کیدای نه شي.

یوکس که هرڅومره الله تعالی ته محبوب شي نوڅو پورې چې د انسان هوش او حواس کارکوي ترهغې پورې به دشریعت د احکاماتو پابند وي هیڅ یوعبادت ورته نۀ معاف کیږي اونۀ ورته د ګناه یو کار جائز کیدای شي.

دچا عمل چې دشریعت نه خلاف وي هغه دالله تعالی دوست نشي جوړیدلې که دیوداسې کس په لاس څه ناآشنا کاراوشي چه عام خلق ئې نشي کولې نوهغه یا جادو دې اویانفساني اوشیطاني چال دې دداسې کس باره کښ دولي اودبزرګ کیدلوعقیده ساتل نه دي پکار.

اولیاؤ کرامو اوبزرګانو ته بعضې د راز خبرې په خوب یاپه بیدارئ کښ معلومیږي چه هغې ته کشف او اِلهام وائي که هغه دشریعت مطابق وي نوقبول به وي اوکه دشریعت مطابق نه وي نوقبول به نه وي.

## د صحابه کرامو متعلق عقیده

زمونږ پیغمبر محمد ﷺ چه کومو خلقو لیدلې دې اوایمان ئې پرې راوړې دې اودایمان په حالت کښ وفات شوې دې هغوی ته صحابهٔ کرام وائي دا ډیر لوې خلق دي ددوی فضلیت اومقام دقرآن وسنت نه ثابت دې ددوی سره محبت اوښه ګمان پرې ساتل او د دوی ښه تذکره کول ضروري دي صحابه کرامو کښ دټولو نه افضل څلور کسان

دی ابوبکر صدیق ،عمرفاروق ،عثمان غنی ،علی المرتضی رضی الله عنهم .

د یو صحابی مرتبه دومره اوچته ده چه دیو لوې نه لوئې ولی هم د یو ادنی درجې صحابی ته نشی رسیدلې.

## د اهل بیتومتعلق عقیده

د رسول الله ﷺ اولاد اوبیبیانو(امهات المؤمنین) ته اهل بیت (درسول الله ﷺ کورنۍ) وئیلې کیږی داټول دعزت اودتعظیم لائق دی په اولادکښ فاطمه رضی الله عنها، اوپه بیبیانوکښ خدیجه اوعائشه رضی الله عنهما دټولونه لوې درجې والا دی.

## د قبردحالاتو متعلق

کله چه یوکس مړشی که دفن کړې شی نو ددفن کولونه پس اوکه دفن نه کړې شې نوچه په کوم حالت کښ وی دهغه خواله دوه فرښتې رائحی (یو ته منکر اوبل ته نکیر وائی) او داتپوس ترې کوی چه :

ستا رب څوک وو؟ د سیدنا محمد ﷺ باره کښ څه وائې؟ ستا دین څه دې؟

نوکه مړې ایماندار وی نوصحیح جوابونه ورکوی بیا هلته دهغه دپاره هرقسم آرام اوسکون وی دجنت طرفته کهړکئ ورته کولاؤ شی چه یخې یخې هواګانې او خوشبویانې ترې رائحی او هغه په مزو کښ اوده وی.

اوکه چرته مړې ایماندارنه وی نوهغه ددې خبرو په جواب کښ وائی چه ماته هیڅ پته نشته بیا دقیامته پورې هغه په ډیره سختته اوعذاب کښ وی.

بعضې مړي الله تعالی ددې امتحان نه محفوظ ساتي داتولې خبرې په مړی تیرېږی خو موږ (دنیاوالا) ئې نه وینو لکه چې اودهٔ سړې په خوب کښ هرڅه وینی اوخوا کښ ورسره ویخ کس ته هیڅ پته نه لګی.

دمرګ نه پس هرسحر او ماښام مړی ته دهغه ټهکانه ښودلې کیږی جنتی ته جنت ښودلې شی او زیرې ورکولې شی او دوزخی ته دوزخ ښودلې شی چه دهغه حسرت او افسوس پرې نور هم زیاتیږی.

## د ایصال ثواب متعلق

دعا صدقه او خیرات اوهرقسم عبادت فرض،واجب وی یا نفل یو مړی (یا ژوندی) ته دثواب رسولو په نیت اوکړې شی نوهغه ته ئې ثواب رسی. اوډیره فائده ورته کیږی.

## دقیامت د علاماتومتعلق

الله تعالی او رسول الله عليه السلام چې دقیامت څومره نخښې ښودلې دې هغه ضرور پوره کیدونکې دی .قیامت ته نزدې به مهدی رضی الله عنهم ظاهرشی او دنیاکښ به ښه دانصاف حکومت اوکړی بیابه دجال لعین او خبیث راوځی چه ډیر فساد به خورکړی دهغه دقتل دپاره به عیسی عليه السلام د اسمان نه راکوز شی او هغه به قتل کړی .

یاجوج ماجوج ډیرفسادی خلق دی په ټوله زمکه به خوارهٔ شی اوفساد به خور کړی بیا به د الله تعالی په حکم سره هلاک شی.

یو عجیبه ځناور به دزمکې نه راوځی او د خلقو سره به خبرې کوی نمربه دمغرب نه راوخیژی.

قرآن مجید به اوچت کړې شي . لږ وروځو کښ به ټول مسلمانان مړشي
او دنیابه د کافرانو نه ډکه شي، دارنګ نورې ډیر خبرې به راپیښې شي.

## دقیامت متعلق

چه کله ټولې نخښې پوره شي نوقیامت به شروع شي اسرافیل به دالله
تعالی په حکم سره شپیلۍ اووهی شپیلۍ (صور) دښکرپه شکل یو
څیزدې.

د شپیلۍ وهلو سره به زمکه او آسمان اوشلیږی اوټوټې ټوټې به شي.
او څوک چه مړشوی دی دهغوی روحونه به بې هوشه شي البته الله
تعالی چې چالره اوغواړی هغوی به محفوظ وی څه موده به دغه حالت
تیرشي.

## د شفاعت متعلق

بیا چه کله الله تعالی اوغواړی چې ټول مخلوق دوباره پیدا کړی نوپه
دویم ځل به شپیلۍ اووهلې شي چه هغې سره به ټول مخلوق بیا
پیداشي . مړی به ژوندی شي او د حشرمیدان کښ به راجمع کړې
شي اوهلته به دتکلیفونودوجې نه باربار پیغمبرانو ته ورځی چه
سفارش اوکړی .

آخر کښ به زمونږ پیغمبرمحمد ﷺ سفارش اوکړی تلې به اودرولې
شي نیک عملونه به اوتللې شي دهغې حساب به اوشي . بعضې خلق
به د حساب نه بغیرجنت ته لاړ شي نیکانو ته به خپله اعمال نامه په
ښی لاس کښ اوبدانوته په ګس لاس کښ ورکړې شي زمونږ پیغمبربه
خپل امت باندې دحوض کوثراوبه وُڅکوی چه هغه به دپیونه زیاتې

سپينې وي او د شهدو نه به زياتې خوږې وي په پل صراط به تيريدل وي نيکان خلق به په هغې تيرشي او جنت ته به لاړشي اوبدان خلق به جهنم ته پريوځي.

## دجنت متعلق

جنت پيدا کړې شوې دې اوپه هغې کښې د هر قسم د ارام اوسکون اسباب او نعمتونه موجود دی جنتيانو باندې به هيڅ قسم ويره او غم نه وی هلته به هميشه اوسيږی. نه به دهغې نه اووځی او نۀ به پرې مرګ راځی .

## د دوزخ متعلق

دوزخ هم پيدا کړې شوې دې په هغې کښ ماران لړمان او هر قسم عذاب دې په دوزخيانوکښ چې په چا کښې لږغوندې هم ايمان وی. هغوی به دخپلو ګناهونو سزا خوړلونه پس دپيغمبرانو او د نيکانو خلقو په سفارش سره د دوزخ نه راويستلې شی اوجنت ته به لاړشی اوچه کوم کافراومشرک خلق دی هغوی به پکښ هميشه وی مرګ به پرې هم نه راځی .

## دګناهونو متعلق

دالله تعالی اختياردې چه په وړه ګناه هم سزا ورکړی ياغټه ګناه هم په خپله مهربانی سره معاف کړی اوبالکل سزاپرې ورنکړی.
دشرک اوکفرګناه الله تعالی هيڅکله هم نه معاف کوی ددې نه علاوه نورګناهونه چاته چه اوغواړی نوپه خپلې مهربانۍ به ئې معاف کړی.

## دڅا دجنتي کېدو متعلق

دکومو کسانو باره کښې چه الله تعالی او رسول الله ﷺ دجنتي کېدو خبر ورکړې دې دهغوی نه سیوا دبل چاباره کښې مونږ یقیني جنتي کېدو حکم نشو لګولې البته دنخښو او د علاماتو دوجې نه ښه ګمان کول او د الله د رحمت امید ساتل ضروري دې.

## دالله تعالی د دیدار متعلق

په جنت کښې به دټولو نه لوې نعمت دالله تعالی دیدار وی چه جنتیانو ته به نصیب کېږی چه دهغې دلذت (خوند) په مقابله کښې به دجنت ټول نعمتونه بې حیثیت معلوم شی.
په دنیا کښې دبیدارئ په حالت کښې الله تعالی نه چالیدلې دې او نه ئې څوک لیدلې شی.

## دخاتمې متعلق

ټول عمر کښې که یوکس څومره هم نیک وی لیکن په کوم حالت چې دانسان خاتمه اوشی هم دهغې مطابق ورته ښه یا بدله بدله ملاویږی.

## د توبې متعلق

انسان چه په عمر (ژوند) کښې کله هم توبه اوباسی یا یُو کافر مسلمان شی نوالله ئې قبلوی البته دمرګ په وخت کښې دساه وتلو او د عذاب فرښتو لره لیدلو په وخت نه توبه قبلیږی او نه ایمان.

## د توبې شرائط:

دتوبې دقبولیت څلور شرطونه دی.

❶ دګناه پریخودل ❷ په کړې ګناه باندې پیښمانه کېدل.
❸ آئنده دګناه نه کولو کلکه ارادا او عزم کول.
❹ که دغه ګناه سره ئې دبندګانو حقونه ضائع کړې وی نو هغه ادا کول یا په هغوی باندې ئې معاف کول.

## دشرک اوکفر اودایمان سره منافی بعضې خبرې

❶ دقرآن اوسنت واضح مطلب نه منل اودهغې دخپل خواهش او مطلب مطابق دځان نه مطلب راویستل الحاد اوبې دینی ده.
❷ ګناه ته جائز وئیلو سره ایمان ختمیږی. ❸ ګناه چه څومره هم لوې وی هغه بدګڼلو سره ایمان نۀ ختمیږی البته کمزورې کیږی. ❹ د الله تعالی د عذاب اوګرفت نه بې ویرې کیدل او دهغه د رحمت نه نا امیده کیدل کفر دې . ❺ دچا نه دغیب خبرې تپوسل اوپه هغې باندې یقین کول کفر دې. ❻ انبیاء کرام او اولیاء بزرګان د دنیا په کارونوکښ متصرف اختیارمند او حاضر او ناظر ګڼړل شرک اوکفر دې
❼ د رسول الله ﷺ د بشریت نه انکارکول کفر دې. ❽ دغیب خبرې دالله تعالی نه سیوا هیڅ چاته نه دی معلوم، البته انبیاء کراموته د وحی اوبزرګانوته دکشف اوالهام په ذریعې بعضې خبرې معلومیږی مګرهغې ته علم غیب نه وائی علم غیب هغې ته وائی چه د یو ذریعې نه بغیرحاصل شی او داصفت صرف دالله تعالی دې. ❾ ددین د علم سپکوالې اوحق پرستو عالمانوته صرف په دې وجه کنځل کول او بد رد وئیل چه هغوی ددین دعلم والا دی کفردې. ❿ د شریعت داحکامو مخالفت او دالله په نافرمانئ باندې فخر کول کفر دې .

۱۱ د عبادت او تعظیم په نیت د قبر ښکلول کفر دي او که د عبادت نیت نه وی نو ګناه کبیره ده . ۱۲ یُو وړوکی نه وړوکې سنت بد ګڼړل یا ورپورې ټوقې کول کفر دې. ۱۳ کفر خوښول د کفر خبرې ښې ګڼړل. ۱۴ په چاباندې د کفر خبره کول. ۱۵ د څه وجې نه په خپل ایمان پښیمانه کیدل یعنی که مسلمان نه وې نو فلانې کار به مې شوې وو. ۱۶ د اولاد وغیره د چا د مرګ په غم کښ داسې خبرې کول چه الله تعالی بس هیله دا مړ کولو ، د مرګ د پاره صرف بس هم دې وو. الله تعالی لره داسې نه وو کول پکار. داسې ظلم خوځوک نه کوی. ۱۷ د الله او د رسول یو حکم بد ګڼړل. په هغې کښ عیب راویستل. ۱۸ د یو نبی یا د یو فرښتې تحقیر (بې عزتی، سپکوالې) کول. په هغوی باندې څه عیب لګول. دا ټولې خبرې د کفر دی. ۱۹ د یُو پیر یا بزرګ باره کښ داعقیده ساتل چه زمونږ د ټولو حالاتو هغه ته هروخت پته وی. ۲۰ چاته دلرې نه (غائبانه) آواز کول چه یا رسول الله ﷺ ! یا علی، یا فاطمه، یا حسین، یا بابا، یا شیخ عبدالقادر! وغیره او د ا عقیده ساتل چه هغه ته پته لګی. ۲۱ چا لره د نفعې او د نقصان اختیارمند ګڼړل. ۲۲ د چا نه خپل مرادونه او حاجتونه (روزی او اولاد) غائبانه غوښتل. ۲۳ د چا د نوم روژه نیول. ۲۴ چاته سجده کول. ۲۵ بل چاته سر خکته کول. ۲۶ د چا په نوم څاروی پریخودل. ۲۷ د چا په نوم نذر او منخته منل. ۲۸ د چا په نوم ذبح کول. ۲۹ د چا د قبر یا د کورنه طواف کول. ۳۰ د قبرونو جهنډې کانړی وغیره د شفاء د پاره په

ځان راښکل ۳۱ د بچې د ژوندای پاتې کیدلو دپاره ټوټکې کول
۳۲ د بل یو ځائې (قبر یا مزار وغیره) د کعبې برابر تعظیم کول
۳۳ دچا په نوم د بچې غوږ پوزه سورې کول ۳۴ بچې ته د
ژوندای پاتې کیدلو دپاره والئ اچول ۳۵ دشفا دپاره غاړې ته
مزې اچول ۳۶ د عالَم په کاروبار کښې د ستورو تاثیر ګنړل.
۳۷ شرکیه نومونه ایښودل مثلاً عبدالنبی، عبدالعلی، عبدالرسول، علی
بخش، حسین بخش، داتا ګنج بخش وغیره ۳۸ د بزرګ د نوم
وظیفه کول لکه یَا شَیخ عبدالقادر شیئاً لِلّٰہِ ۳۹ د الله تعالی
دحکم په مقابله کښې دبل چا خبره یا رسم مقدام ګنړل ۴۰ داسې
وئیل چه که الله تعالی او رسول الله اوغواړی نو فلانکې کاربه اوشی
۴۱ د الله تعالی نه سوا د بل چا په نوم قسم کول لکه د نیکه په نوم
قسم، په کعبه، په قبله، په ګرم دکان، په ګرم نغری، د پلار په سر
۴۲ دجاندار شی تصویر یا د بزرګ تصویر د برکت دپاره ساتل دا
ټولې خبرې دشرک او کفر خبرې دی.

## چاته کافر وئیل یا پرې لعنت کولو متعلق

چاته کافروئیل یا دچانوم اغستل او لعنت پرې وئیل لویه ګناه ده البته داسې وئیلې شی چه په ظالمانو دې لعنت وی په دروغژنو باندې دې لعنت وی وغیره.

دا رنګ الله تعالی او رسول الله ﷺ چه په چا لعنت کړې وی یا دهغه د کافرکیدلو خبرئې ورکړې وی نوهغه ته کافر یا ملعون وئیل ګناه نه ده.

## د غلطو رسمونو او بدعاتو بیان

### شرکی بدعات

چاته ټیټیدل او ښپې ئې ښکلول یا د ملاقات په وخت کښ د چا مخې ته ټیټیدل.

څاروې ذبح کول او دهغې غوښه په چا تقسیمول (د صدقې په نیت) ښۀ خبره ده مګر د صدقې دپاره صرف څاروی ضروری ګڼړل یا په څاروؤ کښ یوخاص رنګ (مثلاً تور یا بل رنګ) کښ څه اضافی اثرات ګڼړل. په دین کښ د ځان نه اضافه کول دی چه بدعت او ګناه ده د بزرګانو په قبرونو او مزرانو باندې څاروی ذبح کول بدعت او ناجائزه دی.

که څاروې د بزرګانو د قربت حاصلولو په نیت ذبح کړی نو دا شرک دې او هغه څاروې حرام شو او دهغې غوښه خوړل جائز نه دی.

## دپیدائش اودسنت (ختنې) متعلق

دهلکانو دسنت په موقع د دعوت اهتمام کول تقریب منعقدکول او هغه ضروري او واجب ګنړل، نه کونکو ته پیغور ورکول، او د داسې دعوتونو دپاره که وس نه وی قرض اخستل ،دا ټول کارونه ناجائز دی. سالګره مناوهل داسلامی تعلیماتو حصه نه ده داپریخودل ضروری دی.

## دمانځه متعلق

د سنتو او نفلونو نه پس په اجتماعی (ټول په یوځائې) هیئت سره دعا غوښتل دسنت نه خلاف او بدعت دې.

## دقرآن متعلق

دایصال ثواب یادیو بل جائز مقصد دپاره انفرادی (ځانله ځانله ) دقرآن تلاوت جائز او مستحب کار دې خوددې دپاره اجتماع ثابت نه ده. خاصکر زنانه ددې مقصد دپاره دخپلو کورونو نه وتل نورهم قبیح کار دې.

## دمرګ اودقبرونو متعلق

دمړی په سینه په تندی یاپه کفن باندې کلمه شهادت لیکل جائزنه دی ځکه چه په دېکښ دکلمې طیبې دبې عزتې خطره ده.

ځنوعلاقوکښ دحیله اسقاط په نوم باندې چې کوم عمل کیږی په قرآن اوسنت او فقه کښ ددې هیڅ ثبوت نیشته لهذا داګناه اوبدعت دې.

دجنازې مونځ نه پس (په جمع سره) دعا غوښتل او د جنازې سره (دتلو په وخت کښ) په زوره ذکر کول د رسول الله ﷺ ، صحابه کرامو، تابعينو نه ثابت نه دی لهذا بدعت او ناجائز دی.

د دفن کولو نه پس دمړی دپاره د مغفرت دعاغوښتل جائزدی مګر درې ځله دعا غوښتل او دا لازم ګنړل ثابت نه دی بدعت دې.

ددفن کولو نه پس انفرادی دعا ثابت ده اجتماعی ثابت نه ده لهذا اجتماعی دعا سنت یا حکم شرعی ګنړل بدعت دې دارنګ په دې باندې التزام او اصرار کول یا نه کونکو باندې ملامت کول جائزنه دی .

د مړی والو د طرف نه په وړومبی یا په دریمه ورځ یا دهفتې نه پس چی کوم دعوت کول نن صبا کیږی دابدعت دې په شریعت کښ خو ګاونډیانو او لرې رشته دارو ته داحکم دې چه دمړی والو دپاره د خوراک انتظام اوکړی.

دجنازې په څادر باندې دقرآن آیتونو لیکلو کښ چونکه د بې ادبۍ خطره ده دې وجه نه صحیح نه دی بلکه داچې دا دسنت نه هم خلاف دی.

د مړی کوروالو دځان دپاره په ړومبې ورځ څه پخلې کول هم څه منع نه دی بلکه جائزدی.

نفل صدقه خیرات یا د قرآن کریم تلاوت یا ذکر اذکار وغیره ثواب مړی ته رسول ثابت اوصحیح دی لیکن د ایصال ثواب دپاره د اجتماع (ګنړې) اهتمام کول اودخپل طرف نه پکښ نور قیدونه او

رسمونه کول دارنګ دمړي والو د طرف نه دعوت کول. دا ټول بدعت اوناجائز دی.
په قبرونوباندې داسې څادر اچول چه آيتونه پرې ليکلې شوې دی.
جائزنه دی ځکه چه په دې دقرآن د آيتونو بې عزتی کيږی .
په قبرونو باندې څادرې اوګلونه وغيره اچول د رسول الله ﷺ ، صحابه کرامو اوتابعينونه ثابت نه دی لهذا دا کارونه ثواب ګنړل بدعت دې دارنګه په دې کښې اسراف او فضول خرچی هم ده چه حرام ده.
## د واده ښادئ متعلق
بعضې خلق په محرم کښې وادهٔ نه کوی او نور د خوشحالئ پروګرامونه کول هم بدګڼړی او دې مياشتې ته دغم مياشت وائی داخبره صحيح نه ده په دې کښې واده وغيره کول جائز دی.
په وادهٔ کښې نکريزې اوړل ،سهرې اچول ،د پيوګوټ وغيره ټول د هندوانو رسمونه دی پريخودل ئې ضروری دی.
شرعی اعتبار سره د جهيز حقيقت صرف دومره دې چه يوپلار دخپل وس مطابق خپلې لورته د رخصتئ په وخت څه تحفه ورکړی مګرنن صباچې پکښې کوم رسمونه رواجونه کيږی دا پريخودل پکار دی.
دجينئ ولی دهغې پلار،نيکهٔ يا ورور دې که دمخکښې نه جينئ خپله رضامندی ښکاره کړې وه نود نکاح په وخت کښې د ناوې خواله دهغې د رضا معلومولو دپاره څوک ليږل ضروری نه دی.اوکه غيرمحرم اوليږی نو دا خو نوره دبې شرمئ اوبې حيايئ خبره ده .

## ځينې متفرق بدعات او غلط رسمونه

❶ د اذان او اقامت په وخت د رسول الله ﷺ نوم مبارک اوريدو سره خپلې ګوتې ښکلول بدعت اوناجائز دی. ❷ بعضې خلق د صفرې مياشت په اخری بدھ (چارشنبې) په دې عقيده څه ښه خوراک يا مټهائی وغيره تقسيموی چه (ګنی) په دې ورځ رسول الله ﷺ د بيمارئ نه ښه شوې وو او غسل ئې کړې وو. دا خبره صحيح نه ده بلکه دا رسم ګناه ده . ❸ بعضې خلق د هرې مياشتې په يوولسم تاريخ باندې دخوراک پخلی انتظام کوی او دشيخ عبدالقادر جيلانی په نوم ئې ايصال ثواب کوی که دا دهغه دنوم نذار وی نو حرام دی. ❹ اوکه صرف ايصال ثواب مقصد وی نو حرام نه دی مګر يوولسم تاريخ متعين کول اوالتزام ئې کول بدعت اوګناه ده . ❺ شب براءت کښ اختر مناوول اوخوراک پخلې کول او دومره اهتمام ئې کول چې بالکل ئې نه پريږدی نو دا بدعت دې . ❻ په قبرونو ميلې کول ❼ ډيوې پرې بلول ❽ څادرونه پرې خورول ❾ پاخه قبرونه جوړول ❿ قبرونه ښکلول ⓫ کانړی خاورې ئې په ځان مږل ⓬ طواف او سجدې ورته کول ⓭ قبرونو طرف ته مونځ کول ⓮ پيسې، ميوې، حلوه وغيره پرې ايخودل ⓯ جنډې وغيره اودرول ⓰ جنډو ته ئې سلام کول ⓱ د محرم په مياشت کښې خاوند سره نه يوځائې کيدل ⓲ نکريزې نه لګول ⓳ زينت نه کول ⓴ نوې کپړې نه اغوستل ㉑ د مړی په اوله ورځ، يا په دريمه، څلويښتمه خيرات

کول او ضروري ئې ګڼړل ۲۲ د مړی کلیزه کول ۲۳ په کویږدن، سنتونو کښې د هنداوانو رسمونه کول ۲۴ د اصیلو زنانو خرڅول ۲۵ د سلام دپاره خکته کیدل ۲۶ د لیور، د ترور ځوی، د تره ځوی ، د ماما ځوی په مخکښې بې احتیاطه ګرځیدل یا د بل نامحرم په مخکښې بې پردې ګرځیدل ۲۷ د ګودرنه منګی راوړلو سره سندارې وئیل ۲۸ ډمان وغیره ګډول او ورته کتل او خوشحالیدل او انعام ورکول ۲۹ په نسب فخر کول ۳۰ بزرګ ته د ځان نسبت د نجات دپاره کول ۳۱ جائزه پیشه ذلیله ګڼړل ۳۲ د حد نه زیات دچا تعریفونه کول ۳۳ د واده هلک په پالنګ خیژول ۳۴ هغه ته د شریعت خلاف جامې اچول ۳۵ سهرې اچول ۳۶ په واده کښې هلکانو ته نکریزې لګول ۳۷ ډزې کول ۳۸ فضول آرائشونه کول ۳۹ د واده هلک د ښځو مینځ ته دننه کول ۴۰ د ځوانو جینکو وغیره ورته مخامخ راتلل او ټوقې مسخرې ورسره کول ۴۱ په غم کښې په چغو ژړل ۴۲ مخ او سینه وهل ۴۳ سَندارې وئیل او ژړل ۴۴ د مړی د استعمال لوښی ماتول ۴۵ د مړی ټولې جامې وینځل ۴۶ په مخصوص تاریخونو بیا غم تازه کول ۴۷ عُرسونه کول ۴۸ په محرّم کښې تورې جامې اغوستل او ځان وهل ۴۹ په قبرونو اوبه اچول ۵۰ د سفر نه چه راشې نو غیر محرم سړی ته غاړه ورکول ۵۱ د صفرې میاشته سپیره ګڼړل ۵۲ په دیارلسمه صفره ګونګرې پخول ۵۳ په آخری چارشنبه چوری کول ۵۴ ماشومانو

ته ګونګرو یا نور د شرنګ شرونګ څیزونه اچول ۵۵ د مړی د تختې حلوه پخول . ۵۶ د بعضو عوامو دا خیال وی چې دچا پیر نه وی دهغه پیر شیطان وی دا غلطه خبره ده. ۵۷ عوامو کښې مشهوره ده چه کوم ځائې مړی ته غسل و رکړې شی هلته درې ورځو پورې ډیوه رنړا مه بلوئ دا هم غلطه خبره ده.

داسې نور ډیر رسمونه دی چه مسلمانانو ته ترینه ځان ساتل پکاردی. الله تعالی دې مونږ ته په سنت باندې د عمل کولو توفیق راکړی.

## د شرعی لباس او پردې شرطونه:

۱ جامه به داسې وی چه د سر نه خپو پورې ټول بدن پټ وی. ۲ دومره نرئ به نه وی چه دننه بدن ترې ښکاری ۳ دومره لنډ او تنګ به نه وی چې د پټو اندامونو عکاسی کوی ۴ د ښځو جامې به د سړو سره مشابه نه وی ۵ د کافرو او فاسقو ښځو سره به مشابه نه وی ۶ د فخر او غرور او د تکبر دپاره به نه وی ۷ د زنانو جامه او برقعه به داسې خائسته او دلکش نه وی چې دخلقو نظر ځان ته راکاږی ۸ دخپل وَس مناسب به وی.

## زنا نه به دچا نه پرده کوی

۱ دَتره ځوې ۲ د ترور ځوې (دپلار خورئې) ۳ دَ ماما ځوې ۴ دَ ترور ځوې (دمور خورئې) ۵ لیور ۶ مشر لیور ۷ اوښې (دښځې دخور خاوند) ۸ دَ خاوند اوښې (دخاوند د خور خاوند ۹ د ترور خاوند (دپلار د خور خاوند) ۱۰ د ترور خاوند (د مور دخور خاوند)

⑪ دَخاوند تره ⑫ دَخاوند ماما ⑬ دَخاوند (د پلار د طرفه) د ترور خاوند ⑭ دَ خاوند (دمور د طرفه) د ترور خاوند ⑮ دَخاوند وُراره ⑯ دَ خاوند خورئې.

## زَنا نه به دچا نه پرده نه کوی

① پلار نه به پرده نه کوی ② رور نه به پرده نه کوی ③ ځوی نه به پرده نه کوی ④ د بنزو نه به پرده نه کوی ⑤ د پلار د طرفه نیکه ور نیکه نه به پرده نه کوی ⑥ دغسې د مور د طرفه نیکه ور نیکه نه به پرده نه کوی ⑦ نمَسو کړوَسو نه به پرده نه کوی ⑧ ماما نه به پرده نه کوی ⑨ تره نه به پرده نه کوی ⑩ سخر نه او د سخر د پلار نیکه نه به پرده نه کوی ⑪ وراره نه به پرده نه کوی ⑫ خورئې یعنی د خور ځوی نه به پرده نه کوی ⑬ خاوند نه به پرده نه کوی ⑭ د لور د خاوند نه یعنی ځوم نه به پرده نه کوی ⑮ رضاعی رور وغیره یعنی د رضاعت د وجې هغه څه حرامیږی کوم چه د نسب د وجې حرام دی.

## د تبلیغ شپږ صفات

## اول صفت کلمه طیبه

(لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ)

ددې کلمې معنٰی داده چه نشته دې لائق د عبادت سوا د الله تعالی نه او محمد رسول الله ﷺ د الله تعالی رسول دې.

مونږ له په دغه کلمه باندې محنت کول دی، او ددې الفاظ درست کول دی، او خپل یقین ددې کلمې موافق درست کول دی، ددې کلمې دوه جز دی،

## اول جزء: (لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ)

ددې مطلب دادې چې دالله پاک نه سوا دعبادت لائق نشته، په دنیا کښې چې څومره څیزونه دی، هغه هیڅ نۀ شی کولې او الله پاک بغیر د مخلوق نه هرڅۀ کولې شی، په خپل قدرت او خپل حکم سره، مخلوق په هر کار کښې الله پاک ته محتاج دې.

## دوئم جزء:..... مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ

محمد ﷺ دالله بنده او رسول دې، ددې مطلب دا دې، چې دحضور ﷺ په نوراني او مبارک سنتو باندې عمل کولو د دواړو جهانو د کامیابئ یقین زمونږ په زړونو کښې راشي، او حضور ﷺ د الله پاک ریښتني بنده اورسول دې، او ددۀ خبره منل ضروري او فرض اوګڼړو، او ددۀ حکم تسلیم کړو، حضور ﷺ چې کومې د غیب خبرې خودلې دی په دې ایمان راؤړو، او ددې یقین ساتل، او حضور ﷺ چې د ژوند تیرولو کومه طریقه خودلې ده، په هغې باندې پوره عمل اوکړو.

## د کلمې فضیلت:

دحضور ﷺ دارشاد مفهوم دې، چې د کوم سړي آخری کلمه (لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ) شی، ضرور به جنت ته ځی،

(رواه مسلم: باب الدلیل علي ان من مات: ۱/۴۱)

بل ځائې ارشاد دې، چې تاسو خپل ایمان تازه کوئ، صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم عرض اوکړو، چې یا رسول الله ﷺ ایمان څنګه تازه کوو؟ حضور ﷺ ارشاد اوفرمائیلو، چې تاسو ډیر ډیر (لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ) وائی. (رواه احمدو الطبراني: ۲/ ۴۱۵)

دحضور پاک ﷺ دارشاد مفهوم دې ، چې (لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ) الله پاک ته په رسیدلو کښې هیڅ څیز منع کونکې نهٔ شته،

(رواه ترمذي :باب الدعا :رقم: ۳۵۹)

## دوئم صفت مونځ

کلمه طیبه داقرار کولو نه پس دالله پاک احکام پوره کول فرض دی، ،په دې احکامو کښې اهم ترین حکم مونځ دې،په هر بالغ نارینه او زنانه په شپه او ورځ کښې پنځه وخته مونځونه فرض دی، کوم خلق چې د کلمه طیبه داقرار نه پس د مونځ پابندای کوی،هغه دغه اقرار په خپل عمل سره پوره کوی کوم ئی چه په کلمه طیبه کښې وئیلی وو،او کوم خلق چې د مونځ پابندای نهٔ کوی،هغوی دا اقرار په خپل عمل کښې دروغ ښائی.

## د مونځ فضیلت:

❶ الله تعالی فرمائی چه مونځ د ناروا او بدلو کارونو نه منع کول کوی.

❷ الله تعالی فرمائی چه زما مؤمنانو بندګانو ته اووایه چه سم مونځ کوی.

❸ نبي علیه السلام فرمائي چه الله تعالی فرمائي چه زما بنده سره وعده ده چه هغه په خپل وخت مونځ کوي نو زه به عذاب نه ورکوم او جنت ته به ئې بغیر حساب داخلوم.

❹ په یو حدیث شریف کښې د حضور ﷺ دارشاد مفهوم دې، چې کوم سړې د مونځ اهتمام کوي،نو الله پاک په پنځو طریقو دهغهٔ اعزاز او اکرام فرمائي:

❶ د رزق تنګي ترې لرې کوي ❷ عذاب قبر ترې لرې کوي، ❸اعمال نامه به په ښي لاس ورکوي، ❹ په پل صراط به دبجلۍ پشان تیر شي، ❺ بغیر دحساب کتاب به په جنت کښې داخل کړې شي.

## دریم صفت علم او ذکر

په دې صفت کښې دوه جزء دي : یو علم او بل ذکر

## ړومبې جزء: علم:

ددین دومره علم زده کول،یعنی حاصلول په هر مسلمان نراو ښځه باندې فرض دې ، چې په هغې دده ۲۴ ګهنټې ژوندا (زندګی) دالله پاک دحکمونو او رسول پاک ﷺ د سنتو مطابق تیریږی، کله چې بنده دالله پاک د غلامی اقرار اوکړی،او دالله پاک په حکمونو باندې د تلوپخه اراده اوکړی،نو د بنده په ذمه ضروری دی، چې د الله پاک حکمونه معلوم کړی،او دعبادت طریقې اولټوی، مثلا،مونځ، روژه، زکوة، او حج وغیره، ،او په خپل مینځ کښې معاملات معلوم کړی، دې نه علاوه،لین دین،اوسیدل،خوړل،څکل،پاڅیدل کیناستل،

اودهٔ کیدل، پاڅیدل، جائز ناجائز، حرام، حلال، پاک او ناپاک، ددې ټولو څیزونو احکام معلوم کړې، چې په دې عمل نهٔ کولو سره غټ غټ ګناهونه کیدای شی، دا معلوم کړې او عمل پرې اوکړی.

## دعلم فضیلت:

١ الله تعالی فرمائی چه عالم او جاهل برابر نه دی.

٢ حضور پاک دارشاد مفهوم دې، چې د عالم خوب د جاهل د عبادت نه افضل دې، (رواه کنز العمال : ١٠/ ٤٢١)

٣ نبی کریم ﷺ فرمائی یو فقیه عالم دین په شیطان باندې د زرو عابدانو نه (په ګمراه کولو کښې) ګران دې.

٤ نبی علیه السلام فرمائی چاته چه الله تعالی د خیر اراده اوکړی نو د دین پوهه ورکړی.

٥ نبی علیه السلام فرمائی یا عالم شه، یا طالب شه، یا د دین اوریدونکې شه یا محبت کونکې شه او پنځم مه جوړیږه ګینی هلاک به شې او هغه دا چه ته علم او اهل علم سره بُغض اولرې.

## دویم جزء: ذکر:

دذکر مقصد دادې، چې مونږ هروخت الله پاک یاد اوساتو، دې دپاره چې زمونږ زړهٔ د ګناه نه پاک پاتې شی، او په زړونو کښې د الله پاک خوف پیدا شی، فرمائی چه علم لاره ده او ذکر د تلو رنړائی ده، ولې چې بغیر د رنړانه انسان په یو لار تلې نهٔ شی.

## د ذکر فضیلت:

❶ الله تعالی فرمائی خبردار د الله تعالی په ذکر زړونو ته اطمینان حاصلیږی او الله تعالی فرمائی ما ډیر ډیر یادوئ.

❷ الله تعالی فرمائی تاسو ما یاد کړئ زه به تاسو یاد کړم.

❸ د قرآن ارشاد دې چه د الله تعالی ذکر سحر او ماښام کوئ.

❹ حدیث قدسی کښې دی چه زه دخپل بنده سره یم کله چه دې زما ذکر کوی او په ما شونډې خوزَوی.

## ځلورم صفت اکرام مسلم

د اکرام مسلم مقصد دا دې، چې مونږ د خپلو مسلمانانو رونړو خویندو اکرام اوکړو، او دهغوئ د حقوقو د ادا کولو فکر اوکړو، او دوئ ته د تکلیف ورکولو نه ډډه اوکړو، د بزګان دین اکرام اوکړو، په ماشومانو شفقت اوکړو، او د علماء کرام او بزرګانو عزت اوکړو،

## د دې فضیلت:

❶ د رسول پاک ﷺ د ارشاد مفهوم دې، چې هغه سړې زمونږ نه نهٔ دې چې هغه د مشرانو عزت نهٔ کوی، او په وړو شفقت نه کوی، او د علماء دین قدر نهٔ کوی.

❷ حضور ﷺ اوفرمائل، چې دمسلمان په مسلمان پنځهٔ حقونه دی،

❶ چې کله ورسره ملاقات کوی اول سلام دِ کوی،

❷ چې کله درته دعوت درکړی دعوت ئې قبلوه،

❸ چې کله پرنجې اوکړی نو یرحمک الله وایه

❹ چې کله بیمار شي دهغهٔ بیمار پرسی کول

❺ چې کله مړ شي دهغهٔ په جنازه کښې شریکیدل ،یعنی دجنازې مونځ کول،(تفسیر ابن کثیر: ۱۱۶/۳)

## پنځم صفت اخلاص نیت

پنځم صفت اخلاص نیت دې،دې ته تصحیح نیت هم وائی،ددې مطلب دادې چې نیک کار کولو په وخت دا اراده کول چې ددې کار په باره کښې ماته کوم حکم شوې دې په دې باندې زهٔ عمل اوکړم صرف دالله پاک درضا کولو دپاره،او ددې کار نه ددنیا نفع مقصود نه وی،بلکه دآخرت د زندګئ د خائسته کولو دپاره کوی،

## ددې فضیلت:

❶ د نبی پاک ﷺ ارشاد دې:

انما الاعمال بالنیات۔(رواه البخاری: ۱/۲)

ترجمه:بې شکه داعمالو دارو مدار په نیت باندې دې.

❷ د حضور پاک ﷺ د ارشاد مفهوم دې: الله پاک ستاسو جسمونو او صورتونو ته نه ګوری بلکې ستاسو اعمالو او زړونو ته ګوری،

❸ یو سړی نبی ﷺ نه تپوس وکړو چه ایمان څه ته وائی نبی ﷺ ورته اوفرمائیل: ایمان اخلاص ته وائی.

❹ نبی ﷺ فرمائی پټه صدقه د الله تعالی غصه ختموی.

## شپږم صفت: دعوت او تبلیغ

د دعوت او تبلیغ مقصد دادې چه په خپله هم ښه کار کوو او نور خلق به هم ښه کارونو ته رابلو، د الله پاک احکامات خلقو ته رسول د انبیاء کرامو علیہم السلام کار وؤ، د ختم نبوت نه پس دا ذمه داري په دې اُمت اچولې شوې ده، د رسول پاک صلی اللہ علیہ وسلم اتباع او د غلامی کولو دا حق دې، چې هر امتي دهغوي پشان هرشئ د دین په خاطر قربان کړي، او د الله پاک بندګان دالله طرف ته په راغوښتو کښې دحضور دقدم سره قدم ملاؤ کړي، لکه څنګه چې حضور صلی اللہ علیہ وسلم په دې لار کښې تکلیفونه پورته کړي وو دا رنګې امت هم په دې کارکښې د حضور صلی اللہ علیہ وسلم اتباع فرض اوګڼړي،

## ددې فضیلت:

❶ په قرآن مجید کښې الله پاک ددې اُمت تعریف کړې دې:

كُنْتُمْ خَيرَ اُمَّةٍ اُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُوْنَ بِالله (سورة النساء الاية : ١١١)

ترجمه: تاسو بهترین امت یئ تاسو د خلقو د نفعې دپاره پیدا کړې شوي یئ، تاسو د ښو خبرو حکم کویئ، او دبدو خبرو نه منع کول کوي، تاسو په الله تعالی ایمان راوړئ،

❷ دحضور پاک صلی اللہ علیہ وسلم دارشاد مفهوم دې، چې چا د خپل دین د حفاظت دپاره د خپلې علاقې نه بلې علاقې ته هجرت اوکړو، اګرچې دهٔ یو لویشت سفر کړې وي، نو دهٔ جنت ځان دپاره لازم کړو، هغه به دحضرت ابراهیم علیہ السلام او دحضرت محمد صلی اللہ علیہ وسلم ملګرې جوړېږي، ځکه

چې حضرت ابراهیم علیه السلام د عراق نه شام ته هجرت کړې وؤ، او محمد صلی الله علیه وسلم د مکې نه مدینې منورې ته هجرت کړې وؤ.

③ په بخاری شریف کښې دی چې رسول پاک صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چې دالله په لار کښې دچا په خپو ګرد پریوتو، د جهنم اور ده ته نۀ شی رسیدې.

④ نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل اې علی رضی الله عنهم ! که چرته ستا په وجه الله تعالی یوسړی ته هدایت وکړی نو دا ستا دپاره د سرو اوښانو نه غوره ده.

⑤ لُقمان حکیم خپل ځوی ته وئیلې وو اې بچوړیه ! مونځ کوه او د نیکو کارونو حکم کوه د بدو کارونو نه منع کوه او صبر کوه په هغه څه چه تاته رسیږی یقیناً دا د غټو کارونو نه دی.

## فرائض واجبات او مستحبات

## د استنجاء حکم

١ که نجاست د مخرج نه تجاوز وکړی او د یو درهم نه زیات شی نو استنجاء (اوبه استعمالول) فرض دی ٢ د یو درهم برابر وی نو واجب دی ٣ او که نجاست د مخرج نه اوریدلې نه وی نو استنجاء سنت ده ٤ او که صرف تشې متیازې کړی وی نو مستحب ده ٥ او که صرف هوا وتلې وی نو بیا استنجاء کول بدعت دې.

## د استنجاء مکروهات

١ د قضاء حاجت دوران کښې خبرې کول بغیر د عُذر نه ٢ قبلې طرف ته مخ یا شا کول ٣ نو ر یا سپوږمۍ ته مخ کول ٤ ولاړې اوبه چه لړې وی هغې کښې متیازې کول ٥ غسل خانه کښې متیازې کول ٦ داسې ځائې کښې استنجاء کول چه خلقو ته ښکاری ٧ بغیر د عُذر نه په خی لاس استنجاء کول ٨ بغیر د عُذر نه په ولاړه متیازې کول

## د اودس (څلور اندام) فرائض

د اودس (څلور اندام) فرائض څلور دي:

❶ مخ وينځل يعنى د تندى د ويښتونه د زنې لاندې حصې پورې او د دواړو غوږونو نرمې حصې پورې يوځل مخ وينځل.

❷ دواړه لاسونه سره د څنګلو وينځل.

❸ د سَر د څلورمې حصې مسح کول.

❹ دواړه پښې د ګيټو سره وينځل.

## د اودس سنت

د اودس سنت ديارلس دي:

❶ نيت کول. ❷ بسم الله وئيل. ❸ په شروع کښې دواړه لاسونه مړوندا پورې وينځل. ❹ مسواک کول. ❺ درې ځله خله وينځل.

❻ درې ځله په پوزه کښې اوبه اچول او پوزه سونړ کول

❼ د برېرې خلال کول ❽ د لاسونو او پښو د ګوتو خلال کول.

❾ هر اندام درې درې ځله وينځل. ❿ يوځل د ټول سر مسح کول يعنى لوندا لاس په سر راښکل ⓫ د دواړو غوږونو مسح کول

⓬ په ترتيب سره اندامونه وينځل، ⓭ پې درپې (پرله پسې) داسې وينځل چه اول اندام اوچ شوې نه وى، او دويم اندام وينځلې شى.

## د اودس مستحبات

د اودس مستحبات پنځه ۵ دي:

۱ دَ ښي طرف نه اودس شروع کول (بعضې عالمانو دا په سنتو کښې شمیرلی دی) اوهم دا قوي دی. ۲ د څټ مسح کول. ۳ د اودس کار په خپله کول د بل نه مدد نه اخستل. ۴ اودس ته کیناستلو کښې قبلې طرف ته مخ کول. ۵ په پاک او اوچت ځائې کیناستل.

## اودس ماتونکی څیزونه

په کومو څیزونو سره چې اودس ماتیږي هغې ته نواقض د اودس وائی او دا اته ۸ دي: ۱ ډکې یا تشې متیازې کول، یا ددې لارونه د بل څه څیز وتل. ۲ د روستو طرف نه هوا وتل. ۳ د بدن د څه ځائې نه وینه یا پیپ (نو) وتل او دخپل ځائې نه بهیدل. ۴ په ډکه خله قې کول. ۵ په ملاسته یا په ډډه لګولو سره اوده کیدل. ۶ د بیمارئ یا په بل څه وجه بې هوشه کیدل. ۷ مجنون یا لیونې کیدل. ۸ په مانځه کښې په قهقه (آواز) سره خندل.

## د اودس مکروهات

په اودس کښې لاندینی څیزونه مکروه دي: ۱ په ناپاک ځائې کښې اودس کول. ۲ په ښي لاس سره پوزه صفا کول. ۳ د اودس کولو په وخت کښې دنیاوی خبرې کول. ۴ د سنت نه خلاف اودس کول. ۵ اوبو کښې اسراف کول ۶ د ضرورت نه کمې اوبه استعمالول ۷ په مخ په زوره اوبه اچول ۸ د سر مسح درې ځل کول.

## د بې اودسه کس د پاره حرام کارونه

١ بغير د غلاف وغيره نه قرآن راخستل

٢ د قرآن آيتونه ليکل ٣ مونځ کول.

## د غسل فرائض

د غسل درې فرائض دي:

١ په خوله کښې اوبه اچول. ٢ پوزه کښې اوبه اچول،

٣ په ټول بدن يوځل اوبه بهيول،

## د غسل سنت

د غسل پنځه سنتونه دي:

١ دواړه لاسونه مړوندونو پورې وينځل. ٢ استنجا کول او په کوم ځائې چه پليتي لګيدلې وي هغه وينځل. ٣ د ناپاکئ لرې کولو نيت کول. ٤ (د لامبلو نه مخکې) اودس کول. ٥ په ټول بدن باندې درې ځله اوبه بهيول.

## د غسل مستحبات

١ په داسې ځائې کښې غسل کول چې څوک نه وې او يا لنګ وهل دغسل د پاره ٢ ښي طرف او بيا ګس طرف وينځل. ٣ ښي د سر ښي طرف خلالول او بيا ګس طرف. ٤ په ټول بدن باندې په داسې ترتيب سره اوبه اړول چې ښي په سر بيا په ښي اوږه او بيا په ګسه اوږه اوبه واؤړې ٥ چې کوم ځيزونه په اوداسه کښې مستحب

دې هغه په غسل کښې هم مستحب دې مګر قبلې ته د غسل په حالت کښې مخ کول، دعاء وئیل او دغسل نه پاتې شوې اوبه په ولاړه بانډې څکل نه دی مستحب. ❻ د غسل دوران کښې خبرې نه کول.

## غسل کله واجبیږی

❶ چه کافر اسلام راوړی او جنابت کښې وی نو غسل پرې واجب دې ❷ کله چه یو کس د (۱۵) کالو شی او احتلام ورته اوشی نو غسل پرې واجب دې (۳) مسلمان مړی ته غسل ورکول فرض کفائی دی.

## د غسل مکروهات

❶ قبلې ته مخ کول ❷ بې ضرورته خبرې کول ❸ اوبه د حد نه زیاتې یا د حد نه کمې استعمالول.

## د غسل مسنون طریقه

د غسل مسنون طریقه داده چه غسل کونکی لره پکار دی چه اول دواړه لاسونه د مړوَنډونو پورې اووینځی بیا استنجا اوکړی او د بدن په کوم ځائې چه نجاست وی هغه دِ پاک کړی، بیا دِ اودس اوکړی، بیا دِ درې ځله په سَر بانډې اوبه واچوی او په لاس سره دې اومږی، بیا دِ درې ځله په خئ اوګه بانډې او درې ځله په ګسه اوګه بانډې په داسې طریقه اوبه واچوی چه په ټول بدن بانډې اوبهیږی او لوند شی.

## د جُنبی کس دپاره حرام کارونه

❶ بغیر د غلاف وغیره نه قرآن لاس کښې راخستل ❷ جُمات ته تلل ❸ مونځ کول ❹ د قرآن تلاوت کول ❺ د بیت الله طواف کول ❻ د قرآن آیت لیکل.

## مسائل حیض و نفاس

## زنانو ته راتلونکی وینه او دهغې اقسام اوتعریفات

کومه وینه چه دزنانو سره خاص وی دهغې درې اقسام دی:

① **حیض:** زنانه ته چه هره میاشت دمخکښې د طرفه بغیر دبیمارئی نه کومه معمول والا (د عادت) وینه راځی هغې ته حیض وائي. په عُرف عام کښې دی ته ماهواری (Menses) یا ایام (بیماری) هم وائی.

② **نفاس:** دماشوم کیداو نه پس دمخکښې د طرفه چه کومه وینه راځی هغې ته نفاس وائي.

③ **استحاضه:** استحاضه هغه وینه ده چه دمخکښې د طرفه راځي مګر دا وینه دځۀ بیمارئ د وجې نه راځي.

## دحیض ابتدائی او انتهائی عمر

دحیض راتلو کم نه کم عمر نهه (۹) کاله دی، ددې نه مخکښې چه څومره وینه راځی هغه به هیڅ صورت کښې هم حیض نه شمارلې کیږي بلکه دا به استحاضه وي.

اوزیات نه زیات عمر پنځۀ پنځوس (۵۵) کاله دي، عام طور باندې زنانو ته په دې عمر کښې وینه نۀ راځي لیکن راتګ ممکن دی.

## د حيض کمه او اکثره موده

دحيض کمه نه کمه موده درې ورځې اودرې شپې ده، کۀ چرته وينه دديې نه يوه لمحه هم کمه راغله او ددې نه پس پنځلس (۱۵) ورځې مکمل د صفايئ هم تيرې شوې نو د احيض نۀ بلکه استحا ضه ده.

## د استحاضه بعضې صورتونه

۱ کومه وينه چه درې ورځو او درې شپونه کمه وي.

۲ کومه وينه چه د لسو ورځو او لسو شپونه زياته شي.

۳ د نهو (۹) کالونه کمه عمره ماشومې ته چه راشي.

۴ دپنځۀ پنځوس (۵۵) کالو يا ددې نه زيات عمر والا زنانه ته چه وينه راشی.

۵ په نفاس کښې څلويښت ورځونه واوړي.

## د نفاس بعضې ضروري مسئلې

څنګه چه تاسو اولوستل چه دماشوم پيدا کيدو نه پس دمخکښې طرفه چه کومه وينه راځي هغې ته "نفاس" وائي.

د نفاس زيات نه زيات موده څلويښت ورځې دي اودکمه هيڅ حد نۀ دي معلومه اګر کۀ چاته يوه ګنټه وينه راشی او بنده شی نو دا هم نفاس دې.

کۀ چرته وينه دڅلويښت ورځو نه واوړي اواولنی ماشوم وی نو څلويښت ورځې دنفاس دي اوکۀ ددې نه زيات شی نو استحا ضه ده، پس دڅلويښت ورځونه پس دې اولامبی او مونځونه دی شروع کړي.

کۀ چرته يو ماشوم پيدا کيداو نه پس بالکل وينه په نظر رانشي بيا هم دماشوم پيدا کيداو نه پس لامبل واجب دي.

## د حائضې او نفاسه دپاره حرام کارونه

حالت حيض ونفاس کښې لاندينی کارونه ممنوع دي:

❶ مونځ کول. (او د پاکيداو نه پس پرې قضاء راوړل هم نشته)

❷ روژې ساتل. (خود پاکيداو نه پس به ئې قضاء راوړې)

❸ اعتکاف کول. ❹ مسجد کښې داخليدل. ❺ دبيت الله طواف کول. ❻ دقرآن مجيد تلاوت کول. (خو کۀ چرته دتلاوت مقصد ئې نه وی بلکه دعاء، ثناء يا د کار شروع کيداو په اراده سره ئې اووائی نوصحيح ده) ❼ قرآن مجيد له لاس اوړل. ❽ جماع کول.

## دحائضې او نفاسې دپاره د حج او عمرې احکام

❶ په حالت د حيض اونفاس کښې زنانه دحج تمام ارکان کولې شي البته دبيت الله طواف کول حالت حيض کښې جائز نۀ دي ځکه چې طواف دپاره پاکی شرط ده،بله دا چه طواف په جومات کښې وي اوحائضه لره جومات ته داخليدل جائز نۀ دی.

❷ حج يا عمره دپاره چه څۀ رنګه پاکه زنانه دپاره احرام تړل لازم دی دغه رنګ حيض واله زنانه دپاره هم لازم دی بغير داحرام ميقات نه تيريدل جائز نۀ دی،بيا حرم ته رسيداو نه پس دغه رنګ په حالت احرام کښې به وی تر څو چه حيض نه پاکه شوی نۀ وی، دپاکيداو نه پس خپل تمام ارکان دې پوره کړي.

## د تیمم شرائط

د تیمّم درې شرطونه دی: ❶ نیت کول ❷ په ټول مخ باندې لاس راښکل چه هیڅ حصه باقی پاتې نه شی. ❸ دوارړه لاسونه د څنګلو سره مسح کول چه ذرّه برابر ځائې باقی پاتې نه شی.

## تیمم به کله کوې؟

❶ انسان په داسې ځائې کښې وی چه هلته د اوبو ملاویدلو هیڅ اُمید نه وی ❷ اوبه وی خو د دشمن یا درندهٔ خطره وی ❸ اوبه وی خو دومره لږې وی چه تندې ختمولو او پخلی کولو دپاره ترې نه پاتې کیږی ❹ اوبه وی خو د بیمارئ خطره وی یعنی په څه طریقه هم د اوبو په استعمال قادر نه وی.

## د تیمم ماتونکی څیزونه

❶ تیمم په هغه څیزونو باندې ماتیږی په کوم چه اودس ماتیږی ❷ اوبه موندل ❸ د اوبو په استعمال باندې قدرت راتلل.

## د مانځه حکم

هر عاقل بالغ مسلمان نارینه او زنانه باندې پنځه وخته مونځ فرض دې د مونځ منکر کافر او بغیر د عذر نه پریښودونکې فاسق دې که چرته مونځ پاتې شی نو قضاء راوړل ئې فرض دی.

## د مانځه فرائض (ارکان او شرائط)

اولنی اوۀ ته شرائط باقی شپږو ته ارکان وائی:

❶ دبدن پاکوالي ❷ دکپړو پاکوالي ❸ د ځائې پاکوالي ❹ سَتر پټول ❺ دمونځ وخت کيدل ❻ قبلې ته مخ کول ❼ نيت کول ❽ تکبير تحريمه وئيل ❾ قيام يعنى اودريدل ❿ قراءت يعنى قرآن مجيد لوستل ⓫ رکوع کول ⓬ دواړه سجدې کول ⓭ آخرى قعده کښې د التحيات وئيلو په مقدار کيناستل.

## د ما نځه واجبات

### د مونځ واجبات دا دى:

❶ تکبير تحريمه خاص په لفظ د الله اکبر سره وئيل ❷ د فرض مونځونو ړومبى دوه رکعتونه د قراء ت دپاره مقرر کول ❸ د فرض مونځونو دريم او څلورم رکعت نه علاوه دټولو مونځونو په هر رکعت کښې سورة فاتحه لوستل ❹ د فرض مونځونو ړومبى او دويم رکعت کښې اود واجب او سنت او نفل مونځونو په ټولو رکعتونو کښې د سورة فاتحه نه پس يو سورت يا يو غټ آيت يا واړه درې آيتونه لوستل ❺ سورة فاتحه (الحمد شريف) دسورت نه مخکښې لوستل ❻ په قراءت، رکوع، سجدو او رکعتونو کښې ترتيب قائم ساتل. ❼ قومه کول يعنى د رکوع نه سيدها اودريدل ❽ جلسه کول يعنى د دوو سجدوپه مينځ کښې سيدها کيناستل ❾ تعديل ارکان يعنى رکوع، سجده وغيره په اطمينان سره په ښه طريقه اداکول ❿ ړومبې قعده کول يعنى درې او څلور رکعتو والا مونځ کښې د دوؤ رکعتو نه پس د تشهد په مقدار کيناستل ⓫ په دواړو قعدو کښې تشهد

(التّحيات) لوستل ❷ امام دپاره د سحر او ماښام اوماسخوتن او جُمعې او د اخترونو او د تراويحو او د رمضان شريف په وترو کښې په اوچت آواز سره قراءت کول اود ماسپخين او مازيګر وغيره مونځونو کښې په پټه قراءت کول ❸ په لفظ دسلام يعنی اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ وئيلو سره مونځ ختمول ❹ په وترو کښې دعائې قنوت دپاره تکبير وئيل او دعائې قنوت لوستل ⓯ د دواړو اخترونو په مونځونو کښې شپږ زياتی تکبيرونه وئيل ⓰ په فرض يا په واجبو کښې تاخير نه کول (د درې ځله سُبحان الله په مقدار ❼ په مانځه کښې د سجده تلاوت لوستلو سره سجده په مانځه کښې کول ❽ که سهو شی نو سجده سهو کول ⓳ مقتدی لره د امام تابعداری کول ⓴ د مانځه ارکان پې درپې کول.

## د مانځه سنت

### د مونځ سنتونه دا دی:

❶ د تکبير تحريمه وئيلو په وخت سرې دپاره دواړه لاسونه غوږونو پورې پورته کول ❷ د دواړو لاسونو ګوتې په خپل حال کښې کهلاؤ او قبلې طرف ته ساتل. ❸ د تکبير وئيلو په وخت سرنه ډير ښکته کول او نه ډير پورته کول. ❹ امام له تکبيرتحريمه او د يو رکن نه بل رکن ته د تللو په وخت کښې ټول تکبيرونه (تکبيرات انتقال) د ضرورت په اندازه اوچت آواز سره وئيل. ❺ ښې لاس په ګس لاس باندې د نوم

نه لاندې کېخودل ❻ په وړومبی رکعت کښې ثناء یعنی سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ (پوره) وئیل. ❼ په وړومبی رکعت کښې تعوّذ یعنی اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ لوستل ❽ د هر رکعت په شروع کښې بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ لوستل ❾ د فرض مونځ په دریم او څلورم رکعت کښې صرف سورة فاتحه لوستل ❿ آمین وئیل ⓫ ثناء، تعوّذ، بِسْمِ اللهِ او آمین ټول په روآواز سره وئیل. ⓬ د سنّت موافق قراءت کول یعنی په کوم مونځ کښې چه په څومره اندازه قرآن مجید وئیل سنت دی دهغې موافق وئیل. ⓭ په رکوع او سجده کښې کم ازکم درې درې ځله تسبیح وئیل. ⓮ په رکوع کښې سر او ملا نیغه برابر ساتل اود دواړو لاسونو په کهلاؤ ګوتو سره کونډې نیول.

⓯ په قومه یعنی د رکوع نه اوچتیدو په وخت کښ امام له سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ او مقتدیانو له رَبَّنَالَكَ الْحَمْدُ وئیل او منفرد یعنی ځانله مونځ کونکی له تسمیع او تحمید دواړه دعاګانې وئیل.

⓰ سجدې ته د تلو په وخت کښې اول دواړه ځنګونان بیا دواړه لاسونه بیا پوزه بیا تندې لګول.

⓱ په جلسه او قعده کښې ګسه خپه څملول اوپه دې کیناستل او ښۍ خپه داسې اودرُول چې ددې د ګوتو سرونه ئې قبلې طرف ته راشی او دواړه لاسونه په ورُونانو ایښودل.

۱۸ په تشهد کښې، ،اَشۡهَدُ اَنۡ لَّآ اِلٰهَ،، سره د شهادت ګوته اوچتول (اشاره کول)

۱۹ په آخرې قعده کښې دَ تشهد نه روستو درُود شريف وئيل.

۲۰ دَ درُود شريف نه روستو دُعا وئيل.

۲۱ اول ښى طرف ته او بيا ګس طرف ته سلام ګرځول.

۲۲ د امام دواړه سلامونه په زوره وئيل خو دويم لږ په ورو وئيل.

## د مانځه مستحبات

په مونځ کښې مستحبات دا دى: ۱ د تکبيرتحريمه وئيلو په وخت دواړه لاسونه د لستونړونه ويستل ۲ په رکوع اوسجده کښې منفرد (ځانله مونځ کونکې) دپاره د دريو ځلو نه زيات (طاق) تسبيحات وئيل ۳ د قيام (ولاړې) په حالت کښې دسجدې په ځائې نظر ساتل او په رکوع کښې په خپو او په سجده کښې په پوزه او په جلسه (د دواړو سجدو په مينځ) کښې او قعده کښې په خپله غيږه او دسلام په وخت کښې په خپلو اوږو باندې نظر ساتل. ۴ ترڅو پورې چه ممکن وى نو ټوخى بندول. ۵ د اسويلى نه خله بنده ساتل او که کهلاؤ شى نود قيام په حالت کښې په ښى لاس او په نورو حالتونو کښې د ګس لاس په شا باندې خله بندول. ۶ د قيام په وخت په دواړو قدمونو کښې د څلورو ګوتو يا دې ته نزدې فاصله ساتل ۷ هر رکعت کښې د فاتحه نه پس او د سورت نه مخکښې بِسۡمِ اللّٰهِ وئيل .

# د مونځ ماتونکې څیزونه

په دې څیزونو سره مونځ فاسدیږي :

١ په مونځ کښې خبرې کول، قصداً وي او که په هیره، که لږې وي او که ډیرې، په هر صورت کښې مونځ ماتیږي . ٢ سلام کول یعنی چاته د سلام کولو په قصد سره سلام یا السّلام علیکم یا ددې په شان بل څه لفظ وئیل. ٣ دسلام جواب ورکول یا د انتوشې (فرنجی) کونکې په جواب کښ یرحمک الله وئیل. یا د مونځ نه د بهر یو سړي په دعا باندې آمین وئیل. ٤ د خفګان په خبره اوریدلو سره انا لله وانا الیه راجعون، یا د خوشالئ خبره اوریدو باندې الحمد لله وئیل، یا په یوه عجیبه خبره اوریدلو سره سُبحان الله وئیل. ٥ د بیمارئ ، درد یا تکلیف په وجه آه، اُوه یا اُف وئیل. ٦ د خپل امام نه بغیر بل چاته لُقمه (فتح) ورکول یعنی قراءت ورته خودل. ٧ قرآن مجید په کتلو سره لوستل. ٨ په قراءت وئیلو کښې سخته غلطی کول. ٩ عمل کثیر کول یعنی څه داسې کار کول، چه هغې ته لیدونکې دا اوګڼري، چه داسړې مونځ نه کوي. ١٠ خوړل یا څکل که په قصد وي او که په هیره وي. ١١ د دوه صفونو په مقدار مسلسل تلل. ١٢ د قبلې د طرف نه بغیر د عذر نه سینه اړول. ١٣ په ناپاکه ځائې باندې سجده کول. ١٤ د ستر د کهلاویدو په حالت کښې د یو رُکن په مقدار ایساریدل. ١٥ په دعا کښې داسې څیز غوښتل کوم چه د انسانانو نه غوښتلې شي مثلاً دا اووائې چه یا الله ! نن ماته سل روپۍ راکړې. ١٦ د درد یا

مصیبت په وجه داسې ژړل چه په آواز کښې حرف راؤځی. ۱۷ په مونځ کښې د بالغ سړی په قهقه یعنی په اوچت آواز سره خندل. ۱۸ په مانځه کښې د اذان جواب ورکول ۱۹ څوک تپوس اوکړی چه آیا د الله نه سوا بل معبود نشته؟ نو د مونځ ګذار جواب کښې کلمه طیبه وئیل ۲۰ د دنیا په یو کار لاحول ..الخ وئیل ۲۱ د مانځه د پوره کیدو نه مخکښې اودس ماتیدل ۲۲ د یو اندام نه وینه وتل او بهیدل ۲۳ د درهم برابر نجاست په بدن یا کپړه باندې لګیدل ۲۴ د امام نه مخکښې کیدل چه امام او مقتدی هغه رکن کښې شریک نه شی ۲۵ په تکبیر تحریمه کښې د لفظ الله یا اکبر الف اوږد وئیل (آلله یا آکبر وئیل) یا اکبار وئیل.

## د مانځه مکروهات

### په مانځه کښې دا لاندینی څیزونه مکروه دی:

۱ سَدل یعنی جامې زوړندول مثلاً په سر باندې څادر داسې اچول چه دواړه طرفونه ئې رازوړند شی. ۲ د خاورونه بچ کولو دپاره جامې لاس سره بچ کول. ۳ بدن یا جامو سره لوبې کول. ۴ په معمولی جامو کښې مونځ کول داسې جامې چه دهغې په اغوستلو سره د خلقو په مجمع کښې تلل نه خوښوی. ۵ په خوله کښې روپۍ، یا پیسه، یا بل څه څیز ایښودل او مونځ کول. ۶ د سستۍ او بې پرواهۍ په وجه په سرتور سَر مونځ کول. ۷ د تشو متیازو یا ډکو متیازو د تقاضې په حالت کښې مونځ کول. ۸ ویښته په سَر غوټه کول او مونځ کول ۹ کانړی اخوا کول خو که سجده کول

مشکل وي نو په یو ځل لړې کولو کښې څه باک نشته. ۱۰ د ګوتونه ټقونه ویستل، یا دیولاس ګوتې په بل لاس کښې داخلول ۱۱. په اوږه یا ډوډو یا په ټوټې لاسونه ایخودل. ۱۲ د قبلې نه مخ اړولو سره یا صرف سترګې اړولو سره اخوا دیخوا کتل. ۱۳ د سپې پشان کیناستل، یعنې دواړه کوناټئ بره کول، چه ورونان د خیټې سره او کوناټئ د سینې سره اولګي، او دواړه لاسونه په زمکه ایخودل او د کوناټو په سوکه کیناستل. ۱۴ د یو داسې سړي طرف ته مونځ کول چه دهغه مخ دې مونځ کونکي طرف ته وي. ۱۵ په سجده کښې دواړه متې په زمکه خورول د سړو دپاره مکروه دي. ۱۶ د لاس یا د سر په اشارې سره د سلام جواب ورکول. ۱۷ بغیر د عُذر نه پړلتئ وهلو سره کیناستل. ۱۸ قصداً اسویلې کول، یا د بندولو باوجود ئې نه بندول. ۱۹ سترګې پټولو سره مونځ کول، البته که د توجه حاصلولو دپاره داسې کوي نو مکروه نه دي. ۲۰ د امام یوائې په محراب کښې دننه اودریدل خو که خپې ئې د محراب نه بهر وي نو مکروه نه دي. ۲۱ د امام یوائې په اوچت ځائې اودریدل خو که د امام سره مقتدیان هم وي نو مکروه نه دي. ۲۲ په داسې صف پسې شاته یوائې اودریدل چې په هغې کښې خالي ځائې وي. ۲۳ د ساه لرونکي د تصویر والا جامو کښې مونځ کول. ۲۴ په داسې ځائې کښې مونځ کول چې د مونځ کونکي په سر، یا مخې ته، یا ښي یا ګس طرف ته یا د سجدې په ځائې کښې تصویر وي. ۲۵ آیتونه، سورتونه، یا تسبیحات په ګوتو سره شمیرل. ۲۶ څادر یا بله څه کپړه د ځان نه داسې راتاوول او مونځ

کول چې دهغې نه لاسونه نه راوځی. ۲۷ په مانځه کښې ستومانی ویستل یعنی ځان دمه کول. ۲۸ د پټکی په پلسکی باندې سجده کول. ۲۹ په مونځ کښې د سنت خلاف څه کار کول ۳۰ مانځه کښې بار بار ټوخيدل ۳۱ مانځه کښې خلال کول ۳۲ د خوب د غلبې په وخت کښې مونځ کول ۳۳ چه د جماعت مونځ شروع وی نو ځانله سنت او نفل کول ۳۴ د مقتدی د امام نه مخکښې سلام اړول ۳۵ د سلام نه علاوه په بله طريقه د مانځه نه وتل ۳۶ د تشهد، درود يا د دعا نه مخکښې بِسۡمِ اللّٰهِ وئيل ۳۷ په قعده کښې زنګونان په لاسونو نيول ۳۸ په تشهد کښې سر ډير زيات ټيټول ۳۹ بغير د عذر نه صرف په پوزه يا په تندی سجده کول ۴۰ د سمع الله لمن حمده نه پس بيا الله اکبر وئيل وغيره.

## د مانځه مستحب وختونه

۱ د سحر مونځ په داسې وخت کښې کول چې رڼړا خوره شوې وی نوَر ختلو ته تقريبا نيمه ګهنټه پاتې وی ۲ د ماسپخين مونځ په ګرمئ کښې په تاخير سره او په يخنئ کښې په اول وخت کښې کول ۳ د مازيګر مونځ په تاخيره سره کول خو دومره تاخير نه کول چه نوَر زيړ شی ۴ د ماښام مونځ نوَر پريوتلو سره زر کول البته د وريځې په ورځ لږ تاخير کول ۵ د ماسخوتن مونځ د شپې يو ثلث پورې تاخير سره کول مستحب دی ۶ د جُمعې مونځ هميشه په اول وخت کښې کول.

## ممنوع وختونه

یعنی هغه وختونه چې هغې کښې هر قسم مونځ ممنوع دې.

① د نمر د ختلو وخت ② د پریوتلو وخت ③ د زوال وخت

## مکروه وختونه

یعنی هغه وختونه چې هغې کښې هر قسم مونځ مکروه دې.

① د مازیګر مونځ نه پس نفل کول ② د صبا صادق نه د سحر د مونځ پورې نفل کول ③ د سحر د مانځه نه پس د نمر د ختلو پورې نفل کول ④ د اختر په ورځ په عیدګاه کښې نفل کول ⑤ د اختر مونځ چه نه وی شوې نو په جُمات یا کور کښې هم نفل مکروه دی ⑥ د نیمې شپې نه روستو د ماسخوتن مونځ کول ⑦ ستوری چه ګنړ شی دهغې نه روستو د ماښام مونځ کول، چه جمع ودریږی سوا د سحر د جمعې نه که رکعت ترینه نه فوت کیږی بل مونځ کول ⑧ د مازیګر مونځ د نمر زیړیدلو نه پس کول ⑨ کله چه امام خطبې ته ودریږی ⑩ په عرفه باندې د مازیګر او ماسپښین په مینځ کښې بل مونځ کول ⑪ په مزدلفه کښې دماښام او ماسخوتن په مینځ کښې بل مونځ کول ⑫ چه انسان ډیر وګې وی او طعام حاضروی.

**فائده:** د سحر او مازیګر مونځ نه پس نفل مکروه دی خو قضا مونځ او سجده تلاوت کولې شی.

## مکروه مقامات

په دې مقاماتو کښې مونځ مکروه دې: ① قبرستان کښې مونځ کول ② شارع عام یعنی غټه لاره کښې مونځ کول ③ د ګندګئ د اچولو ځائې کښې

مونځ کول ❹ د ځناور د تړلو ځائې کښې مونځ کول ❺ غسل خانه کښې مونځ کول ❻ بيت الخلاء کښې مونځ کول ❼ قصاب خانه کښې مونځ کول ❽ غصب شوی زمکه باندې مونځ کول.

## د سترې حکم

امام يا منفرد چې په کور يا ميدان کښې مونځ کوی نو د خپلو سترګو خی يا ګس طرف ته داسې يو څيز اودرول مستحب دی چه د يولاس يا د دې نه زيات اوږد وی او د ګوتې هومره پيړ وی، ديته سُتره وائی، اوکه جمات کښې يا داسې ځائې کښې مونځ کوی چه خلق مخې ته نه تيريږی نو سُترې ته ضرورت نشته. د امام سُتره د مقتديانو دپاره کافی ده. د سُترې نه اخوا تيريدلو کښې څه ګناه نشته.

## د زنانه او نارينه په مونځ کښې فرق

❶ زنانه به په مونځ کښې ټول بدن پټ ساتی سوا د مخ لاس او قدمونو نه ❷ دواړه لاسونه به په څادر، لوپټه کښې دننه اوګوپورې اوچتوی ❸ دواړه لاسونه به په سينه ګدی ❹ د ښی لاس ورغوې به د چپ لاس په شا ګدی ❺ د قيام په حالت کښې به قدمونه يوبل ته نزدې ساتی ❻ په رکوع کښې به شا او سر او کناټی برابرنه ساتی بلکه لږه به ښکته کيږی ❼ په رکوع کښې به په زنګنونو کولاؤ لاسونه نه ګدی بلکه ګوتې به يوځائې کوی ❽ په رکوع کښې به خپې بالکل نه سيده کوی بلکه مخکښې طرف ته به ئې لږ شاته اوباسی ❾ لاسونه به ترخونو سره جخت ساتی ❿ خيټه به پټونو سره جوخته ساتی ⓫ په رکوع کښې به دواړه زنګنونه هم يوبل ته نزدې ساتی ⓬ څنګلې به د زمکې سره جوختې ساتی ⓭ د کيناستو په حالت کښې به دواړه خپې ښی

طرف ته او پاسی او په زمکه به کینی ⓮ په قعده کښې به د لاسونو ګوتې یو بل سره جوختې ساتی ⓯ د سحر مونځ د زنانو لپاره وختی په تیاره کښې بهتر دې ⓰ په مونځ کښې به قرأت په زوره نه کوی ⓱ زنانه د نورو زنانو لپاره د جمع مونځ نه شی کولې ⓲ د تراویح یا نفل مونځ امامتی ورله هم مکروه ده ⓳ د سړی سره یو صف کښې نه شی ودریدلې ⓴ امام ته په ژبه فتحه نه شی ورکولې بلکه په لاس به ئې ورکوی. ㉑ د سړو امامت نه شی کولې (۲۲) که د سړو سره د جُمعې مونځ کوی نو وروستو به او دریږی ㉓ په ښځو باندې د جُمعې او اخترونو مونځ واجب نه دې ㉔ ښځې په تکبیرات تشریق په ورو آواز وائی. ㉕ ښځې اذان هم نه شی کولې.

## د روزانه مونځونو د رکعاتونو د تعداد نقش

| مونځ | سنت مؤکد | سنت غیرمؤکد | فرض | فرضو نه پس سنت | نوافل | وتر | ټول رکعتونه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| سَحر | ۲ | - | ۲ | - | - | - | ۴ |
| ماسپخین | ۴ | - | ۴ | ۲ | ۲ | - | ۱۲ |
| مازیګر | - | ۴ | ۴ | - | - | - | ۸ |
| ماښام | - | - | ۳ | ۲ | ۲ | - | ۷ |
| ماسخوتن | - | ۴ | ۴ | ۲ | ۴ | ۳ | ۱۷ |
| جُمعه | ۴ | - | ۲ | ۴+۲ | ۲ | - | ۱۴ |

## د سجده سهوې ضابطه

### لاندې صورتونو کښې سجداه سهو واجبیږی:

❶ یو واجب پریخودل ❷ یو واجب مخکښې کول ❸ یو واجب وروستو کول ❹ یو واجب بدلول ❺ یو واجب مکرر کول ❻ یو رُکن (فرض)

مخکښې کول ❼ يو رُکن (فرض) وروستو کول ❽ يو رُکن (فرض) مکرر کول.

**نوټ:** د سجدهٔ سهوې د تفصيلي احکامو دپاره د فقهي غټ کتابونه اوګورئ.

## د سجده تلاوت د واجب کيدو صورتونه

په دريو صورتونو کښې سجدهٔ تلاوت واجبيږي:

❶ پخپله آيت د سجدې تلاوت کول ❷ د بل چانه آيت د سجدې تلاوت اوريدل ❸ د جماعت په مونځ کښې د امام آيت دسجدې وئيلو سره په مقتدي هم واجبيږي.

دسجدهٔ تلاوت د ادا کولو هم هغه شرطونه دي کوم چه د مانځه دپاره دي.

## د سجده تلاوت طريقه

دسجدهٔ تلاوت طريقه داده چه اودريږي نو تکبير کولو سره به سجدې ته لاړشي او يوه سجده به اوکړي بيا به تکبير اوکړي نو اودريږه نو دا بهتره ده ګکه په ناسته ناسته هم سجدې ته لاړشي او په سجده کښې به د معمول مطابق سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلٰى اووائې او بيا به تکبير اووائې او د سجدې نه به راپاسي. بس سجدهٔ تلاوت ادا شوه.

دتلاوت صرف يوه سجده کيږي دمونځ په شان دوه سجدې نه کيږي.

او په سجده کښې د سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلٰى نه علاوه دا لاندې دعا هم د نبي کريم ﷺ نه په دې موقع وئيل ثابت ده:

(سَجَدَ وَجْهِيَ لِلَّذِيْ خَلَقَهُ، وَشَقَّ سَمْعَهُ وَبَصَرَهُ بِحَوْلِهِ وَقُوَّتِهِ)

(ترمذی، ابوداؤد)

**ترجمه:** زما مخ هغه ذات ته سجده وکړه چاچې دا پيدا کړې دی او په خپل قدرت او طاقت سره ئې په دې کښې غوږونه او سترګې پيدا کړی دی.

## د جَمعي (جماعت) مونځ په چا واجب دې؟

د جماعت مونځ په هغه عاقل بالغ آزاد سړو باندې واجب دې چه څه عذار ورته نه وی او بغير د مشقت او حرج نه جماعت کښې شريک کيدلو باندې قادر وی.

## هغه عذرونه چه جماعت پرې پريخودلې شی

١ په لاره کښې دومره ختې وی چه تلل ګران وی.

٢ ډير تيز باران وی ٣ ډيره سخته يخنی وی چه پکښې د بيمارئ خطره وی ٤ جمات ته تللو کښې د مال اسباب د غلا خطره وی.

٥ جمات ته تللو کښې د دشمن خطره وی.

٦ ډيره تياره وی چه لاره نه ښکاری.

٧ د يو مريض علاج او خيال ساتل وی او بل څوک نه وی.

٨ روټئ تياره وی او لوږه هم ډيره زياته لګيدلې وی.

٩ د اودس ماتی ډير سخت ضرورت وی.

١٠ داسې بيماری وی چه سړې دهغې سره ګرځيدلې نه شی.

١١ د سفر اراده وی او که جماعت کښې شريک شی نو د قافلې ياد ګاډی د تلو خطره وی.

## د تراويحو مونځ

د رمضان المبارک په مياشت کښې چه د ماسخوتن د مونځ نه پس اود وترمونځ نه مخکښې کوم شل رکعته کيږي هغې ته د تراويح مونځ وائی، دا سنت مؤکده دی. د تراويح مونځ په جماعت سره کول بهتردی، خو يواځې کول ئې هم جائزدی.

افضل داده چه په يويو سلام سره دوه دوه رکعته اوکړې شی اود هر څلورو رکعتونه پس د څلورو رکعتو په اندازه کيناستلې شی او په درُود شريف او تسبيح وئيلو کښې وخت تيرکړې شی.

## د قضاء مونځونوادا کولو بيان

د چا نه که مونځ قضاء شوې وی، نو کله چه ياد راشی سمدستی دې دهغې قضاء راوړی. بغير د عُذرنه په قضاء کولو کښ روستووالې کول ګناه ده، که په دغه حالت کښ مرګ راشی، نو دوچندګناهګاربه وی، يو خو د مونځ قضاء کولو او دويم سمدستی د قضا نه راوړلو.

که ډير مونځونه قضاء شوې وی، نو څومره چه کيدای شی زرترزره د ټولو قضاء راوړل پکاردی، که کيدای شی نوهمت دې اوکړی او په يووخت دې د ټولو مونځونو قضاء اوکړی. ګينی په يووخت کښ دې دوه دوه څلور څلور مونځونه قضاء راوړی، که دا هم نه شی کولې، نو په يووخت دې صرف د يو مونځ قضاء راوړی، بهرحال د قضاء کولو کوشش دې کوی.

**مسئله:** که قضاء مونځونه د شپږونه کم وی، نو په ترتيب سره کول ضروری دی، اول د سَحر، بيا ماسپخين، بيا مازيګر....الخ

**مسئله:** که قضاء مونځونه د شپږونه زيات په ذمه وو، نو بيا په ترتيب سره کول لازم نه دی.

**مسئله:** ددريو ممنوع وختونو نه علاوه هروخت کښ قضاء مونځونه کيدای شی.

## د مريض د مونځ مسئلې

مونځ په يو حالت کښ هم پريخودل پکار نه دی کوم مريض چه تر څو پورې په ولاړه د مونځ کولو طاقت لری، نو په ولاړه مونځ کول پکار دی، او چه کله په ولاړه د مونځ کولو طاقت نه وی، نو په ناسته دې کوی، په ناسته دې رکوع کوی، او رکوع نه پس دې دواړه سجدې اوکړی، او رکوع د پاره دې دومره ټيټ شی، چه تندې د کونډو برابر راشی.

که د رکوع او سجدې کولو طاقت نه وی، نو رکوع او سجده دې په اشارې سره ادا کوی، او د سجدې په اشارې کښ دې د رکوع نه زيات ټيټ شی.

او که ددې طاقت هم نه وی نو په ملاسته په اشارې سره مونځ کول پکار دی.

## د سفر مسئلې

کوم سړې چه اتۀ څلويښت (۴۸) ميله يا انګريزی ۷۷.۲۴ کلوميټره، يا دهغې نه لرې تللو په نيت د خپلې آبادئ يا ښهر د حدودو نه بهر اوځی، او د پنځلسو ورځونه د کم پاتې کيدو نيت ئې وی نو هغه ته شرعی مسافر وئيلې کيږی. خو که مسافر په يو مقام کښ د پنځلسو ؤرځو يا ددې نه زيات ايساريدو نيت اوکړو، نو هغه به مونځونه پوره کوی،

## د سفر په دوران کښ د مونځ حکم

شرعی مسافر به د ماسپخين، مازيګر او ماسخوتن فرض مونځونه دوه رکعته ادا کوی، که چا د سفر دوران کښ دغه مونځونه څلور رکعته ادا کړل نو ګناه ګار به وی.

که د چا نه مونځونه په سفر کښ قضاء شول، نو کور ته راتلو نه پس به د سفر قضاء مونځونه دوه رکعته قضاء راوړی، او که د چا نه مونځونه په کور کښ قضاء شوې وو، نو که هغه د سفر دوران کښ دهغې قضاء مونځونه کول غواړی، نو پوره څلور رکعته به کوی.

## د جُمعې او اخترونو مونځونه

### د جُمعې د مانځه د صحیح کیدو شرائط

❶ مقیم کېدل ❷ آزادي (حُریت) ❸ سړی وي ❹ معذور نه وي.

### د جُمعې شرائط

❶ ښار یا قصبه وي ❷ د ماسپخین وخت وي ❸ خطبه وئیل ❹ خطبه د مانځه نه مخکښې وئیل ❺ خطبه به د ماسپخین په وخت کښې وي ❻ جماعت سره کول ❼ عام اجازت او علی الاعلان جُمعه کول. ❽ حاکم وقت یا دهغه نائب (لکه زمونږ د زمانې ائمه کرام)

### د جُمعې د مونځ طریقه

دا مونځ هره جُمعه د ماسپخین د مانځه په وخت کښ کولې شی د جُمعې مونځ د نورو مونځونو په شان کولې شی فرق صرف دومره دې چه د جُمعې د مانځه نه مخکښ دوه خطبې لوستلې شی بیا دوه رکعته مونځ په جماعت سره ادا کولې شی.

### د اختر مونځ

د اختر د مونځ هم هغه شرطونه دی کوم چه د جُمعې مونځ دپاره دی صرف دومره ده چه جُمعه کښې خطبه شرط او د مانځه نه پس وی او اختر کښې سنت مؤکده او وروستو وی.

### د عید الفطر (وړوکی اختر) سنت

❶ غسل کول ❷ مسواک کول ❸ خپل ځان سره چه کومې کپړې موجود وی په هغې کښ دټولونه ښې کپړې اغوستل مګر دسړی

او هلک د پاره د ریښمو کپړې نه دی اغوستل پکار. ❹ خوشبو لګول ❺ عیدګاه کومه چه د آبادۍ نه لرې وی په هغې کښې داختر مونځ کول ❻ عیدګاه ته پیدل تلل ❼ په یو لاره تلل او په بله لاره واپس راتلل ❽ د عیدګاه د مونځ نه مخکښې په کور یا عیدګاه کښې نفل نه کول او د عیدګاه د مونځ نه پس په عیدګاه کښې نفل نه کول کورته که راشی او اوکړی نو څه باک نشته ❾ د وړوکی اختر د مونځ نه مخکښې کهجوره یا څه خواږه خوړل (۱۰) که چرې صدقه فطر واجب وی نو داختر د مونځ نه مخکښې اداکول (۱۱) که دلوئې اختر مونځ وی د مونځ نه پس فوراً قربانی کول او بهتر داده چه د دغې ورځې د قربانۍ د غوښې نه مخکښې څه اونه خورې .

## تکبیرات تشریق

د وړوکی اختر مونځ ته چه ځۍ نو په لاره کښې په مزه مزه تکبیرات تشریق وایئ او د لوئې اختر مونځ ته چه ځۍ نو په اوچت آواز سره تکبیرات تشریق وایئ تکبیر تشریق دا دې:

اَللّٰهُ اَکۡبَرَ اَللّٰهُ اَکۡبَرَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَکۡبَرَ

اَللّٰهُ اَکۡبَرَ وَلِلّٰهِ الۡحَمۡدُ

**مسئله:** دلوئې اختر په نهم تاریخ د سحر د مونځ نه د دیارلسم تاریخ د مازیګر د مونځ پورې په اوچت اواز سره یو ځل وئیل واجب دی که د امام نه هیر شی نو مقتدای دې شروع کړی د هغه انتظار دې نه کوی.

**مسئله:** ښځه دې دا تکبیر په رو آواز سره وائی.

## د اختر د مونځ طريقه

نيت به داسې کوئ چه زه د وړوکی يا لوئې اختر دوه رکعته واجب مونځ کوم سره د شپږو تکبيرونو په دې حاضر امام پسې، خو دا الفاظ وئيل ضروري نه دی بلکه زړه کښې اراده کافی ده.

د نيت نه پس تکبيرتحريمه وئيلو سره لاسونه په نامه اوتړه، او ثناء اووايه، بيا د ثناء نه پس دواړه لاسونه غوږونو پورې اوچت کړه او اَللّٰهُ اَکْبَرُ اووايه او لاسونه ښکته زوړند کړه، بيا په دويم ځل لاسونه غوږونو پورې پورته کړه او اَللّٰهُ اَکْبَرُ اووايه او لاسونه زوړند کړه، بيا په دريم ځل لاسونه غوږونو پورې اوچت کړه اَللّٰهُ اَکْبَرُ اووايه او لاسونه اوتړه، بيا اَعُوْذُبِاللّٰه، بِسْمِ الله، سورة فاتحه او ورپسې يو سورت اووايه او رکوع اوکړه، او يو رکعت پوره کړه، ددې نه پس دويم رکعت دپاره اودريږه، بيا به امام اول قراءت اوکړی، د قراءت نه چه فارغ شی غوږونو پورې لاسونه پورته کړئ تکبير به اووايئ او لاسونه به رازوړند کړئ، بيا دغسې دويم او دريم تکبير اووايئ، او لاسونه رازوړند کړئ او بيا د لاسونو پورته کولو نه بغير څلورم تکبير اووايه او رکوع ته لاړشه،او د قاعدې مطابق دويم رکعت پوره کړه او سلام واړوه، بيا دې امام اودريږی خطبه به اووائی او ټول خلق دې چپ کينی او خطبه دې واوری، داخترونو دوه خطبې دی او د دواړو په مينځ کښې کيناستل سنّت دی، په يوه لاره تلل او په بله لاره واپس راتلل هم سنّت دی، د اخترونو د مونځ نه مخکښې په کورکښې يا په عيدګاه کښې نفل کول جائزنه دی، عيدګاه ته د تلو په وخت او دهغه ځائې نه واپس راتلو کښې تکبير وايئ، تکبير دادې:

(اَللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ)

# اذان او موننځ سره د ترجمې

## اذان

| | |
|---|---|
| اَللّٰهُ اَكْبَرُ | اَللّٰهُ اَكْبَرُ |
| الله پاک ډير لوئې دې | الله پاک ډير لوئې دې |
| اَللّٰهُ اَكْبَرُ | اَللّٰهُ اَكْبَرُ |
| الله پاک ډير لوئې دې | الله پاک ډير لوئې دې |
| اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ | |
| زه ګواهي ورکوم چه د الله پاک نه سوا بل معبود نشته | |
| اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ | |
| زه ګواهي ورکوم چه د الله پاک نه سوا بل معبود نشته | |
| اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ | |
| زه ګواهي ورکوم چه محمد ﷺ د الله پاک رسول دې. | |
| اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ | |
| زه ګواهي ورکوم چه محمد ﷺ د الله پاک رسول دې. | |
| حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ | حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ |
| راشئ د مانځه دپاره | راشئ د مانځه دپاره |
| حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ | حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ |
| راشئ د کاميابئ طرف ته | راشئ د کاميابئ طرف ته |
| اَللّٰهُ اَكْبَرُ | اَللّٰهُ اَكْبَرُ |
| الله پاک ډير لوئې دې | الله پاک ډير لوئې دې |
| لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ط | |
| د الله پاک نه سوا هيڅوک د عبادت لائق نشته. | |

د حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ وئيلو په وخت ښي طرفته او د حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ وئيلو په وخت ګس طرف ته مخ ګرځول پکار دی. د سحر په اذان کښ د حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ نه پس اَلصَّلٰوةُ خَيْرٌمِّنَ النَّوْمِ (مونځ د خوب نه غوره دې) دوه کرته وئيل پکار دی.

څوک چه اذان واوری که نارينه وی که زنانه وی، د پاکئ په حالت کښې وی اوکه د جنابت او بې اودسئ په حالت کښې، نو په هغه باندې د اذان جواب ورکول مستحب دی. مؤذن چه کوم الفاظ وائی هم هغه دې وائی البته د حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ په جواب کښې لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ اود اَلصَّلٰوةُ خَيْرٌمِّنَ النَّوْمِ په جواب کښې دې اَلصَّلٰوةُ خَيْرٌمِّنَ النَّوْمِ وائی.

## د اذان نه روستو دعا:

اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ وَالصَّلٰوةِ الْقَائِمَةِ اٰتِ مُحَمَّدَنِ الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَّحْمُوْدَنِ الَّذِىْ وَعَدْتَّهُ،،

او ددې نه پس نور الفاظ احاديثو کښې نشته.

**ترجمه:** اې الله! اې د دې کامل دعوت او (د دې په نتيجه کښ) د قائميدونکی مانځه ربه! ته محمد ﷺ ته وسيله او فضيلت ورکړه او هغوی هغه مقام محمود ته اورسوه د کوم چه تا هغوی سره وعده فرمائيلې ده.

ددې دعا نه روستو درود شريف لوستل د اجراو ثواب باعث دې.

## مونځ سره د ترجمې

**تکبیر:** اَللّٰهُ اَکْبَرُ          الله پاک ډیر لوئې دې.

**ثناء:** سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ وَلَآ اِلٰهَ غَيْرُكَ"

اې الله! مونږ ستا پاکي بیانوو او ستا د حمد سره او ستا نوم ډیر برکت والا دې، او ډیر لوئې دې شان ستا، او ستا نه سوا څوک هم د عبادت لائق نشته.

**تعوّذ:** اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ

پناه نیسم په الله پاک پورې د شیطان رټلی شوی نه.

**تسمیه:** بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

په نوم د الله پاک چه بې حده مهربانه او همیشه مهربانه دې شروع کوم.

## سورة فاتحه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ

ټول تعریفونه د خدایئ او د کمال د الله پاک د پاره دی چه رب دې د ټولو مخلوقاتو، بیحده مهربانه، همیشه مهربانه، مالک د ورځې د جزا.

اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ صِرَاطَ الَّذِيْنَ

خاص تا لره عبادت کوو مونږ او خاص ستا نه مدد غواړو، اوښایه مونږ ته لاره برابر، لاره د هغه خلقو

اَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ غَيۡرِ الۡمَغۡضُوۡبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا الضَّآلِّيۡنَ۔

چه تا پرې انعام کړې دې، نه په هغوی غضب کړې شوې دې او نه ګمراهان دی.

آمين: زمونږ دعا قبوله کړه.

## سورة اخلاص

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

د الله پاک په نوم چه بيحده مهربانه او هميشه مهربانه دې شروع کوم.

قُلۡ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ اَللّٰهُ الصَّمَدُ لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُوۡلَدۡ

اې نبی! اوفرمايه! چه الله يو دې، الله پاک بې حاجته دې، نه ئې څوک زيږولې دی، او نه زيږولې شوې دې.

وَلَمۡ يَكُنۡ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ

او څوک هم د هغه برابر نشته.

## د رکوع تسبيحات:

سُبۡحَانَ رَبِّيَ الۡعَظِيۡمِ

پاکی ده رب زما لره چه لوئې دې.

## د رکوع نه د اوچتيدلو په وخت کښې تسبيحات:

سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنۡ حَمِدَهٗ

الله پاک واوريدلو (يعنی قبول کړو) تعريف دهغه چا چاچه تعريف اوکړو د هغهٔ.

## د قومې تحميد

«رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيْهِ» (بخاری)

**ترجمه:** اې زمونږ پروردګاره! تا لره تعريف دې، داسې تعريف چې ډير زيات هم دې، پاکيزه هم او برکت والا هم.

## د سجدې تسبيح

سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى : پاکی ده رب زما لره چه اوچت ذات دې.

## تشهد

اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوٰتُ وَالطَّيِّبَاتُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصّٰلِحِيْنَ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ۔

ترجمه: ټول د ژبې عبادتونه او ټول فعلی عبادتونه او ټول مالی عبادتونه د الله پاک دپاره دی. سلام دې وی په تا سوباندې اې نبی او د الله پاک رحمت او د هغه برکتونه. سلام دې وی په مونږ او د الله پاک په ټولو نيکانو بندګانو، زه ګواهی ورکوم چه د الله پاک نه سوا بل معبود نشته او ګواهی ورکوم چه محمدﷺ د الله پاک بنده او د هغه رسول دې.

## درود شريف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَجِيْدٌ. اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيمَ وَعَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَجِيْدٌ،،

**ترجمه:** اې الله رحمت نازل کړه په محمد ﷺ باندې او د هغوی په آل باندې لکه چه تا رحمت نازل کړې وو په ابراهیم علیه السلام باندې او د هغوی په آل باندې بیشکه ته د تعریف مستحق او لوئې ذات ئې. اې الله! برکت نازل کړه په محمد ﷺ باندې او د هغوی په آل باندې لکه چه تا برکت نازل کړې وو په ابراهیم علیه السلام باندې اودهغوی په آل باندې. بیشکه ته د تعریف مستحق او لوئې ئې.

## دعا:

رَبِّ اجْعَلْنِیْ مُقِیْمَ الصَّلٰوةِ وَمِنْ ذُرِّیَّتِیْ رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَاء

رَبَّنَا اغْفِرْلِیْ وَلِوَالِدَیَّ وَلِلْمُؤْمِنِیْنَ یَوْمَ یَقُوْمُ الْحِسَابُ۔

**ترجمه:** اې زما ربه! ما هم د مونځ پابندجوړ کړه او زما اولاد هم، اې زمونږ ربه! زما دعا قبوله کړې. اې زمونږ ربه! ماته هم بخښنه اوکړه اوزما مور پلار ته هم، او ټولو مؤمنانو ته هم په هغه ورځ چه حساب قائم شي.

## یا دا دعا ووایه

«اَللّٰهُمَّ إِنِّیْ ظَلَمْتُ نَفْسِیْ ظُلْمًا كَثِیْرًا، وَإِنَّهُ لَا یَغْفِرُ الذُّنُوْبَ إِلَّا أَنْتَ فَاغْفِرْ لِیْ مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ وَارْحَمْنِیْ إِنَّكَ أَنْتَ الْغَفُوْرُ الرَّحِیْمُ»

(بخاری ومسلم)

**ترجمه:** یا الله! ما په خپل ځان ډیر ظلم کړې دې، اوستا نه بغیر بل څوک ګناهونه نشی بخښلې، نو ته خاص دخپل طرفه زما بخښنه وکړې، او په ما رحم وکړه، بیشکه هُم ته ډیر بخښونکې زیات مهربان ئې.

## سلام:

اول ښي طرف ته مخ اړولو سره دا کلمات لوستل او بیا ګس طرف ته مخ اړولو سره دا کلمات لوستل پکار دی.

اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَ رَحْمَةُ اللهِ: سلام دې وی په تاسو او دالله رحمت هُم

## دعاء قنوت

| |
|---|
| اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِيْنُكَ وَ نَسْتَغْفِرُكَ وَ نُؤْمِنُ |
| اې الله بې شکه مونږ مدد غواړو ستا نه او بخښنه غواړو ستا نه او ایمان راوړو |
| بِكَ وَ نَتَوَكَّلُ عَلَيْكَ وَ نُثْنِيْ عَلَيْكَ الْخَيْرَ ط |
| په تا باندې اوتوکل کوو په تا باندې او ثنا وایو تا لره غوره، |
| وَ نَشْكُرُكَ وَ لَا نَكْفُرُكَ وَ نَخْلَعُ وَ نَتْرُكُ |
| او شکر ادا کوو ستا او ناشکری نه کوو ستا او جدا کیږو مونږه او پریږدو |
| مَنْ يَّفْجُرُكَ ط اَللّٰهُمَّ اِيَّاكَ نَعْبُدُ |
| هغه څوك چه نافرمانی کوی ستا اې الله مونږ خاص تالره عبادت کوو |
| وَلَكَ نُصَلِّيْ وَنَسْجُدُ وَ اِلَيْكَ نَسْعٰى |
| اوخاص تالره مونځ کوو او سجده کوو او ستا طرف ته کوشش کوو |
| وَ نَحْفِدُ وَ نَرْجُوْا رَحْمَتَكَ وَ نَخْشٰى |
| او (تاته) منډه وهو او اُمید ساتو د رحمت ستا او ویریږو |
| عَذَابَكَ اِنَّ عَذَابَكَ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ ط |
| د عذاب ستا نه بې شکه عذاب ستا کافرانو ته رسیدونکې دې. |

## يا دا دعا ووايه

اَللّٰهُمَّ اهْدِنِيْ فِيْمَنْ هَدَيْتَ

يا الله! په هغو کسانو کښې ماته هم هدايت وکړه چې تا ورته هدايت کړې دي

وَ عَافِنِيْ فِيْمَنْ عَافَيْتَ

اوپه هغه کسانو کښې ماته هم عافيت را کړې چې تا ورته عافيت ورکړې

وَ تَوَلَّنِيْ فِيْمَنْ تَوَلَّيْتَ

اوپه هغه کسانو کښې ماهم محفوظ کړه چې تامحفوظ کړی

وَبَارِكْ لِيْ فِيْمَا أَعْطَيْتَ وَقِنِيْ شَرَّ مَا

او څه چې دې را کړی په هغه کښې را ته برکت واچوه او دهغې د شر نه مې وساته

قَضَيْتَ، فَإِنَّكَ تَقْضِيْ وَلَا يُقْضٰى

د څه چې تا فيصله کړې ده ځکه هم ته فيصله کونکی يې او ستا دفيصلې خلاف

عَلَيْكَ، إِنَّهُ لَا يَذِلُّ مَنْ وَالَيْتَ

څوك فيصله کونکې نشته. چې ته له چاسره دوستي وکړې هغه به خوارنشي

[وَلَا يَعِزُّ مَنْ عَادَيْتَ]

اوله چاسره چې دښمنې وکړې هغه به عزتمند نه شي،

تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَيْتَ[1]

ته مبارك ذات يې، اودلويې مالك يې اې زمونږ پروردګاره.

[1]) خلورواصحاب السنن، احمد، درامی، حاکم، اوبیهقی روایت کړیدی، اودمربع قوسونوترمینځ عبارت دبیهقی دی، صحیح الترمذی ۱/ ۱٤٤، صحیح ابن ماجه۱/ ۱۹٤ ، ارواء الغلیل دالبانی ۲/ ۱۷۲.

## مړي ته د غسل ورکولو تفصيلي طريقه

په کومه تخته چه مړي ته غسل ورکوي نو دري ځله يا پنځه ځله يا اووه ځله لوبان ورته لوګي کړه. او مړې په تخته داسې واچوئ چه قبله دهغهٔ ښئ طرف ته وی. او که موقع نۀ وه ياڅهٔ عذروو. نو په هر طرف يې څملولې شي. (فتح القدير ص ٤٤٩ وشامی ج ١،ص ٨٠٠ ومسافر اخرت)

بيا د مړي د بدان نه جامې (کورته، پرتوګ، بنيان وغيره) اوباسئ او يو پرده دهغهٔ په ستر واچوئ اود پردې دلاندې جامې ترې نه اوباسئ. دا پرده دغټې کپړې د نوم نه ترپنډو پورې پکار ده. چه دبدان لونديدو سره بدان ښکاره نشي.

**مسئله:** دنوم نه تر زنګنونو پورې حصه کتل جائزنۀ دی. په دې ځائې لاس کيښودل هم جائزنۀ دی. دمړي استنجا کول او غسل ورکولو دپاره دستانې د کپړې کسوړې د لاس نه تاؤکړئ. ځکه چه په ژوندا کښې ورته لاس لګول جائزنۀ وی. نو دغسې په مړونی هم لاس لګول جائزنۀ دی بغير د دستانونه. او نه به ورته ګورې. (بهشتی زيور)

**مسئله:** غسل شروع کيدونه اول په ګس لاس کښې د کپړې کسوړه واچوه دري يا پنځو دخاورو غونډو (لوټو) باندې يې استنجا اوکړه. بيا ئې په اوبو پاک کړه. بيا يې اودس داسې اوکړه چه نۀ يې په خوله کښې اوبه واچوې اونۀ پوزه کښې اونۀ مړوند پورې لاس اووينزې. مالوچ به داوبو نه لوند کړې په شونډو په غاښونو او په اورُوبه يې اووهې. او غوزار به يې کړې. دا به دري ځل کوې. دپوزې دواړه سورو کښې به په مالوچو صفائی اوکړې. که دغسل د ضرورت (جنابت) حالت کښې مړګ

راشي. يا د ښځې مړګ حيض نفاس په حالت کښې اوشي. نو په خوله او پوزه کښې اوبه اچول ضروري دی اوبۀ به پرې واچوې. او په کپړه به يې صفا کړې. بيا پوزه او خوله او غوږونو کښې مالوچ کيږدې. ددې دپاره چه دغسل په وخت اوبه دننۀ لاړې نشی. بيائې خوله او ينزې بيا لاسونه تر څنګلو او وينځې بيا يې د سر مسح اوکړې بيا ئې درې ځله دواړه پښې اووينځې. کله چه اودس ورله اوکړې نوسريې (که سرې وی نو بږيره هم) په ګل خيرو يا خطمی يا صابن وغيره سره ښۀ صفا کړې. بيا يې په ګس اړخ څملوئ او د بيرو پاڼړو کښې نيم ګرم اوبه په ښی طرف درې ځل سرنه تر پښو پورې دومره واچوې چه لاندې اړخ ته اورسی. بيا په ښی اړخ يې څملوئ او د سرنه تر پښو پورې درې ځل پرې اوبه واچوې چه لاندې اړخ ته اورسی. بيا مړې لږ شانتې اوچت کړې او خيټه به يې دپاسه نه لاندې پورې رو رو مګئ، که څۀ متيازې يا پاخانه اوځی. نو هغه صفا کړئ. د اودس او د غسل دوباره کولو ضرورت نشته. ځکه چه دې پليتئ سره د مړی په اودس او غسل هيڅ اثر نۀ پريوځی. بيا يې په ګس اړخ کړئ. او د کافورو په اوبو يې درې ځل د سرنه تر پښو ښۀ واچوئ چه لاندې اړخ ته ورشی بيا دويمه کڅوړه واچوې او په ټول بدان به درې ځل د سرنه تر پښو پورې اوبه واچوې. بيا به ئې اوچه پردہ باندې اوچ کړئ. په مزه يې د تختې نه په کټ واچوئ او کفن ورته واغوندوئ. د پوزې، خولې او د غوږونو نه ئې مالوچ اوباسئ. (فتاوی هنديه، درمختار، مسافر اخرت ، بهشتی زيور)

**مسئله:** دغسل ورکولو طريقه چه مخکښې بيان شوه سنت ده او کۀ څوک دري ځل اونۀ وينځي صرف يو ځل ئې اووينځي نو هم فرض اداشو. (بهشتی زيور)

## سړی ته دکفن ورکولو طريقه

د سړی د کفن کولو طريقه داده چه په کټ ړومبې لفافه اوغوړوئ. ازار پرې واچوئ، بيا دقميص لاندې حصه اوغوړوئ پاسنۍ حصه اونغاړئ سر لاندې يې کړئ. بيا مړې رو غونډې دغسل دتختې نه اوچت کړې په کفن يې واچوئ. دقميص نيمه حصه چه سرلاندې ده پرې راکاږئ سر پکښې رااوباسئ پښو طرف ته يې راکاږئ. قميص چه ورته واغوندوئ. په سر اوپه ږيره ورته عطر اومږئ. خوشبوئی پرې پورې کړئ. ياد لرئ چه سړی ته زعفران نۀ دی لګول پکار. بيا په تندی، پوزه اوپه دواړو لاسونو او تلواوپه دواړه ګوډو (کونډاو) اوپه دواړو پښو (په کوموچه انسان سجده کوی) کافور پرې اومږئ. دې نه روستو د ازار(کفن) ګس پلسکې (ګوټ) په مړی راواچوه، بيا پرې ښئ پلسکې (ګوټ) را واچوه. ګس پلسکې به لاندې وی اوښئ به پرې دپاسه وی. بيابه لفافه دارنګې انغاړې چه ګس پلسکې به لاندې اوښئ پرې دپاسه وی. بيابه دکپړې په ريښه (مزی) دکفن سر او پښې اوتړې. اوپه مينځ کښې د ملانه لاندې يو ريښه اوتړه چه هوا سره پرانۀ نستې شی. (شامی، بهشتی زيور، مسافر آخرت)

## ښځې ته د کفن ورکولو طريقه

ښځې ته به ړومبې په کټ لفافه اوغوړوئ. په هغې سينه بند او اِزار اوغوړوئ. بيا د قميص لاندينئ حصه اوغوړوئ او د پاسه حصه اونغاړئ سرلاندې يې کړئ. بيا مړې په مزه د غسل د تختې نه اوچت کړئ په کفن يې څملوئ. د قميص نيمه حصه چه د سرلاندې ده هغه په سټ کړئ، مړې ته قميص واغوندوئ. په داسې طريقه چه سريې په ګريوان کښې ننوځی. قميص پښو طرف ته راکاږئ. په کومه کپړه کښې چه غسل ورکړيدې. هغه ترې لرې کړئ. او په سريې عطروغيره خوشبو اولګوئ. زعفران هم لګولې شئ. بيا په تندی پوزه او په دواړو تلو او دواړو ګوډو، او په دواړو پښو باندې کافور اومږئ. بيا د سر ويښتهٔ دوه حصې کړه او قميص د پاسه يې په سينه باندې واچوه. يوه حصه ښی طرف ته او بله حصه ګس طرفته. بيا سربند لوپټه په سر او په ويښتو اوغوړوئ. تړل يا تاوول جائزنهٔ دی.

دې نه پس په مړی اِزار داسې اونغاړئ چه ګسه غاړه لاندې او ښئ پاس وی. سربند چه په کښې راشی. بيا سينه بند په سينه د ترخ لاندې اوباسئ ګوډوسره يې اوتړئ دواړه سرونه دې نه روستو د کفن په يو ريخې کفن سرته او پښو ته اوتړئ او په مينځ کښې هم د ملانه لاندې يو چيرړه هم راتاؤ کړه اووې تړه چه د مړی کفن خوزيدو سره پرانستې نشی. (بهشتی زيور)

سينه بند به د اِزار د پاسه او لفافه د ننه به وی. ليکن که د قميص د پاسه ازار نه مخکښې اوتړې نو هم جائزدې. او که د ټولو کپړو د پاسه يعنی د لفافې نه بهر او د پاسه اوتړې نو هم درست دې.

(بهشتی زيور، مسافر آخرت)

## مړي په قبر کښې د ښخولو طريقه

اول به قبر او کنستلې شي چه نيغ او کهلاؤ وي او نيم قدا پورې ژور وي. قبر لحد والا جوړول زيات بهتر دی. مړې په قبر کښې د سر د طرفه او خپو د طرفه داخلول دواړه طريقې جائز دی خو د قبلې د طرفه کوزول افضل او بهتر دی. (شرح نقايه)

د سړی قبر ته کوزولو په وخت پرده کول نشته او ښځه چه قبر ته ښکته کوې نو پرده لګول پکار دی. څوک چه مړې په قبر کښې ښکته کوی هغه به دا دعا اووائی :

(بِسْمِ اللّٰهِ وَبِاللّٰهِ وَعَلٰى مِلَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ) (ترمذی ص ۱۷۰، ابوداؤد ص ۱۰۲)

د الله تعالی په نوم سره او د هغه په برکت او مدد سره او د رسول الله په ملت باندې (مونږ دا مړې په قبر کښې داخلوو).

مړې به په قبر کښې د قبلې په رُخ څملوې او د کفن غوټې به ئې پرانزې. بيا به پرې کچه خښتې، کاڼی، يا ګيا وغيره کيږدې خو پَخې خښتې پرې ايخودل مکروه دی. (هدايه ج ۱ ص ۱۲۷)

قبر بالکل زمکې سره برابر جوړول هم جائز دی، څلور ګوټه جوړول هم جائز دی خو قُب په شان جوړول ئې زيات افضل دی.

(شرح نقايه ج ۱ ص ۱۳۹)

## د جنازې مونځ

د يو مسلمان په وفات کيدو باندې د هغه د بخښنې دپاره چه کوم مونځ کولې شی هغې ته د جنازې مونځ وائی.

## د جنازې فرائض

د جنازې فرائض دوه دي: ۱ څلور تکبيرونه ۲ قيام

## د جنازې سنت

۱ د الله تعالى حمد او ثناء (سبحانك اللهم ..الخ) يعنى مانځه والا ثناء وئيل. ۲ نبى كريم ﷺ باندې صلوة اوسلام يعنى (د مانځه والا درود) وئيل ۳ د مړى دپاره دعا كول.

## د جنازې د مونځ صحيح كيدو شرطونه

۱ دجنازې د مونځ کونکی دپاره هم هغه شرطونه دی کوم چه دعام مونځ دپاره دی ۲ مړې به مسلمان وی ۳ د مړی بدن او کفن به پاک وی ۴ د مړی جسم به پټ وی ۵ مړې به د مونځ کونکو مخې ته پروت وی ۶ مړې به په زمکې باندې پروت وی.

## د جنازې د مانځه طريقه:

د جنازې د مانځه طريقه دا ده چه د ټولونه اول دې صفونه درست کړې شی. که لږ خلق وی نو يو صف دې جوړ کړې شی خو که تعداد زيات وی نو بيا دې درې يا پنځه يا اووۀ صفونه جوړ کړې شی، غوره دا ده چه طاق صفونه جوړ کړې شی. د دې نه پس دې امام صاحب نيت اوکړی چه زه د الله پاک دپاره دا د جنازې مونځ ورکوم او دا مونځ د دې مړی دپاره د مغفرت دعا ده. ټول مقتديان دې هم دا نيت اوکړی. امام صاحب دې په اوچت آواز سره اول کرت تکبير اووائی او مقتدی دې هم په رو آواز سره اوائی،اوبيا دې دواړه لاسونه تر

غوږونو پورې اوچتولو سره هم هغه شان اوتړی څنګه چه په عام مونځونو کښې تړلې شي. بیا دې امام او مقتدي دواړه د ماتخه والا ثناء اولولی، د ثناء لوستلو نه پس دې بغیر د لاس اوچتولو نه امام په زور او مقتدي په مزه تکبیر اولولی، بیا دې په ماتخه کښې لوستلې کیدونکې درود ابراهیمی اولولی. د دې نه پس دې بیا بغیر د لاس اوچتولو نه امام په زوره تکبیر اوائی او مقتدي دې په مزه تکبیر اوائی بیا که هغه مړې بالغ سړې یا بالغه زنانه وی نو امام او مقتدي دې دواړه دا دعا اولولی.

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَ مَيِّتِنَا ، وَ شَاهِدِنَا وَ غَائِبِنَا وَصَغِيْرِنَا وَ كَبِيْرِنَا ، وَذَكَرِنَا وَاُنْثَانَا اَللّٰهُمَّ مَنْ اَحْيَيْتَهٗ مِنَّا فَاَحْيِهٖ عَلَى الْاِسْلَامِ ، وَمَنْ تَوَفَّيْتَهٗ مِنَّا فَتَوَفَّهٗ عَلَى الْاِيْمَانِ ، اَللّٰهُمَّ لَا تَحْرِمْنَا اَجْرَهٗ وَلَا تَفْتِنَّا بَعْدَهٗ۔ (ابوداؤد، ترمذی، بیهقی)

**ترجمه:** اې الله زمونږ ژوندی، زمونږ مړی، زمونږ حاضر، زمونږ غائب، زمونږ ماشومان، زمونږ مشران، زمونږ نارینه او زمونږ زنانه اوبخښه. اې الله په مونږ کښې چه څوک ته ژوندې ساتې نو هغه په اسلام باندې ژوندې اوساته. او چا باندې چه مرګ راولې نو هغه ته په ایمان باندې مرګ ورکړه. اې الله ته د دې مړی د اجر نه مونږ مه محروم کوه او د ددې نه پس مونږ مه ګمراه کوه.

## په احادیثو کښې دا دعا هم راغلې ده:

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهٗ وَارْحَمْهُ، وَعَافِهٖ وَاعْفُ عَنْهُ، وَاَكْرِمْ نُزُلَهٗ، وَوَسِّعْ

مَدْخَلَهٗ، وَاغْسِلْهُ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرْدِ، وَنَقِّهٖ مِنَ الْخَطَايَا كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الْاَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ، وَاَبْدِلْهُ دَارًا خَيْرًا مِّنْ دَارِهٖ، وَاَهْلًا خَيْرًا مِّنْ اَهْلِهٖ، وَزَوْجًا خَيْرًا مِّنْ زَوْجِهٖ، وَاَدْخِلْهُ الْجَنَّةَ، وَاَعِذْهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَمِنْ عَذَابِ النَّارِ۔

[مسلم، ترمذی، نسائی]

**ترجمه:** اې الله! ته هغه (مړی) ته بخښنه اوکړه، په هغه رحم اوکړه، هغه معاف کړه او هغه په خپل حفاظت کښې واخله او هغه ته ښه استوګنه ورکړه، او د هغه قبر فراخه کړه، او هغه په اوبو، واورې او ګلئ سره وینځه، او د هغه ګناهونه داسې پاک کړه څنګه چه سپینه جامه د خیرو نه پاکولې شی. او هغه ته د دنیا د کور نه ښه کور، او د هغه د خاندان نه ښه خاندان او د هغه د ښځې نه ښه ښځه ورکړه، جنت ته ئې داخل کړه او د قبر او د دوزخ د عذاب نه ئې بچ کړه.

غوره دا ده چه دواړه دعاګانې اولوستلې شی. دا خود بالغ سړو او ښځو دپاره دعا وه، د نابالغ ماشوم دپاره دا دعا اولولئ.

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا وَّاجْعَلْهُ لَنَا اَجْرًا وَّ ذُخْرًا وَّاجْعَلْهُ لَنَا شَافِعًا وَّمُشَفَّعًا۔

**ترجمه:** اې الله! دا هلک زمونږ دپاره مخکښې تلونکي د مغفرت ذریعه جوړه کړه، او دې زمونږ دپاره د اجر او آخرت سامان جوړ کړه او دې زمونږ دپاره سفارشی جوړ کړه او داسې سفارشی ئې جوړ کړه چه د هغه سفارش قبول کړې شی.

د نابالغې جينۍ د پاره دا دعا اولولئ:

اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا لَنَا فَرَطًا وَّاجْعَلْهَا لَنَا اَجْرًا وَّ ذُخْرًا وَّاجْعَلْهَا لَنَا شَافِعَةً وَّ مُشَفَّعَةً۔

**ترجمه:** اې الله! دا جينۍ زمونږ د پاره مخکښې تلونکې د مغفرت ذريعه جوړه کړه، او دا زمونږ د پاره د اجر او آخرت سامان جوړه کړه او دا زمونږ د پاره سفارشي جوړه کړه او داسې سفارشي ئې جوړه کړه چه د هغې سفارش قبول کړې شي.

د دې نه پس دې امام څلورم تکبير جهرا وئيلو سره دواړو طرفونو ته سلام واړوی. او مقتديان دې هم تکبير ورو اووائی او سلام دې واړوی.

## د روژې او زکوة بيان

### د روژې فرائض

١ د صبح صادق نه ترنمر پريوتلو پورې څۀ نه خوړل او څه نۀ څکل

٢ جماع او هم بستری نه کول ٣ سره د نيت نه.

### د زکاة د فرض کيدو شرطونه

١ مسلمان کيدل ٢ آزاد (حريت) ٣ بلوغت ٤ عقل ٥ مِلک تام ٦ مال د نصاب برابر وی ٧ حاجات اصليه نه زيات وی ٨ د قرض نه فارغ وی ٩ مال نامی وی ١٠ کال پرې تير شی.

**فائده:** زکوة د ښځې خاوند، مور او پلار او بچونه علاوه هر هغه چا ته ورکولې شی چې هغه پخپله د نصاب مالک نه وی، نور تفصيل په غټو کتابو کښې دې.

## صدقة الفطر (سرسایه)

د زکاة چه کوم شرطونه دی هغه د صدقة الفطر هم دی البته صدقة الفطر کښې کال تیریدل شرط نه دی.

## د حج متعلق مختصر احکام

### د حج فرائض

د حج فرائض درې دی: ❶ احرام یعنی د زړه نه د حج نیت کول او تلبیه (لَبَّیْکَ اَللّٰهُمَّ لَبَّیْکَ..الخ) وئیل ❷ وقوف عرفات په نهم تاریخ (ذوالحجه) د زوال نه پس د لسم تاریخ (ذوالحجه) د صبح صادق پورې عرفات کښې ایساریدل اګرکه لږ ساعت هم وی.

❸ طواف زیارت دا د وقوف عرفات نه پس کیږی.

### د حج واجبات

د حج واجبات شپږ دی:

❶ مزدلفه کښې وقوف ❷ د صفا او مروه په مینځ کښې سعی کول.

❸ رمی جمار یعنی شیطانان ویشتل ❹ قارن او متمتع باندې قربانی ❺ حلق یا قصر کول ❻ آفاقی یعنی میقات نه بهر اوسیدونکی خلقو دپاره طواف وداع کول.

### د حج سنتونه

❶ مفرد آفاقی او قارن دپاره طواف قدوم کول ❷ طواف قدوم کښې رمل او اضطباع کول ❸ په اتم ذوالحجه سَحر منٰی ته تلل او هلته پنځه واړه مونځونه کول ❹ د سحر د راختلو نه پس په نهم تاریخ د منٰی نه

عرفات ته روانيدل ❺ د عرفات نه د نور ډوبيدو نه پس د حج د امام نه مخکښې نه روانيدل ❻ عرفات نه واپس تلو کښې شپه په مزدلفه کښې تيرول ❼ عرفات کښې غسل کول ❽ ايام منٰى کښې شپه په منٰى کښې کول.

## د حج اقسام

دحج درې قسمونه دی او د دريو واړو جدا جدا مسئلې دی.

❶ حج اِفراد ❷ حج قِران ❸ حج تَمتع.

## حج افراد

د حج افراد نه مراد هغه حج دې کوم سره چه عمره اونه کړې شی، صرف د حج احرام اوتړلې شی اوصرف دحج ارکان وغيره اداکړې شی. د داسې حج نوم اِفراد دې او داسې حج کونکی ته مفرد وئيلې شی. او مفرد (حج افراد کونکی) باندې قربانی واجب نه ده.

**مسئله:** افرادحج کښی چه کوم احرام اوتړلې شی (مکې مکرمې ته رسيدوسره به مخکښی عمره نه کوی) هغه به دحج اعمال پوره کولو دپاره باقی وی.

## حج قران

د حج قِران نه مراد دا دې چه دحج اوعمرې احرام دواړه يوځائې اوتړلې شي يعنی هم يو احرام کښی ددواړو نيت اوکړې شی. نو دې ته حج قِران وئيلې شی، ځکه چه دې صورت کښی حج اوعمره دواړه يوځائې کولې شی.

## حج تمتع

حج تمتع دا دې چه انسان عمره اوحج یوځائې اوکړی خو داسې اوکړی چه د دواړو احرام جدا جدا اوتړی اوعمرې کولونه پس احرام کهلاؤلو سره دهغه ټولوڅیزونونه فائده واخلی کوم چه داحرام په حالت کښی منع کړې شوې وو، او بیا دحج احرام تړلوسره حج اداکړی، دغه شان دحج او عمرې په مینځ کښی وخت کښی احرام کهلاوهلو سره دحلال څیزونونه د فائدې اخستلو وخت ملاؤشی، په دې وجه باندې دې حج ته تمتع وئیلې شی. ددې مقابله کښی قارن دعمرې نه فارغ کیداونه پس هم داحرام په حالت کښی وی اوددې څیزونونه فائده نه شی اخستلې.

**مسئله:** تمتع دقِران نه افضل نه دې خود اِفراد نه افضل دې.

## د حج تمتع طریقه

اول به د عمرې احرام اوتړی د حج په میاشتو کښې به عمره وکړی، چه عمرې نه فارغ شی حلق یا قصر به وکړی او حلال به شی (که د تمع هدای ورسره نه وی) بیا به په مکه کښې اوسیږی چه دحج ورځې راشی نو د حج احرام به وتړی، په اتم تاریخ به منٰی ته لاړ شی هلته به د ماسپخین، مازیګر، ماښام او ماسخوتن او د سحر مونځونه وکړی، منٰی کښې به شپه تیره کړی. په نهم تاریخ د نمر ختلو نه پس به عرفات ته لاړ شی او هلته به د زوال نه تر نمر پریوتلو پورې وقوف وکړی. د لسم تاریخ شپه به په مزدلفه کښې اوکړی، بیا به د لسم تاریخ د سحر مونځ په ا ول وخت کښې اوکړی، دعا به اوکړی، او نمر ختلو ته لږ وخت

پاتې شي نو منٰی ته به لاړ شي او منٰی کښې به رمی اوکړي بیا به د تمتع قرباني اوکړي، بیا به حلق یا قصر اوکړي، بیا به طواف زیارت اوکړي سره د رمل او اضطباع، دهغې نه پس به سعی وکړي. بیا به دولسم یا دیارلسم تاریخ پورې منٰی کښې ایسار شي. هره ورځ به د زوال نه پس درې واړه جمره وولي. بیا به منٰی نه واپس مکې ته لاړ شي او طواف وداع به اوکړي. که متمتع سره هدای وي نو د عمرې نه پس به حلق یا قصر نه کوي بلکه احرام کښې به د حج د ورځو پورې اوسیږي. نور تفصیل په غټو کتابونو کښې وګورئ.

## د عمرې بیان

## د عمرې فرائض

د عمرې فرائض دوه دي:

❶ د عمرې احرام تړل ❷ طواف کول

## د عمرې واجبات

د عمرې واجبات دوه دي:

❶ د صفا او مروه په مینځ کښې سعی کول.

❷ سعی نه پس حلق یا قصر کول .

## د عمرې سنت

د عمرې په طواف کښې رمل او اضطباع کول.

## د عمرې طریقه

عمره حج اصغر دې، یعنی وړوکې حج دې، او دا د حج د ورځو نه علاوه هر وخت ادا کیدای شي. دې د پاره څه میاشت یا ورځ مقرر نه

ده، کله چه څه وخت موږ ره اوغواړي، ميقات يا حِل نه احرام اوتړئ او د احرام د محرماتو او مکروهاتو نه ځان بچ کړئ او مکه مکرمه کښې ددې دادابوخيال ساتلوسره مسجدحرام کښې باب السلام يا باب العمرة (يا د کوم ګيټ نه چه موقع وى) داخل شئ، او اضطباع يعنى داحرام څادردښې ترخ نه لاندې ويستلوسره ګسې اوږې باندې اچولوسره طواف اوکړئ، اوکله چه ړومبى ځل باندې په توري پټئ اودريدلوسره دحَجراسوداستلام يعنى دحجراسود طرف ته دلاس اشاره اوکړئ، نوکومه تلبيه چه موداحرام تړلووخت کښې شروع کړې وه هغه بندکړئ، اوطواف کښې رمل يعنى د طواف په ړومبى دريو چکرونوکښې اوږې خوزولوسره نزدې نزدې قدمونه ايخودل اوتيزتيزل تلل (صرف دسړودپاره دى) که رش نه وى اوتلوکښې تکليف نه وى، ګنې چه څنګه موقع وى طواف اوکړئ، طواف نه پس د طواف دوه رکعته نفل کولوسره دحجراسودطرف ته لاس باندې اشاره کولوسره باب الصفا باندې وتلوسره دحج په شان سعى اوکړئ، سعى ختمولوسره مروه (يادوکان ياقيام ګاه) کښې ويختهٔ کټ کولوسره يا ګنجى کولوسره حلال شئ، يعنى عام جامې واغوندئ داحرام پابندئ ختمې شوې اودسعى نه پس دوه رکعته نفل کول مستحب دى. بس عمره اوشوه. (معلم الحجاج ص ٢٠٤)

**نوټ:**

طواف نه پس دوه رکعته نفل کول واجب اوسعى نه پس مستحب دى.

## د مختلفو حقوقو بيان

### په بنده باندې د الله حقونه

❶ په الله باندې ايمان راوړل دهغه وجود ، توحيد، اسماء او صفات منل ❷ خالص د هغه عبادت کول ❸ په هغه باندې توکل کول ❹ دهغه په دين باندې عمل او کلکوالې ❺ د الله سره محبت کول ❻ ټول عبادات يواځې دهغه دپاره کول بغير د رياکارئ نه ❼ دهغه د دين دفاع، اقامت او تبليغ کول ❽ دهغه د دوستانو سره محبت کول او دشمنانو سره نفرت کول.

### د قرآن حقوق

❶ ايمان پرې راوړل ❷ الفاظ زده کول او تلاوت ئې کول ❸ دخپل وَس مناسب ټول يا څه حصه په يادو يادول ❹ غور او فکر (تدبر) پکښې کول ❺ په معنی ئې ځان پوهه کول ❻ عمل او فيصلې پرې کول ❼ عزت او تعظيم ئې کول ❽ دعوت او تبليغ ئې کول.

### د رسول الله ﷺ حقوق

❶ دهغه رسالت او نبوت باندې ايمان راوړل ❷ دهغه ختم نبوت منل ❸ دهغه اتباع او اطاعت کول ❹ دهغه په شان کښې غُلُو (افراط او تفريط) نه کول ❺ دهغه عزت او تعظيم کول ❻ دهغه سره او دهغه آل اولاد، بيبيانو او صحابه کرامو سره محبت کول ❼ په هغه باندې درود وئيل ❽ دهغه په طريقو عمل کول ❾ دهغه د حالاتو او سيرت نه ځان خبرول ❿ دهغه د ناموس او دين حفاظت او دفاع کول.

## د صحابه کرامو رضی الله عنهم حقوق

❶ دهغوی تعظیم او عزت کول ❷ دهغوی اقتداء کول ❸ دهغوی سره محبت ساتل ❹ دهغوی ښه تذکره کول ❺ دهغوی بد نه وئیل ❻ دهغوی دفاع کول. ❼ دهغوی مبغوضینو سره بُغض ساتل.

## د علماؤ حقوق

❶ دهغوی تعظیم او عزت کول ❷ دهغوی نه ددین مسائل اِزده کول ❸ دهغوی غیبت او هغوی پورې ټوقې خندا نه کول ❹ په هغوی باندې ښه ګمان کول ❺ دهغوی دپاره د دین دخدمت او توفیق دعا کول ❻ په حق کښې دهغوی خبره منل او عمل پرې کول.

## د مسلمانانو حقوق

❶ مسلمان پورې ټوقې مسخرې او خندا نه کول ❷ نقصان او تکلیف ورته نه رسول ❸ بې ځایه بدګمانی پرې نه کول ❹ پرده پرې اچول ❺ سلام پرې اچول اود سلام جواب ورکول ❻ جائز دعوت ئې قبلول ❼ د مسلمانانو په مینځ کښې ورُور ولی او اتحاد پیدا کول ❽ خیر خواهی ئې لټول ❾ جنازه پرې کول ❿ چې بیمار شي تپوس ئې کول ⓫ چه پرنجې اوکړی یرحمک الله ورته وئیل ⓬ ضرورت ئې پوره کول ⓭ امر بالمعروف نهی عن المنکر ورته کول.

## د جهاد مراتب

د جهاد ګنړ مراتب دی:

❶ نفس سره جهاد ❷ شیطان سره جهاد ❸ کفار او منافقانو سره جهاد ❹ ارباب ظلم او فسق و فجور والو سره جهاد.

❶ د نفس سره دَ جهاد څلور مرتبې دی: ❶ دحق دین علم حاصلول ❷ په هغې عمل کول ❸ دهغې دعوت ورکول ❹ دهغې په لار کښې تکلیفونه برداشت کول.

❷ د شیطان سره دَ جهاد دوه مرتبې دی: ❶ د شیطان د طرف نه د راتلونکی شکوکو او شبهاتو مقابله کول ❷ د شیطان د طرف نه د راتلونکو غلطو ارادو او شهواتو مقابله کول.

❸ د کفارو او منافقانو سره دَ جهاد څلور مرتبې دی: ❶ په زړه سره جهاد کول ❷ په ژبه جهاد کول ❸ په مال جهاد کول ❹ په نفس (جان) جهاد کول.

❹ ظالمانو او فاسقانو مبتدعینو او ظالمانو سره دَ جهاد درې مرتبې دی: ❶ په لاس جهاد کول ❷ په ژبه جهاد کول ③ په زړه جهاد کول.

## د آخری لس سورتونو ترجمه

## سورة الفيل

أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَابِ الْفِيلِ ﴿١﴾ أَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِي تَضْلِيلٍ ﴿٢﴾
وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا أَبَابِيلَ ﴿٣﴾ تَرْمِيهِم بِحِجَارَةٍ مِّن سِجِّيلٍ ﴿٤﴾ فَجَعَلَهُمْ
كَعَصْفٍ مَّأْكُولٍ ﴿٥﴾

آیا تاته پته نشته (ته نه ګورې) چه ستا رب د هاتیانو والا سره څنګه سلوک وکړو آیا هغه دهغوی تدبیرونه (چلونه) ناکامه (بیکاره) نه کړل؟ او په هغوی باندې ئې ډلې ډلې مرغۍ راپریښودلې چه د خاورو په پخو کانړو به ئې ویشتل نو داسې ئې کړل لکه خوړلی شوی بُوس.

## سورة قریش

لِاِيْلٰفِ قُرَيْشٍۙ۝۱ اِلٰفِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَآءِ وَالصَّيْفِۚ۝۲ فَلْيَعْبُدُوْا رَبَّ هٰذَا الْبَيْتِۙ۝۳ الَّذِيْٓ اَطْعَمَهُمْ مِّنْ جُوْعٍ۬ۙ وَّاٰمَنَهُمْ مِّنْ خَوْفٍ۝۴

چونکه قریش عادت شوی دی یعنی د ژمی او د اوړی سفر سره عادت شوی دی نو هغوی له پکار ده چه دوی عبادت وکړی د هغه رب (مالک) چه هغه د لوږې په حالت کښې دوی ماړه کړی دی (دوی له ئې خوراک ورکړې دې ) او د بدا امنۍ نه ئی محفوظ کړی دی.

## سورة الماعون

اَرَءَيْتَ الَّذِيْ يُكَذِّبُ بِالدِّيْنِۭ۝۱ فَذٰلِكَ الَّذِيْ يَدُعُّ الْيَتِيْمَۙ۝۲ وَلَا يَحُضُّ عَلٰى طَعَامِ الْمِسْكِيْنِۭ۝۳ فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّيْنَۙ۝۴ الَّذِيْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَۙ۝۵ الَّذِيْنَ هُمْ يُرَآءُوْنَۙ۝۶ وَيَمْنَعُوْنَ الْمَاعُوْنَ۝۷

آیا تا هغه کس لیدلې دې چه جزاء او سزا دروغژن ګڼړی؟ نو دا هغه کس دې چه یتیم ته دیکې ورکوی او مسکین ته د خوراک ورکولو ترغیب (قدارې هم) نه ورکوی نو (بیا) داسې مونځ ګزار دِ تباه شی چه هغوی د خپلو مونځونو نه بې خبره (غافله) دی یعنی هغه خلق (دی) چه هغوی ریاکاری کوی او د معمولی (عام د ضرورت)څیز د ورکولو نه هم انکار کوی.

## سورة الكوثر

اِنَّآ اَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَرَۭ۝۱ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْۭ۝۲ اِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْاَبْتَرُ۝۳

اې نبی! یقین وکړه چه مونږ تاته ډیر لوئې خیر درکړې دې نو (اوس)

ته د خپل رب د پاره مونځ کوه او قرباني کوه (او) يقين وکړه چه ستا دشمن به بې نومه وی .

## سورة الكافرون

قُلْ يَآيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ ۝١ لَآ اَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ ۝٢ وَلَآ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَآ اَعْبُدُ ۝٣ وَلَآ
اَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدْتُّمْ ۝٤ وَلَآ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَآ اَعْبُدُ ۝٥ لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ ۝٦

(اې نبی کافرانو ته) اووايه! چه اې کافرانو ! زه د هغه څيز عبادت نه کوم فی الحال چه تاسوئې کوئ او نه تاسو د هغه چا عبادت کوئ چه زه ئې کوم او نه زه آئنده د هغه څيز عبادت کونکې يم چه تاسوئې کوئ او نه تاسو آئنده د هغه چا (ذات) عبادت کونکی يئ چه زه ئې کوم ستاسو دپاره ستاسو دين دې او زما دپاره زما دين دې

## سورة النصر

اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ ۝١ وَرَاَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُوْنَ فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ اَفْوَاجًا ۝٢
فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ ؕ اِنَّهٗ كَانَ تَوَّابًا ۝٣

اې نبی څه وخت چه دالله تعالی مدد او فتح راشی او ته خلق ووينې چه د الله په دين کښ ډلې ډلې داخليږی نو د خپل رب د حمد سره سره د هغه پاکی بيانوه او بخښنه ترې غواړه يقين وکړه چه هغه ډير معافی کونکې دې .

## سورة اللهب

تَبَّتْ يَدَآ اَبِيْ لَهَبٍ وَّتَبَّ ۝١ مَآ اَغْنٰى عَنْهُ مَالُهٗ وَمَا كَسَبَ ۝٢ سَيَصْلٰى نَارًا ذَاتَ
لَهَبٍ ۝٣ وَّامْرَاَتُهٗ ؕ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ ۝٤ فِيْ جِيْدِهَا حَبْلٌ مِّنْ مَّسَدٍ ۝٥

د ابولهب لاسونه دِ مات شي او هغه دِ هلاک شي ، نه خوئې مال پکار راغې او نه هغه څه چه ګټلي ئې وو ډیر زر به هغه د لمبو والا اور ته داخل شي او ښځه به (ئې هم داخله شي) چه خشاک ئې اوچت کړي ګرځي د هغې په غاړه کښي به یوه مضبوطه غښتلي رسئ وي .

## سورة الاخلاص

قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ۝١ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ۝٢ لَمْ يَلِدْ ۙ وَلَمْ يُوْلَدْ ۝٣
وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ۝٤

اې نبی ! (خلقو ته) او وایه چه الله اِک یو دې (داسې ذات دې) چه ټول د هغه محتاج دي او هغه د چا محتاج نه دې (بې پروا دې) نه د هغه اولاد شته او نه هغه دچا اولاد دې او هیڅ څوک د هغه برابر نشته.

## سورة الفلق

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ۝١ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ۝٢ وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ اِذَا وَقَبَ ۝٣ وَمِنْ شَرِّ
النَّفّٰثٰتِ فِي الْعُقَدِ ۝٤ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ۝٥

اې نبی ! او وایه چه زه د صبا د مالک پناه غواړم د هر هغه څیز د شرنه چه هغه پیدا کړي دي او د تورې شپې د تیارې د شرنه (پناه غواړم) چه کله راخوره شي او په غوټو کښي د پوکو وهونکو د شرنه پناه غواړم او حسدګر چه کله حسد شروع کړي د هغې د شرنه پناه غواړم.

## سورة الناس

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ۝١ مَلِكِ النَّاسِ ۝٢ اِلٰهِ النَّاسِ ۝٣ مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ ۙ
الْخَنَّاسِ ۝٤ الَّذِيْ يُوَسْوِسُ فِيْ صُدُوْرِ النَّاسِ ۝٥ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ۝٦

اې نبي ! اُ وایه ! چه د ټولو خلقو د رب پناه غواړم د ټولو خلقو د بادشاه (پناه غواړم) د ټولو خلقو د معبود (پناه غواړم) د هغه وسوسې اچونکي د شر نه چه وروستو کیږي (پټیږي) چه د خلقو په سینو کښې وسوسې اچوي د پیریانو نه وي او که د انسانانو نه وي .

## آسماء حسنی

بسم الله الرحمٰن الرحیم

## د الله تعالی د اسماء حسنی بیان

په حدیث شریف (۲) کښې راغلی دی چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه : د الله تعالی اسماء حسنی چه هغې سره د دعا غوښتلو مونږ ته حکم راکړې شوې دې هغه یو کم سل (۹۹) نومونه دی څوک چه دا نومونه یاد کړی او لولی ئې نو هغه به جنت ته داخل شی .

(هم ددې حدیث په نورو الفاظو کښې دا دی چه) څوک دا نومونه یاد کړی (او روزانه ئې وائی) هغه به ضرور جنت ته داخلیږی هغه نومونه دادی : وَلِلّٰهِ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى فَادْعُوْهُ بِهَا ص (سورة الاعراف)

او د الله د پاره ښه ښه نومونه دی نو تاسو (همیشه) هغه په ښه نومونو سره رابلئ،

---

۲) په دې حدیث کښې د یوکم سل (۹۹) نومونو ذکر راغلې دې په دې کښې زیات نومونه په قرآن کریم کښې ذکردی صرف یوڅو نومونه داسې دی چه هغه بعینهٖ (همدغسې) په قرآن کریم کښې ذکرنه دی لیکن دهغې ماده (اصل) چه دهغې نه دغه نومونه راوځی په قرآن کریم کښې ذکردی مثلاً مُنْتَقِمْ بعینهٖ په قرآن کریم کښې نه دې ذکر شوې خو ذُوانْتِقَام په قرآن مجیدکښې راغلې دې چه ددې معنیٰ هم بعینهٖ هم هغه ده کومه چه د مُنْتَقِمْ ده (یعنی انتقام اخستونکې)

## د الله تعالی یو کم سل نومونه (۹۹) او د هغې ترجمه

❶ هُوَ اللّٰهُ الَّذِیْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ...): هم دغه الله یعنی په حقه معبود دي، د هغه نه سوا بل هیڅوک معبود نشته.

❷ الرَّحْمٰنُ: ډیر مهربان. ❸ الرَّحِیْمُ: ډیر رحم کونکي.

❹ اَلْمَلِكُ: د ټولو جهانونو باد شاه. ❺ اَلْقُدُّوْسُ: ډیر پاک.

❻ السَّلَامُ: د ټولو عیبونو او کمزورونه پاک.

❼ اَلْمُؤْمِنُ: د امن او امان ورکونکي.

❽ اَلْمُهَیْمِنُ: د ټول مخلوق نګرانی کونکي.

❾ اَلْعَزِیْزُ: د پوره غلبې والا چه د چا نه مغلوبه کیږی نه.

❿ اَلْجَبَّارُ: د وُرانو کارونو او حالاتو ټیک کونکي.

⓫ اَلْمُتَکَبِّرُ: د عظمت خاوند ⓬ اَلْخَالِقُ: پیدا کونکي

⓭ اَلْبَارِئُ: ساه اچونکي ⓮ اَلْمُصَوِّرُ: صورت جوړونکي

⓯ اَلْغَفَّارُ: ډیر معافی کونکي

⓰ اَلْقَهَّارُ: ټول په قابو کښې ساتونکي

⓱ اَلْوَهَّابُ: ډیر ورکونکي ⓲ الرَّزَّاقُ: ښه روزی رسونکي

⓳ اَلْفَتَّاحُ: دفتح، بخشش، رزق او رحمت دروازې پرانستونکي

⓴ اَلْعَلِیْمُ: ښه پوهیدونکي. ㉑ اَلْقَابِضُ: روزی تنګونکي.

㉒ اَلْبَاسِطُ: روزی فراخه کونکي.

۲۳ اَلْخَافِضُ: (نافرمانو لره) ښکته کونکې.

۲۴ اَلرَّافِعُ: (نیکانو لره) پورته کونکې.

۲۵ اَلْمُعِزُّ: (مسلمانانو ته) عزت ورکونکې.

۲۶ اَلْمُذِلُّ: (کافرانو لره) ذلیل او رسوا کونکې.

۲۷ اَلسَّمِيْعُ: ښه اوریدونکي

۲۸ اَلْبَصِيْرُ: هر څیز لره ښه لیدونکې.

۲۹ اَلْحَكَمُ: د ټولو حاکم ۳۰ اَلْعَدْلُ: ډیر انصاف کونکي

۳۱ اَللَّطِيْفُ: ډیر باریک بین او نرمی کونکي

۳۲ اَلْخَبِيْرُ: ډیر باخبره

۳۳ اَلْحَلِيْمُ: ډیر صبرناک ، ډیر برداشت والا.

۳۴ اَلْعَظِيْمُ: ډیر لویئ والا. ۳۵ اَلْغَفُوْرُ: ډیر بخښونکې.

۳۶ اَلشَّكُوْرُ: ډیر قدردان (یعنی په لږ عمل باندې زیات ثواب ورکونکې)

۳۷ اَلْعَلِيُّ: ډیر اوچت. ۳۸ اَلْكَبِيْرُ: ډیر لوئې.

۳۹ اَلْحَفِيْظُ: د ټولو ښه حفاظت کونکي

۴۰ اَلْمُقِيْتُ: ټولو ته خوراک ورکونکي

۴۱ اَلْحَسِيْبُ: حساب اخستونکي

۴۲ اَلْجَلِيْلُ: د لوئی شان والا ۴۳ اَلْكَرِيْمُ: ډیر سخی

۴۴ اَلرَّقِيْبُ: ښه نګرانی کونکي

۴۵ اَلْمُجِيْبُ: د ټولو دعاګانو اوریدونکي او قبلونکي

۴۶ اَلْوَاسِعُ: ډیر د وسعت خاوند ۴۷ اَلْحَكِيْمُ: ډیر د حکمت خاوند

۴۸ اَلْوَدُوْدُ: (د نیکانو سره) ډیر محبت کونکي

۴۹ اَلْمَجِيْدُ: ډیر لوئي شان والا ۵۰ اَلْبَاعِثُ: د مړو ژوندي کونکي

۵۱ اَلشَّهِيْدُ: حاضر او ناظر ۵۲ اَلْحَقُّ: ثابت او حق

۵۳ اَلْوَكِيْلُ: ډیر لوئي کارساز ۵۴ اَلْقَوِيُّ: ډیر د قوت والا

۵۵ اَلْمَتِيْنُ: ډیر د مضبوط اقتدار خاوند

۵۶ اَلْوَلِيُّ: (د نیکانو) مددګار

۵۷ اَلْحَمِيْدُ: د ټولو ښه صفاتو مالک

۵۸ اَلْمُحْصِيُ: ښه شمار کونکي او ګیرونکي

۵۹ اَلْمُبْدِءُ: په اول ځل پیدا کونکي

۶۰ اَلْمُعِيْدُ: دوباره راژوندي کونکي

۶۱ اَلْمُحْيِيُ: ژوندي کونکي ۶۲ اَلْمُمِيْتُ: مړ کونکي

۶۳ اَلْحَيُّ: همیشه د پاره ژوندي

۶۴ اَلْقَيُّوْمُ: ښه انتظام کونکي

۶۵ اَلْوَاجِدُ: داسې غنی او بې نیازه چه د چا محتاج نه دې

۶۶ اَلْمَاجِدُ: د بزرګۍ خاوند

۶۷ اَلْوَاحِدُ: په خپل ذات او صفاتو کښې تنها

۶۸ اَلْاَحَدُ: یک تنها په خپل ذات او صفاتو کښې

۶۹ اَلصَّمَدُ: ډیر بې نیازه بې حاجته

۷۰ اَلْقَادِرُ: ډیر د قدرت خاوند

۷۱ اَلْمُقْتَدِرُ: د قدرت کامله خاوند

۷۲ اَلْمُقَدِّمُ: (نیکانو لره) وړاندې کونکې

۷۳ اَلْمُؤَخِّرُ: (بدانو لره) روستو کونکې

۷۴ اَلْأَوَّلُ: د ټولونه اول ۷۵ اَلْاٰخِرُ: د ټولونه آخر

۷۶ اَلظَّاهِرُ: ښه ښکاره (په اعتبار دَ صفاتو)

۷۷ اَلْبَاطِنُ: ښه پټ (په اعتبار دَ ذات)

۷۸ اَلْوَالِيُ: په ټولو حکومت کونکې

۷۹ اَلْمُتَعَالِيُ: ډیر لوې او اوچت

۸۰ اَلْبَرُّ: د ښه سلوک کونکې

۸۱ اَلتَّوَّابُ: توبه قبلونکې ۸۲ اَلْمُنْتَقِمُ: بدله اخستونکې

۸۳ اَلْعَفُوُّ: ښه معافی کونکې

۸۴ اَلرَّءُوْفُ: ښه شفقت کونکې

۸۵ مَالِكُ الْمُلْكِ: د ټول جهان مالک

ذُوالْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ: دعظمت او جلال، انعام او اِکرام خاوند

۸۶ اَلْمُقْسِطُ: دعدل او انصاف خاوند

۸۷ اَلْجَامِعُ: (دقیامت په ورځ د ټولو) جمع کونکې

٨٨ الْغَنِيُّ: ډیر بې نیازه

٨٩ الْمُغْنِيُ: (بندګانو لره دمخلوق نه) بې نیازه کونکې

٩٠ الْمَانِعُ: (دهلاکت د اسبابونه) منع کونکې

٩١ الضَّآرُّ: نقصان رسونکې

٩٢ النَّافِعُ: فائده رسونکې

٩٣ النُّوْرُ: ډیر روښانه او دټول جهان روښانه کونکې

٩٤ الْهَادِيُ: هدایت کونکې

٩٥ الْبَدِيْعُ: بغیر د نمونې نه پیدا کونکې

٩٦ الْبَاقِيُ: همیشه دپاره باقی پاتې کیدونکې

٩٧ الْوَارِثُ: د ټولو څیزونو وارث

٩٨ الرَّشِيْدُ: د ټولو راه نما او نیغه لار خودونکې

٩٩ الصَّبُوْرُ: ډیر برداشت کونکې او صبرناک

(ترمذی شریف، ابواب الدعوات ج٢ ص١٨٩)

................................

**نوټ:**

که څوک په عربئ کښې اسماءِ حُسنی نه شی وئیلې نو دهغې په ترجمه دې ځان پوهه کړی او وائی دې، او الله تعالی دې په دغه صفاتو سره کامل ګڼړی او مَنی دې، انشاء الله هغه ته به هم د اسماء حُسنی فوائد او برکات حاصلیږی. (ازمُرَتِّب)

## شپږ کلمې او د هغې ترجمه

### اوله کلمه طیبه

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ۔

د الله تعالی نه سوا هیڅوک د عبادت لائق نشته حضرت محمد د الله رسول دې.

### دویمه کلمه شهادت

اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ۔

زه ګواهي ورکوم چې بغیر د الله جل جلاله نه بل هیڅوک د عبادت لائق معبود نشته، هغه یو دي، شریک نه لري، او ګواهي ورکوم چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دې،

### دریمه کلمه تمجید

سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ۔

الله پاک دې او ټول تعریفونه الله لره دی او د هغه نه سوا هیڅوک معبود نشته او الله د ټولو نه لوئې دې او نشته طاقت او قوت (د ګناه نه د ساتلو او د نیکو د کولو) مګر د یو الله جل جلاله په توفیق سره چې لوئې شان والا او عظمت والا دې.

## څلورمه کلمه توحيد

لَآاِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَاشَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِيْ وَيُمِيْتُ وَهُوَ حَيٌّ لَّا يَمُوْتُ اَبَدًا اَبَدًا ذُو الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ۔

د الله نه سوا هيڅوک معبود نشته هغه يواځې دې دهغه څوک شريک نشته، هم دهغه بادشاهي ده او دهغه دپاره ټول تعريفونه دی هغه ژوندا ورکوی او هم هغه مرګ ورکوی اوهغه هميشه هميشه دپاره ژوندې دې هغه ته کله هم مرګ نه راځی د عظمت خاوند دې او بزرګۍ والا دې دهغه په لاس کښې ده خير (ښيګړه) اوهغه په هرڅيز باندې قدرت لرونکې دې.

## پنځمه کلمه استغفار

اَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ رَبِّيْ مِنْ كُلِّ ذَنْبٍ اَذْنَبْتُهٗ عَمَدًا اَوْ خَطَـًٔا سِرًّا اَوْ عَلَانِيَةً وَّاَتُوْبُ اِلَيْهِ مِنَ الذَّنْبِ الَّذِيْ اَعْلَمُ وَمِنَ الذَّنْبِ الَّذِيْ لَا اَعْلَمُ اِنَّكَ اَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ وَسَتَّارُ الْعُيُوْبِ وَغَفَّارُ الذُّنُوْبِ ط وَلَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ.

زه دالله نه معافی غواړم چه هغه زما پروردګار دې د هرې ګناه نه چه ما کړې ده که په قصدا مې کړی ده اوکه په هيره مې کړې د ه که په پټه مې کړې ده اوکه په ښکاره مې کړې ده او زه توبه کوم دهغه په حضور کښې دهغې ګناه نه چه هغه ماته معلومه ده او دهغې ګناه نه چه

هغه ماته معلومه نه ده، بې شکه ته په غیبو خبردار ئې او د عیبونو پټونکې ئې او بخښونکې ئې ګناهونو لره، او د ګناهونو نه د بچ کیدلو طاقت او دنیک کار کولو قوت صرف د الله تعالی د طرفه دې چه هغه لوئې شان والا او عظمت والا دې.

## شپږمه کلمه ردّ د کفر

اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُبِكَ مِنْ اَنْ اُشْرِكَ بِكَ شَيْئًا وَّاَنَا اَعْلَمُ بِهٖ وَاَسْتَغْفِرُكَ لِمَالَا اَعْلَمُ بِهٖ تُبْتُ عَنْهُ وَتَبَرَّأْتُ مِنَ الْكُفْرِ وَالشِّرْكِ وَالْكَذِبِ وَالْغِيْبَةِ وَالْبِدْعَةِ وَالنَّمِيْمَةِ وَالْفَوَاحِشِ وَالْبُهْتَانِ وَالْمَعَاصِيْ كُلِّهَا وَاَسْلَمْتُ وَاَقُوْلُ لَااِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ۔

اې الله زه ستا پناه غواړم ددې خبرې نه چه زه شریک اوګرځوم تاسره هغه څیز چه زه ئې پیژنم او زه معافی غواړم دهغې ګناه نه چه دهغې ماته علم نشته ما دهغې نه توبه اوویسته او زه ویزاره یم د کفر نه او د شرک نه او د دروغو نه، او د غیبت نه او د بدعت نه او د چغلئ نه او د بې حیایئ د کارونو نه او د تهمت لګولو نه او د نورو هرقسمه نافرمانیو نه او ما ایمان راوړې دې او زه وائم چه نشته دې لائق د عبادت سوا د الله نه، حضرت محمد ﷺ د الله رسول دې.

...

# څلويښت قرآني دعاګانې

## څلور ربّنا

اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ

پناه غواړم په الله پاک باندې د شيطان رټلي شوي نه.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ۝

شروع په نوم د الله تعالی چه ډیر مهربان او ډیر رحم کونکې دې.

١ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا ؕ اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِیْعُ الْعَلِیْمُ ﴿۱۲۷﴾ (سورة بقره)

اې ځمونږ پروردګاره ! ته زمونږ نه قبول کړې، بیشکه هم ته اوریدونکې ئې عالم ئې.

٢ رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَیْنِ لَكَ وَمِنْ ذُرِّیَّتِنَاۤ اُمَّةً مُّسْلِمَةً لَّكَ ۪ وَاَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَیْنَا ۚ اِنَّكَ اَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِیْمُ ﴿۱۲۸﴾ (سورة بقره)

اې ځمونږ پروردګاره ! مونږ دواړه خپل مکمل تابعدار جوړ کړه او ځمونږ د نسل نه هم داسې یو ټولې پیدا کړه چه ستا پوره تابعدار وی او مونږ ته د عبادت طریقې اوښایه او ځمونږ توبه قبوله کړه بې شکه ته او صرف ته د معاف کولو (او) د لوئ رحمت مالک ئې.

٣ رَبَّنَاۤ اٰتِنَا فِی الدُّنْیَا حَسَنَةً وَّفِی الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿۲۰۱﴾

(سورة بقره)

اې ځمونږ پروردګاره ! مونږ ته په دنیا کښې هم ښه والې راکړې او آخرت کښې هم ښه والې راکړې، او مونږ د دوزخ د عذاب نه اوساتې.

۴ رَبَّنَآ اَفۡرِغۡ عَلَيۡنَا صَبۡرًا وَّثَبِّتۡ اَقۡدَامَنَا وَانۡصُرۡنَا عَلَى الۡقَوۡمِ الۡكٰفِرِيۡنَ ﴿۲۵۰﴾ (سورة بقره)

اې څمونږ پروردګاره ! د صبر دا صفت په مونږ باندې راتوئې کړه او مونږ ته ثابت قدمی راکړه او زمونږ مدداوکړه ددې کافرقوم په مقابله کښ.

۵ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذۡنَآ اِنۡ نَّسِيۡنَآ اَوۡ اَخۡطَاۡنَا ۚ (سورة بقره)

اې څمونږ پروردګاره ! که څمونږ نه څه خطا اوشي نومونږ په هغې مه نيسه

۶ رَبَّنَا وَلَا تَحۡمِلۡ عَلَيۡنَآ اِصۡرًا كَمَا حَمَلۡتَهٗ عَلَى الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِنَا ۚ

اې څمونږ پروردګاره ! مونږ باندې داسې بوج مه اچوه لکه څنګه چه تا څمونږ نه مخکښ خلقو باندې اچولې وو- (سورة بقره)

۷ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلۡنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهٖ ۚ وَاعۡفُ عَنَّا ۟ وَاغۡفِرۡ لَنَا ۟ وَارۡحَمۡنَا ۟ اَنۡتَ مَوۡلٰٮنَا فَانۡصُرۡنَا عَلَى الۡقَوۡمِ الۡكٰفِرِيۡنَ ﴿۲۸۶﴾ (سورة بقره)

او اې څمونږ پروردګاره ! په مونږ داسې بوج مه اچوه چه دهغې د اوچتولو طاقت په مونږ کښ نه وي او څمونږ د خطاګانو نه درګذر وکړه او مونږ ته بخنه وکړه ،اوپه مونږ رحم اوکړه هم ته زمونږ پروردګار ئې ،زمونږ امداد اوکړه د کافرو په مقابله کښ-

۸ رَبَّنَا لَا تُزِغۡ قُلُوۡبَنَا بَعۡدَ اِذۡ هَدَيۡتَنَا وَهَبۡ لَنَا مِنۡ لَّدُنۡكَ رَحۡمَةً ۚ اِنَّكَ اَنۡتَ الۡوَهَّابُ ﴿۸﴾ (سورة ال عمران)

اې څمونږ ربه! څمونږپه زړونوکښ کوږ والې مه راولې، روستو ددې نه چه تا مونږ ته هدايت کړې دې او خاص د خپل طرف نه مونږ ته رحمت

راکړي بې شکه صرف ستا ذات بې انتها ورکړې والا دې.

٩ رَبَّنَآ اِنَّكَ جَامِعُ النَّاسِ لِيَوۡمٍ لَّا رَيۡبَ فِيۡهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُخۡلِفُ الۡمِيۡعَادَ ؏ ﴿٩﴾ (سورة ال عمران)

زمونږ پروردګاره ! ته جمع کوونکې ئې خلقو لره په يو داسې ورځ کښې چه د هغې په راتلو کښې هيڅ شک نشته -'' بې شکه الله د خپلې وعدې خلاف ورزي نه کوي.

١٠ رَبَّنَآ اِنَّنَآ اٰمَنَّا فَاغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوۡبَنَا وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ۚ ﴿١٦﴾

اې ځمونږ پروردګاره ! مونږ ايمان راوړې دې ته زمونږ ګناهونه اوبخه او مونږ د دوزخ د عذاب نه اوساته.

١١ رَبَّنَآ اٰمَنَّا بِمَآ اَنۡزَلۡتَ وَاتَّبَعۡنَا الرَّسُوۡلَ فَاكۡتُبۡنَا مَعَ الشّٰهِدِيۡنَ ﴿٥٣﴾

اې زمونږ ربه ! تا چه څه نازل کړي دي مونږ په هغې باندې ايمان راوړې دې او مونږ د رسول تابعداري کړې ده ، دې وجې نه مونږ په هغه خلقو کښې وليکه چه ( د حق )ګواهي ورکوي.

١٢ رَبَّنَا اغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوۡبَنَا وَاِسۡرَافَنَا فِىۡۤ اَمۡرِنَا وَثَبِّتۡ اَقۡدَامَنَا وَانۡصُرۡنَا عَلَى الۡقَوۡمِ الۡكٰفِرِيۡنَ ﴿١٤٧﴾

اې زمونږ پروردګاره ! معاف کړه مونږته زمونږ ګناهونه هم او مونږنه چه زمونږ په کارونو کښې کوم زياتې شوې دې هغه هم ،او مونږ ثابت قدم کړه ،او زمونږ مدد اوکړه د کافرو خلقو په مقابله کښې.

۱۳ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بَاطِلًا ۚ سُبْحٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ ﴿۱۹۱﴾
اې زمونږ پروردګاره ! دا هرڅه تا بې فائدې نه دي پیدا کړی – ته (د داسې عیبونو نه) پاک ئې نومونږ د دوزخ د عذاب نه اوساتې.

۱۴ رَبَّنَا إِنَّكَ مَنْ تُدْخِلِ النَّارَ فَقَدْ أَخْزَيْتَهُ ۖ وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ أَنْصَارٍ ﴿۱۹۲﴾
اې زمونږه ربه ! ته چه څوک هم په دوزخ کښې داخل کړې ،نو تا هغه یقینًا رسوا کړو – او ظالمانو لره به څوک امدادي هم نه وي.

۱۵ رَبَّنَا إِنَّنَا سَمِعْنَا مُنَادِيًا يُّنَادِيْ لِلْإِيْمَانِ أَنْ اٰمِنُوْا بِرَبِّكُمْ فَاٰمَنَّا ۖ
اې زمونږ پروردګاره مونږ د یو آواز کوونکي نه واوریدل چه ایمان طرف ته ئې خلق رابلل چه '' ایمان راوړئ ! خپل پروردګار باندې '' نو مونږ ایمان راوړو.

۱۶ رَبَّنَا فَاغْفِرْ لَنَا ذُنُوْبَنَا وَكَفِّرْ عَنَّا سَيِّاٰتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ الْأَبْرَارِ ﴿۱۹۳﴾
اې زمونږ پروردګاره ! مونږ ته زمونږ ګناهونه معاف کړه او مونږ نه زمونږ تکالیف لرې کړې او مونږ په نیکانو کښې شامل کړې او خپل ځان ته مو راوبلې.

۱۷ رَبَّنَا وَاٰتِنَا مَا وَعَدْتَّنَا عَلٰى رُسُلِكَ وَلَا تُخْزِنَا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۖ إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ ﴿۱۹۴﴾
اې زمونږ پروردګاره ! مونږ ته هغه څه راکړې چه د هغې تا مونږ سره وعده کړې ده په ژبه د انبیاؤ خپلو او مونږه د قیامت په ورځ مه رسوا کوې یقینًا ته د وعدې خلاف ورزي نه کوې.

۱۸ رَبَّنَآ اٰمَنَّا فَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿۸۳﴾

اې زمونږ پروردګاره ! مونږ ایمان راوړې دې پس زمونږ نوم ګواهي کوونکو سره اولیکه.

۱۹ رَبَّنَآ اَنْزِلْ عَلَيْنَا مَآئِدَةً مِّنَ السَّمَآءِ تَكُوْنُ لَنَا عِيْدًا لِّاَوَّلِنَا وَاٰخِرِنَا وَاٰيَةً مِّنْكَ ۚ وَارْزُقْنَا وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿۱۱۴﴾

اې الله ! مونږ باندې د آسمان نه یو دسترخوان راولیږه چه څمونږ د پاره د خوشحالۍ یوه موقع جوړه شي د مخکنو او وروستنو د پاره او ستا د طرف نه یوه نښه وي ـ اومونږته دا نعمت راکړې، اوته د ټولونه بهترنعمت ورکونکې ئې.

۲۰ رَبَّنَا ظَلَمْنَآ اَنْفُسَنَا ٞ وَاِنْ لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۲۳﴾

اې زمونږ پروردګاره ! مونږ په خپلو ځانونو ظلم کړې دې ،او که ته مونږ معاف نه کړو او په مونږ دې رحم ونکړو ،نو یقینًا مونږ به نامراده خلقو کښې شامل شو.

۲۱ رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۴۷﴾ ع

اې څمونږ پروردګاره ! مونږ دې ظالمانو سره مه پاتې کوه ـ

۲۲ رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا بِالْحَقِّ وَاَنْتَ خَيْرُ الْفٰتِحِيْنَ ﴿۸۹﴾

اې زمونږه ربه ! زمونږ او زمونږ د قوم په مینځ کښې فیصله وکړې د حق، او ته د ټولونه بهتر فیصله کوونکې ئې

۲۳ رَبَّنَآ اَفۡرِغۡ عَلَيۡنَا صَبۡرًا وَّتَوَفَّنَا مُسۡلِمِيۡنَ ﴿۱۲۶﴾

اې زموږ پروردګاره ! موږ باندې صبر رانازل کړې ،او موږ ته په داسې حالت کښې مرګ راولې چه موږ ستا تابعداريو.

۲۴ رَبَّنَا لَا تَجۡعَلۡنَا فِتۡنَةً لِّلۡقَوۡمِ الظّٰلِمِيۡنَ ﴿۸۵﴾ وَنَجِّنَا بِرَحۡمَتِكَ مِنَ الۡقَوۡمِ الۡكٰفِرِيۡنَ ﴿۸۶﴾

اې زموږ پروردګاره! موږ په امتحان کښې مه اچوه ددې ظالمانو په لاس، او خلاصې راکړه موږ ته په خپل رحمت سره د کافر قوم نه.

۲۵ رَبَّنَآ اِنَّكَ تَعۡلَمُ مَا نُخۡفِىۡ وَمَا نُعۡلِنُ ؕ وَمَا يَخۡفٰى عَلَى اللّٰهِ مِنۡ شَىۡءٍ فِى الۡاَرۡضِ وَلَا فِى السَّمَآءِ ﴿۳۸﴾

اې زموږ ربه ! موږ چه کوم کار په پټه کوو هغه هم ستا په علم کښې دې،او کوم کار چه ښکاره کوو هغه هم. او پټ نه دې د الله پاک نه يو څيز هم ،نۀ د زمکې ، او نه د آسمان.

۲۶ رَبَّنَا وَتَقَبَّلۡ دُعَآءِ ﴿۴۰﴾ اې زموږ ربه! او زما دعا قبوله کړه.

۲۷ رَبَّنَا اغۡفِرۡ لِىۡ وَلِوَالِدَىَّ وَلِلۡمُؤۡمِنِيۡنَ يَوۡمَ يَقُوۡمُ الۡحِسَابُ ﴿۴۱﴾

اې زموږ ربه! ماته هم بخښنه اوکړه، او زما مور پلار ته هم، او هغه ټولو ته هم چا چه ايمان راوړې دې په کومه ورځ چه حساب قائم شی،

۲۸ رَبَّنَآ اٰتِنَا مِنۡ لَّدُنۡكَ رَحۡمَةً وَّهَيِّئۡ لَنَا مِنۡ اَمۡرِنَا رَشَدًا ﴿۱۰﴾

اې زموږ ربه! نازل کړه په موږ باندې خاص دخپل طرفه رحمت او برابر کړه زموږ په کارونو کښې زموږ دپاره دخير لاره.

۲۹ رَبَّنَآ اِنَّنَا نَخَافُ اَنْ يَّفْرُطَ عَلَيْنَآ اَوْاَنْ يَّطْغٰى ﴿۴۵﴾

اې زمونږربه! مونږسره ويره ده چه چرته هغه زياتي اونکړي،په مونږ باندې، يا چرته سرکشئ ته تيارنه شي.

۳۰ رَبِّ اجْعَلْنِىْ مُقِيْمَ الصَّلٰوةِ وَمِنْ ذُرِّيَّتِىْ ۖ رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَآءِ ﴿۴۰﴾

رَبَّنَا اغْفِرْلِىْ وَلِوَالِدَىَّ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ يَوْمَ يَقُوْمُ الْحِسَابُ ﴿۴۱﴾

اې زما ربه ! ما هم د مونځ پابندجوړ کړه او زما اولاد هم، اې زمونږ ربه! زما دعا قبوله کړې. اې زمونږربه! ماته هم بخښنه اوکړه اوزما مور پلارته هم، او ټولو مؤمنانوته هم په هغه ورځ چه حساب قائم شي.

۳۱ رَبَّنَآ اٰمَنَّا فَاغْفِرْلَنَا وَارْحَمْنَا وَاَنْتَ خَيْرُالرّٰحِمِيْنَ ﴿۱۰۹﴾

اې زمونږربه! مونږايمان راوړې دې، پس مونږته بخښنه اوکړه،او په مونږباندې رحم اوکړه، او ته د ټولونه لوئې رحم کونکې ئې.

۳۲ رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ ۖ اِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا ۖ ﴿۶۵﴾

اِنَّهَا سَآءَتْ مُسْتَقَرًّا وَّمُقَامًا ﴿۶۶﴾

اې زمونږربه! د جهنم عذاب زمونږنه لرې اوساته.حقيقت دا دې چه دهغې عذاب هغه تباهي ده کومه چه اينخلي.يقينًا هغه د مستقر او قيام ګاه جوړيدلو دپاره بدترين ځائې دې.

۳۳ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ اَزْوَاجِنَا وَذُرِّيّٰتِنَا قُرَّةَ اَعْيُنٍ وَّاجْعَلْنَا

لِلْمُتَّقِيْنَ اِمَامًا ﴿۷۴﴾

اې زمونږربه! راکړې مونږته د خپلو ښځواوبچونه د سترګويخ والې ، او مونږد پرهيزګارانو اماماں جوړ کړه.

۳۴ اِنَّ رَبَّنَا لَغَفُوْرٌ شَكُوْرٌ ۟ۙ

بې شکه زمونږ پروردګار ډیر زیات بخښونکې او لوئې قدردان دې

۳۵ رَبَّنَا وَسِعْتَ كُلَّ شَیْءٍ رَّحْمَةً وَّعِلْمًا فَاغْفِرْ لِلَّذِیْنَ تَابُوْا وَاتَّبَعُوْا سَبِیْلَكَ وَقِهِمْ عَذَابَ الْجَحِیْمِ ۟

اې زمونږ پروردګاره! ستا رحمت او علم په هر څیز باندې خور دې، نو او بخښه هغه خلق چه هغوی توبه کړې ده، او روان دی هغوی ستا په لاره باندې ، او هغوی د دوزخ د عذاب نه بچ کړه.

۳۶ رَبَّنَا وَاَدْخِلْهُمْ جَنّٰتِ عَدْنِ ِالَّتِیْ وَعَدْتَّهُمْ وَمَنْ صَلَحَ مِنْ اٰبَآىِٕهِمْ وَاَزْوَاجِهِمْ وَذُرِّیّٰتِهِمْ ؕ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِیْزُ الْحَكِیْمُ ۟ۙ وَقِهِمُ السَّیِّاٰتِ ؕ وَمَنْ تَقِ السَّیِّاٰتِ یَوْمَىِٕذٍ فَقَدْ رَحِمْتَهٗ ؕ وَذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِیْمُ ۟۠

اې پروردګاره! داخل کړه هغوی دهمیشه او سیدلو هغه جنتونو کښې د کوموچه تا هغوی سره وعده فرمائیلې ده، اوچه څوک نیک وی، دهغوی په مور پلار او ښځه بچو کښې هغوی لره هم ،یقیناً صرف هم ستا ذات هغه دې، چه دهغه اقتدار هم کامل دې او حکمت هم او هغوی لره د هر قسمه بدو نه محفوظ اوساته او په هغه ورځ چه تا څوک د بدو نه محفوظ کړو، نو یقیناً په هغه باندې تا لوئې رحم او کړو، او هم دا لویه کامیابی ده.

٣٧ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِاِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا بِالْاِيْمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِيْ قُلُوْبِنَا غِلًّا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا رَبَّنَآ اِنَّكَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٠﴾

اې زمونږ پروردګاره! زمونږ مغفرت هم اوکړه، او زمونږ د هغې رونړو هم چه زمونږ نه مخکښ ئې ايمان راوړې دې، او زمونږ په زړونو کښ د ايمان والو دپاره څه بغض مه ساته، اې زمونږ پروردګاره! ته ډير شفقت کونکې، او ډير مهربان يې.

٣٨ رَبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا وَاِلَيْكَ اَنَبْنَا وَاِلَيْكَ الْمَصِيْرُ ﴿٤﴾

اې زمونږ پروردګاره! هم په تا باندې مونږ بهروسه کړې ده، او هم ستا طرف ته مونږ رجوع کوؤ، او هم ستا طرف ته د ټولو واپسی ده.

٣٩ رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَاغْفِرْ لَنَا رَبَّنَا ۚ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿٨﴾

اې زمونږ پروردګاره! مونږ د کافرانو دپاره آزمائش مه ګرځوه، او اې زمونږ پروردګاره! زمونږ مغفرت اوکړه، يقيناً صرف هم ستا ذات هغه دې، چه د هغه اقتدار هم کامل دې او حکمت هم

٤٠ رَبَّنَآ اَتْمِمْ لَنَا نُوْرَنَا وَاغْفِرْ لَنَا ۚ اِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٨﴾

اې زمونږ پروردګاره! زمونږ دپاره زمونږ نور مکمل کړه، او زمونږ مغفرت اوکړه، يقيناً ته په هر څيز باندې پوره قدرت لرونکې ئې،

.................

## څلويښت مسنون دعاګاني

### د سَحر دَا دُعا وايئ

١ «اَللّٰهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا، وَبِكَ أَمْسَيْنَا، وَبِكَ نَحْيَا، وَبِكَ نَمُوتُ، وَإِلَيْكَ الْمَصِيْرُ» (ترمذی ۳۳۹۱)

یا الله! ستا په حکم مونږ سَحَر کړو، او ستا په حکم سره مونږ ماښام کړو، او ستا په حکم سره ژوندي کيږو، او ستا په حکم سره مرو، ستا طرف ته بيا درتګ (اوژوندي کيدل) دي.

### چه نمر راوخيژي نو دا دعا وايئ

٢ «اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ أَقَالَنَا يَوْمَنَا هٰذَا وَلَمْ يُهْلِكْنَا بِذُنُوبِنَا» (مسلم: ۱۹۱۱)

ټول تعريفونه الله لره دي چه مونږ ئې نن معاف کړو او د ګناهونو په وجه ئې مونږ هلاک نه کړو.

### ماښام دا دعا وايئ

٣ اَللّٰهُمَّ بِكَ أَمْسَيْنَا، وَبِكَ أَصْبَحْنَا، وَبِكَ نَحْيَا، وَبِكَ نَمُوتُ، وَإِلَيْكَ النُّشُوْرُ» (ترمذی ۳۳۹۱)

یا الله! ستا په حکم سره مونږ ماښام کړو، او ستا په حکم مونږ سَحَر کړو، او ستا په حکم سره ژوند کوو، او ستا په حکم سره مرو، ستا طرف ته بيا درتګ (اوژوندي کيدل) دي.

### د سحر او ماښام يوه خاص دعا

حضرت عثمان رضی اللہ عنہا فرمائی چه رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم فرمائيلي دي چه کوم بنده هر سحَر او ماښام درې ځل دا کلمات وائی نوهغه ته به څه

ځيز ضرر نه رسَوی، په بل روايت کښې دی چه هغه ته به څه ناڅاپی مصيبت نه رسيږی _ کلمات دادی:

۴ بِسْمِ اللّٰهِ الَّذِيْ لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهٖ شَيْءٌ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَآءِ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ (ترمذی:۳۳۸۸)

(سَحر او ماښام) دهغه الله (نوم اخلم) چې دهغه دنوم په وجه هيڅ ځيز په ځمکه او آسمان کې ضرر نه رَسَوی او هغه ښه اوريدونکې او ښه پوهه دې.

## د اوده کيدو په وخت د لوستلو ځيزونه

کله چه د اوده کيدو اراده اوکړې نو اودس اوکړه او خپله بستره درې ځل اوڅنډه، بيا په ښې اړخ باندې څمله اود سرلاندې ښې لاس کيږده بيا درې ځله دا اووايه:

اَللّٰهُمَّ قِنِيْ عَذَابَكَ، يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ (ابوداؤد:۵۰۴۵)

يا الله! ستاله عذاب نه مې وساتی په کومه ورځ چه خپل بندګان بيا ژوندی کوې.

## يا دا دعا وايه

اَللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ أَمُوْتُ وَأَحْيَا۔ (بخاری:۶۳۱۴)

يا الله! ستا په نوم مرم، او ژوندې اوسم.

## اود اوده کيدو په وخت دا هم وايه

سُبْحَانَ اللّٰهِ، ۳۳ ځله اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ۳۳ ځله

اَللّٰهُ اَكْبَرُ ۳۴ ځله

## کله چه د خوب نه راپاڅي نو دا دعا وايه

❺ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ اَحْيَانَا بَعْدَ مَا اَمَاتَنَا وَاِلَيْهِ النُّشُوْرُ (بخاری: ۶۳۱۴)

ټول تعریفونه الله لره دي چه هغه مونږ ته د مرګ نه پس ژوندا راکړو او مونږ له د هغه طرف ته ورتلل دي.

## کله چه بیت الخلاء ته ځې نو دَ داخلیدو

## نه مخکښې بسم الله اووايه او دا دعا اووايه

❻ اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ أَعُوْذُبِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ (بخاری: ۶۳۲۲)

یا الله! زه په تا سره له خبیث شیطانانو نه پناه غواړم که نارینه وي او که زنانه.

## کله چه دَ بیت الخلاء نه راوځې

## نو غُفْرَانَكَ اووايه او دا اووايه

❼ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ اَذْهَبَ عَنِّی الْاَذٰی وَعَافَانِیْ (ابن ماجه: ۳۰۱)

ټول تعریفونه هغې الله لره دي چه ما نه ئې تکلیف ورکونکې څیز لرې کړو او ما ته ئې آرام راکړو.

## چه اودس شروع کړې نو دا دعا وايه

❽ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ (ابوداؤد: ۱۰۱)

شروع کوم په نوم د الله چه ډیر مهربان او زیات رحم والا دې.

## کله چه اودس اوکړې نو دا دُعا وايه

❾ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِیْ مِنَ التَّوَّابِيْنَ وَاجْعَلْنِیْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِيْنَ

(ترمذی: ۵۵)

زه ګواهي ورکوم چه د الله نه سوا څوک معبود نشته، هغه یواځې دې دهغه څوک شریک نشته، او زه ګواهي ورکوم چه محمد ﷺ د الله بنده او د هغه رسول دې. اې الله ! ما په ډیر توبه ویستونکو خلقو کښ او په ښه پاک او سیدونکو خلقو کښ شامل کړه .

## کله چه جمات کښ داخل شې نو دا دعا وایه

١٠ اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِیْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ (مسلم: ١٦٥٢)

یا الله ! ما ته دخپل رحمت دروازې خلاصې کړه.

## په مسجد کښ د کیناستو په وخت دا وایه

١١ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ

(الاذکار للنووی: ص٧٧)

الله پاک دې او ټول تعریفونه الله لره دی او دهغه نه سوا هیڅوک معبود نشته او الله د ټولونه لوئې دې.

## کله چه دَ جمات نه راوځې نو دا دعا وایه

١٢ اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ (مسلم: ١٦٥٢)

اې الله ! زه تا نه ستا دُ فضل سوال کوم

## کله چه د اذان آواز واورې

نو څه چه مؤذن وائی هم هغه وایه او د (حیّ عَلَی الصّلوٰة) او (حَیّ عَلَی الْفَلَاح) په جواب کښ (لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ) وایه.

(بخاری: ٦١١ ، ٦١٣)

## د اذان ختمیدو نه پس درود اووایه اودا دعا اووایه

⑬ اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّآمَّةِ وَالصَّلٰوةِ الْقَآئِمَةِ آتِ مُحَمَّدَنِ الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَّحْمُوْدَنِ الَّذِيْ وَعَدْتَّهٗ[3] (بخاری: ۶۱۴)

اې الله! ددې پوره اعلان ربه اود قائمیدونکی مونځ ربه! محمد ﷺ ته وسیله ورکړه (چه دا دجنت یوه درجه ده) او دوی ته فضیلت ورکړه او دوی مقامِ محمود ته اورَسوه دکوم چه تا دوی سره وعده فرمائیلې ده.

## د فرض مونځ سلام اړولو نه پس درې ځله

## استغفرالله اووایه او دا دعا اووایه

⑮ اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ يَاذَا الْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ (نسائی:۱۷۵۳)

اې الله ته سلامت ئې، او هم ستا نه سلامتی ملاویږی، ته برکت والا ئې اې د لویئ او بزرګئ والا.

## او بیا دا دعا اووایه

⑭ اَللّٰهُمَّ اَعِنِّیْ عَلٰی ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ.

(ابو داؤد، نسائی)

اې الله! ته زما په دې خبره کښې مدد اوکړې چې زه ستا ذکر اوکړې شم، او ستا شکر ادا کړم، او ستا ښه عبادت اوکړم.

---

[3]) ددې په وئیلو د رسول الله ﷺ شفاعت واجب کیږی.

## د وتر کولو نه پس درې ځل دا وايه

١٦ سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوْسِ ط (ابوداؤد: ١٤٣٠)

پاکي بيانوم د بادشاه يعنی د الله چه هغه ډير زيات پاک دې.

په دريم ځل په اوچت آواز سره وايه او د اَلْقُدّوس دال ښه راکاږه.

## د سحر او د ماښام د مونځ نه پس دعا

رسول الله ﷺ ارشاد فرمائيلي دي چه د سحر او د ماښام د مونځ نه پس چاسره د خبرو کولو نه مخکښ که اووه ځل دې دا دعا اووئيله نو که په دغه ورځ يا شپه کښ مړ شوې نو ستا به د دوزخ نه ضرور خلاصی کيږی.

١٧ اَللّٰهُمَّ اَجِرْنِىْ مِنَ النَّارِ (ابوداؤد: ٥٠٧٩)

اې الله ما د دوزخ نه محفوظ اوساتې.

## کله چه دَ کور نه راوځې نو دا دعا وايه

١٨ بِسْمِ اللّٰهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللّٰهِ لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّابِاللّٰهِ (ترمذی: ٣٤٢٦)

(دالله) په نامه سره (له کورنه وځم) په الله باندې توکّل کوم، او نشته هيڅ قوت او طاقت (له ګناه نه د بچ کيدلو او دَ نيکو د کولو) مګر دالله (په توفيق) سره.

## کورته چه داخل شې نو دا دعا وايه

١٩ اَللّٰهُمَّ اِنِّىْ اَسْئَلُكَ خَيْرَ الْمَوْلِجِ وَخَيْرَ الْمَخْرَجِ بِسْمِ اللّٰهِ وَلَجْنَا وَعَلَى اللّٰهِ رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا (ابوداؤد: ٥٠٩٦)

اې الله زه ستا نه ښه داخليدل او ښه راوتل غواړم، د الله په نوم سره موږ داخل شو او موږ په الله باندې بهروسه اوکړه چه زموږ رَبّ دې.

ددې نه پس کور والو ته سلام کوه.

## کله چه بازار ته ځې نو دا دعا وايه

٢٠ بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ خَيْرَ هٰذِهِ السُّوْقِ وَخَيْرَ مَا فِيْهَا وَاَعُوْذُبِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ مَا فِيْهَا اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُبِكَ اَنْ اُصِيْبَ فِيْهَا يَمِيْنًا فَاجِرَةً اَوْصَفْقَةً خَاسِرَةً (مستدرك وحاكم: ١٩٧٧)

زه د الله په نوم اخستلو سره داخل شوم، اې الله زه ستا نه ددې بازار اوکوم څه چه په دې بازار کښې دی دهغې خير غواړم او ستا پناه غواړم ددې بازار د شر نه او کوم څه چه په دې بازار کښې دی دهغې د شر نه، اې الله زه ستا پناه غواړم ددې خبرې نه چه دلته په دروغ قسم اوخورم يا په معامله کښې نقصان اوکړم.

## کله چه خوراک شروع کړې نو دا دعا وايه

٢١ بِسْمِ اللّٰهِ وَعَلٰى بَرَكَةِ اللّٰهِ (مستدرك حاكم: ٧٠٨٤)

ما د الله په نوم سره اود الله په برکت باندې خوراک شروع کړو.

يا: بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ اووايه:

## که په شروع کښې بسم الله هيره شی نو په ياد راتلو دا وايه

٢٢ بِسْمِ اللّٰهِ اَوَّلَهٗ وَاٰخِرَهٗ (مستدرك حاكم: ٧٠٨٤)

ما ددې په اول او آخر کښې د الله نوم واخستلو.

په حديث شريف کښې دی چه په کوم خوراک باندې بِسْمِ اللّٰهِ اونه

وئيلي شي شيطان ته دهغې نه هغه سره د خوراک کولو موقع ملاويږي. (مسلم: ٥٢٥٩)

## کله چه خوراک اوخورې نودا وايه

٢٣ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ اَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ

(ترمذی: ٣٤٥٧)

ټول تعريفونه دالله دپاره دی چه هغه په مونږ خوراک او څکاک اوکړلو او د مسلمانانو نه ئې اوګرځولو.

## د پيئو څکلو نه پس دا دعاء وايه

٢٤ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيْهِ وَزِدْنَا مِنْهُ (ترمذی:٣٤٥٥)

يا الله! مونږته په دې کښې برکت واچوې اودا مونږ ته نور زيات رانصيب کړې.

## چه دچا سره دعوت اوخورې نودا وايه

٢٥ اَللّٰهُمَّ اَطْعِمْ مَنْ اَطْعَمَنِيْ وَاسْقِ مَنْ سَقَانِيْ (مسلم: ٥٣٦٢)

(يا الله! ته خوراک ورکړه هغه چاته چې ماته ئې خوراک راکړو، اوڅښاک ورکړه هغه چاته چې ماته ئې څښاک راکړو)

## کله چه د ميزبان د کور نه روان شې نودا دعا وايه

٢٦ اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِيْمَا رَزَقْتَهُمْ وَاغْفِرْ لَهُمْ وَارْحَمْهُمْ.(ابوداؤد: ٣٧٢٩)

اې الله ! ددوی په رزق کښې برکت واچوه او دوی اوبخښه او په دوی باندې رحم اوکړه.

## کله چه روژه ماته کړې نو دا وايه

٢٧ اَللّٰهُمَّ لَكَ صُمْتُ وَعَلٰى رِزْقِكَ اَفْطَرْتُ۔(ابوداؤد: ٢٣٥٨)

اې الله ما ستا دپاره روژه اوساتله او هم ستا په راکړې شوی رزق مې روژه ماته کړه.

## د روژه ماتی نه پس دا وايه

٢٨ ذَهَبَ الظَّمَأُ وَابْتَلَّتِ الْعُرُوْقُ وَثَبَتَ الْاَجْرُ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ(ابوداؤد: ٢٣٥٧)

تنده لاړه، او رګونه لامده شو، او که الله اوغواړی ثواب حاصل شو.

## که دچا سره روژه ماتې اوکړې نو دا دعا وايه

٢٩ اَفْطَرَ عِنْدَكُمُ الصَّآئِمُوْنَ وَاَكَلَ طَعَامَكُمُ الْاَبْرَارُ وَصَلَّتْ عَلَيْكُمُ الْمَلٰئِكَةُ۔(ابوداؤد: ٣٨٥٤)

تاسوسره دې روژه دار روژه ماته کړی، او ستاسو ډوډۍ دې نيکان وخوری، او ملائکې دې په تاسو رحمت اوليږی.

## کله چه جامې واغوندې نو دا دعا وايه

٣٠ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ كَسَانِيْ هٰذَا وَرَزَقَنِيْهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِّنِّيْ وَلَا قُوَّةٍ۔(ابوداؤد: ٤٠٢٣)

ټول تعريفونه الله دپاره دی چه ماته ئې دا جامې واغوستولې او رانصيب ئې کړې بغير زما د کوشش او قوت نه.

## کله چه نوې جامې واغوندې نو دا وايه

٣١ اَللّٰهُمَّ لَكَ الْحَمْدُ كَمَا كَسَوْتَنِيْهِ اَسْئَلُكَ خَيْرَهٗ وَخَيْرَ مَا صُنِعَ لَهٗ وَاَعُوْذُبِكَ مِنْ شَرِّهٖ وَشَرِّ مَا صُنِعَ لَهٗ(ترمذی: ١٧٦٧)

يا الله ! تا لره ټوله غوره ستاينه ده، څنګه چه تا ماته (داجامه) راواغوستله، زه ستا نه ددې د خير، او دڅه لپاره چې دا جوړه شويده دهغې دخيرسوال کوم، او زه پناه غواړم په تاسره ددې له شرنه اودهغه څه له شرنه کوم لپاره چې دا جوړه شويده.

## کله چه په شيشه کښې خپل مخ اووينې نودا وايه

٣٢ اَللّٰهُمَّ اَنْتَ حَسَّنْتَ خَلْقِيْ فَحَسِّنْ خُلُقِيْ

(عمل اليوم والليلة لابن السنى: ١٦٣)

يا الله ! څنګه چه تا زما صورت ښائسته جوړکړې دې زما اخلاق هم ښه کړې.

## د وادۀ زلمی ته دَاسې مبارکی ورکوه

٣٣ بَارَكَ اللّٰهُ لَكَ وَبَارَكَ عَلَيْكُمَا وَجَمَعَ بَيْنَكُمَا فِيْ خَيْرٍ (ترمذى: ١٠٩١)

الله دې تا لره برکت درکړی، اوپه تاسو دواړو دې برکت نازل کړی، او تاسو دواړه دې په خيرسره يوځائې کړی.

## په شب قدر کښې داسې دعا غواړه

٣٤ اَللّٰهُمَّ اِنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّيْ (ترمذى: ٣٥١٣)

يا الله ! ته معاف کونکې ئې، معافی خوښوې، لهٰذا ما معاف کړې.

## کله چه نوې مياشت اووينې نودا وايه

٣٥ اَللّٰهُمَّ اَهِلَّهُ عَلَيْنَا بِالْيُمْنِ وَالْاِيْمَانِ وَالسَّلَامَةِ وَالْاِسْلَامِ وَالتَّوْفِيْقِ لِمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى رَبِّيْ وَرَبُّكَ اللّٰهُ (ترمذى: ٣٤٥١)

اې الله ! دا (مياشت) په مونږ راوباسې په برکت او ا يمان او سلامتيا اود اسلام سره او هغه اعمالو سره کوم سره چه ته راضی ئې، اې سپوږمۍ زما او ستا رب الله دې.

## کوم مسلمان چه خوشحاله اووينې نو دا دعا وايه

۳۶ اَضْحَكَ اللّٰهُ سِنَّكَ (بخاری: ۳۶۸۳) الله دې تا هميشه اوخندوی.

## کله چه د يو مريض تپوس ته لاړشې نو هغه ته دا تسلی ورکوه

۳۷ لَا بَأْسَ طَهُوْرٌ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ (بخاری: ۳۶۱۶)

څه پروانشته، ان شاء الله (دابيماری ستا د ګناهونو) پاکونکې ده.

## چه په سورلئ با ندې کينې نو دا وايه

۳۸ سُبْحَانَ الَّذِيْ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَمَا كُنَّا لَهٗ مُقْرِنِيْنَ وَاِنَّا اِلٰى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُوْنَ (الزخرف: ۱۳، ۱۴)

الله پاک دې چاچه دا زمونږ په قبضه کښ راکړو او مونږ (دهغه د قدرت نه بغير) دې لره په خپله قبضه کښ راوستلو والا نه وو او بې شکه مونږ لره خپل رب طرف ته ضرور تلل دی.

## کله چه يو منزل (ريلوې اسټيشن يا د ګاډی په سټاپ) با ندې کوزشې نودا وايه

۳۹ اَعُوْذُ بِكَلِمٰتِ اللّٰهِ التَّآمَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ (ترمذی: ۳۴۳۷)

د الله د پوره کلماتو په واسطې سره په الله پناه غواړم دهغه د مخلوقاتو له شرنه.

## کله چه قبرستان ته لاړشې نودا وايه

۴۰ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا اَهْلَ الْقُبُوْرِ يَغْفِرُ اللّٰهُ لَنَا وَلَكُمْ اَنْتُمْ سَلَفُنَا وَنَحْنُ بِالْاَثَرِ (ترمذی: ۱۰۵۳)

اې قبرونو والو! په تاسو دې سلام وی مونږ او تاسو دې الله اوبخښی، تاسو زمونږ نه مخکښ لاړئ او مونږ درپسې راتلونکی يُو.

# چهل حدیث

بسم الله الرحمٰن الرحيم

١ اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ (بخاری)

ترجمه: د عملونو بنياد په نيتونو باندې دې.

٢ اَلْكَبَائِرُ الْاِشْرَاكُ بِاللّٰهِ وَعُقُوْقُ الْوَالِدَيْنِ وَقَتْلُ النَّفْسِ وَالْيَمِيْنُ الْغَمُوْسُ (بخاری)

ترجمه: کبيره ګناهونه دادي: الله تعالى سره څوک شريک نيول او د مور پلار نافرماني کول او څوک بې ګناه وژل او په دروغه قسم خوړل.

٣ لَعَنَ اللّٰهُ الْيَهُوْدَ وَالنَّصَارٰى اِتَّخَذُوْا قُبُوْرَ اَنْبِيَاءِهِمْ مَسَاجِدَ (بخاری)

ترجمه: الله دِ په يهودو او نصاراؤ باندې لعنت اوکړي چه هغوی د خپلو پيغمبرانو قبرونه د سجدې ځايونه جوړ کړي دي.

۴ لَا يُؤْمِنُ اَحَدُكُمْ حَتّٰى يَكُوْنَ هَوَاهُ تَبَعًا لِّمَا جِئْتُ بِهٖ (رواه الدارمی)

ترجمه: په تاسو کښې هيڅوک تر هغه وخته پورې کامل مؤمن جوړيدې نه شي ترڅو پورې چه د هغه خواهش د هغه څيز (شريعت) تابع نه شي کوم چه ما راوړې دې.

۵ كُلُّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ وَكُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ (ترمذی)

ترجمه: هره نوې خبره (په دين کښې راويستل) بدعت دې او هر بدعت ګمراهي ده.

۶ اَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ۔(ابوداؤد)

ترجمه: زه آخري پيغمبر ﷺ يم ما نه پس به هيڅوک پيغمبر نه پيدا کيږي.

۷ اٰيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثٌ إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ وَإِذَا أُؤْتُمِنَ خَانَ (بخاري)

ترجمه: د منافق درې نخښې دي کله چه خبره کوي نو دروغ وائي، چه وعده اوکړي نو وفا نه کوي او کله چې ورسره امانت کيښودې شي نو خيانت کوي.

۸ اَلطُّهُوْرُ شَطْرُ الْاِيْمَانِ (مسلم)

ترجمه: صفائي د ايمان حصه ده.

۹ لِيُؤَذِّنْ لَكُمْ خِيَارُكُمْ وَلْيَؤُمَّكُمْ قُرَّائُكُمْ(ابوداود)

ترجمه: تاسو کښې چه څوک بهتر وي هغوی دِ اذان کوي او څوک چه قاريان وي هغوی دِ امامتي کوي.

۱۰ مَنْ بَنٰى لِلّٰهِ مَسْجِدًا بَنَى اللّٰهُ لَهٗ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ(مسلم)

ترجمه: څوک چه د الله دپاره جومات جوړ کړي الله تعالى به هغه دپاره په جنت کښې کور جوړ کړي.

۱۱ لَتُسَوُّنَّ صُفُوْفَكُمْ اَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللّٰهُ بَيْنَ وُجُوْهِكُمْ (بخاري)

ترجمه: په مونځ کښې خپل صفونه نيغوئ ګني الله به ستاسو په زړونو کښې اختلاف واچوي.

۱۲ مَا اَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ مِنَ الْاِزَارِ فِي النَّارِ (بخاری)

ترجمه: د ګیټو کومه حصه چه د پرتوګ (لنګ) لاندې وی هغه به جهنم ته ځی.

۱۳ اَلْعَهْدُ الَّذِیْ بَیْنَنَا وَبَیْنَهُمُ الصَّلٰوۃُ فَمَنْ تَرَکَهَا فَقَدْ کَفَرَ (ترمذی)

ترجمه: هغه عهد (فرق) کوم چه زمونږ او د کافرو په مینځ کښې دې هغه مونځ دې نو چا چه مونځ پرېښودو یقینا هغه د کفر کار اوکړو.

۱۴ مُرُوْا اَوْلَادَكُمْ بِالصَّلٰوةِ وَهُمْ اَبْنَاءُ سَبْعِ سِنِيْنَ وَاضْرِبُوْهُمْ عَلَيْهَا وَهُمْ اَبْنَاءُ عَشْرِ سِنِيْنَ (ابوداود)

ترجمه: خپل اولاد ته د مونځ کولو حکم اوکړئ کله چه هغوی د اوو ۷ کالو شی او په مونځ نه کولوئې وهئ کله چه هغوی د لسو کالو شی.

۱۵ صَلٰوةُ الْجَمَاعَةِ تَفْضُلُ صَلٰوةَ الْفَذِّ بِسَبْعٍ وَّعِشْرِيْنَ (بخاری ومسلم)

ترجمه: جُمعي سره مونځ کول د ځانله مونځ کولو نه اویشت (۲۷) درجې بهتر وی.

۱۶ مَنْ صَلّٰى عَلَيَّ وَاحِدَةً صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ عَشْرًا (مسلم)

ترجمه: څوک چه په ما باندې یو ځل درود اولیږی نو الله په هغه باندې لس ځله رحمت لیږی.

۱۷ مَنْ صَامَ رَمَضَانَ اِيْمَانًا وَّاحْتِسَابًا غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ (بخاری)

ترجمه: چا چه ایمان سره اود ثواب په نیت د رمضان روژه اونیوه نو دهغه تیر شوی ګناهونه به معاف کړې شی.

۱۸ مَنْ حَجَّ لِلّٰهِ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ كَيَوْمٍ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ (بخاری)

ترجمه: څوک چه دالله دپاره حج اوکړی، خپلې بی بی سره پکښې صُحبت اونه کړی اونه پکښې د ګناه کار اوکړی نوهغه دګناهونونه داسې پاک واپس راشی څنګه چه په هغه ورځ پاک وو چه مور زیګولې وو.

۱۹ بَادِرُوْا بِالصَّدَقَةِ فَإِنَّ الْبَلَاءَ لَا يَتَخَطَّاهَا (شعب الایمان)

ترجمه: تلوار کوئ په صداقې ورکولو کښې ولې چه بلا او مصیبت ددې مخې ته نه شی راتلې.

۲۰ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ جَسَدٌ غُذِيَ بِالْحَرَامِ (مشکوة)

ترجمه: جنت ته به هغه بدن نه داخلیږی د کوم پرورش چه په حرامو سره شوې وی.

۲۱ لَعَنَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اٰكِلَ الرِّبٰوا وَمُؤْكِلَهُ وَكَاتِبَهُ وَشَاهِدَيْهِ وَقَالَ هُمْ سَوَآءٌ۔ (مشکوة)

ترجمه: نبی کریم ﷺ په سود خور باندې، په سود خوروُنکی باندې، د سُود په لیکونکی باندې او ددې په ګواهانو باندې لعنت فرمائیلې دې او وې فرمائیل چه دا ټول په ګناه کښې برابر دی.

۲۲ مَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ بِهٖ خَيْرًا يُّفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ (بخاری ومسلم)

ترجمه: چا سره چه الله تعالی د ښیګړې اراده وفرمائی نو هغه له په دین کښې پوهه ورنصیب کړی.

۲۳ خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْاٰنَ وَعَلَّمَهٗ۔ (بخاری)

**ترجمه:** تاسو کښې بهتر هغه څوک دې چه قرآن زده کړی او نورو ته ئې اوښائی.

۲۴ مَنْ دَلَّ عَلٰى خَيْرٍ فَلَهٗ مِثْلُ أَجْرِ فَاعِلِهٖ (مشکوة)

**ترجمه:** څوک چه په يو نيک کار خبرداري ورکړی نو هغه ته به د نيکی کونکی هومره ثواب ملاويږی.

۲۵ جَاهِدُوا الْمُشْرِكِيْنَ بِاَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ وَاَلْسِنَتِكُمْ (مشکوة)

**ترجمه:** جهاد کوئ مشرکانو سره په خپلو مالونو، په خپلو ځانونو او په خپلو ژبو سره.

۲۶ يَدُ اللّٰهِ عَلَى الْجَمَاعَةِ (ترمذی)

**ترجمه:** د الله لاس (امداد) جماعت سره دې.

۲۷ أَلَا كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُوْلٌ عَنْ رَعِيَّتِهٖ (مسلم)

**ترجمه:** واورئ! تاسو ټول نګهبانان (خيال ساتونکی) يئ او تاسو ټولو نه به د خپل خپل رعيت باره کښې (د قيامت په ورځ) تپوس کولې شی.

۲۸ حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ خَمْسٌ رَدُّ السَّلَامِ وَعِيَادَةُ الْمَرِيْضِ وَاتِّبَاعُ الْجَنَازِ وَاِجَابَةُ الدَّعْوَةِ وَتَشْمِيْتُ الْعَاطِسِ۔ (مشکوة)

**ترجمه:** د مُسلمان په مسلمان باندې پنځه حقونه دی. د سلام جواب ورکول. د بيمار تپوس کول. جنازې سره ئې تلل. د هغه دعوت قبلول. د اينګی (انتوشی) جواب په (يَرحَمُكَ الله وئيلو سره) ورکول.

۲۹ مَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ (بخاری)

ترجمه: څوک چه د یو مسلمان عیب پټ کړی نو الله تعالی به د قیامت په ورځ دده عیب پټ کړی.

۳۰ إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِاللّٰهِ مَنْ بَدَأَ بِالسَّلَامِ (ترمذی)

ترجمه: الله تعالی ته زیات نزدې هغه سړې دې چه په سلام اچولو کښې وړاندې والې کوی.

۳۱ اَلْمَجَالِسُ بِالْأَمَانَةِ (مشکوة)

ترجمه: د مجلسونو معامله د امانت غوندې ده.

۳۲ مَثَلُ الْجَلِيْسِ الصَّالِحِ وَالسُّوْءِ كَحَامِلِ الْمِسْكِ وَنَافِخِ الْكِيْرِ (بخاری)

ترجمه: مثال د نیک ملګری او د بد ملګری داسې دې لکه د مشکو اوچتونکې او بهټۍ پوک وهونکې.

۳۳ خَالِفُوا الْمُشْرِكِيْنَ أَوْفِرُوا اللُّحٰى وَاَحْفُوا الشَّوَارِبَ (مشکوة)

ترجمه: د مشرکانو مخالفت کوئ ګیرې اوږدې کړئ او بریت کم کړئ.

۳۴ كَفٰى بِالْمَرْءِ كَذِبًا اَنْ يُّحَدِّثَ بِكُلِّ مَا سَمِعَ. (مشکوٰة)

ترجمه: د سړی دروغژن کیدلو د پاره دومره هم کافی ده چه کومه خبره واوری نو (بې تحقیقه ئې) خلقو ته بیانول شروع کړی.

۳۵ لَيْسَ مِنَّا مَنْ ضَرَبَ الْخُدُوْدَ وَشَقَّ الْجُيُوْبَ وَدَعَا بِدَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ (بخاری)

ترجمه: څوک چه (د مصیبت په وخت کښې) مخ وهی، ګریوان شلوی، او د جاهلیت پشان خبرې کوی هغه زمونږ نه نه دې.

٣٦ مَنْ يَضْمَنْ لِيْ مَا بَيْنَ لِحْيَيْهِ وَمَا بَيْنَ فَخِذَيْهِ اَضْمَنْ لَهُ الْجَنَّةَ (مشکوة)

**ترجمه:** څوک چه ماله دهغه څيز ضمانت راکړي کوم چه دده د دواړو ژامو په مينځ کښې دې (يعنی ژبه) او کوم څيز چه د دواړو خپو په مينځ کښې دې (يعنی شرمګاه) نو زه هغه له دجنت ضمانت ورکوم.

٣٧ لَايَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَاطِعٌ۔ (مشکوة)

**ترجمه:** خپلوی پريکونکې به جنت ته نه ځی (په دخول اولی سره)

٣٨ اَلتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لَاذَنْبَ لَهُ (ابن ماجه)

**ترجمه:** د ګناه نه توبه ويستونکې داسې دې لکه چه هغه هډو ګناه کړې نه ده.

٣٩ اِغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ شَبَابَكَ قَبْلَ هَرَمِكَ وَصِحَّتَكَ قَبْلَ سَقْمِكَ وَغِنَاكَ قَبْلَ فَقْرِكَ وَفَرَاغَكَ قَبْلَ شُغْلِكَ وَحَيَاتَكَ قَبْلَ مَوْتِكَ (مشکوة)

**ترجمه:** پنځه څيزونه د پنځو څيزونو راتلو نه مخکې غنيمت اوګڼړه، ځوانی د خپل بوډا والی نه مخکښې، صحت د خپلې بيمارئ نه مخکښې، مالداری د خپلې غريبئ نه مخکښې، او فارغ والې د مشغوليدلو نه مخکښې او ژوند غنيمت اوګڼړه د مرګ راتلو نه مخکښې.

٤٠ اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالْخَوَاتِيْمِ۔ (بخاری)

**ترجمه:** د ټولو عملونو اعتبار (دارومدار) په خاتمه باندې دې.

يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوْبِ ثَبِّتْ قَلْبِيْ عَلٰى دِيْنِكَ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّبَارِكْ وَسَلِّمْ وَ آخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ

..........